
سلطان شهاب الدین غوری

مؤلف : محمد ابراهیم «ثابت»

۱۳۴۴



ثابت

سلطان شهاب الدین غوری

مؤلف محمد ابراهیم ثابت

۱۳۴۴ د اسد میاشت

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰



سلطان شهاب الدین غوری چه د خپلو
کارنامو له لارې یې پښتانه نسل ته لوی افتخارات
پری ایښی دی .

بسم الله الرحمن الرحيم

د پاك خدای (ج) په نامه ددې كتاب په ليكلو شروع كوم . د غوري پاچهانو كورنۍ له ډيرو پخوانيو زمانو څخه دخپل قوم پښتنو او د افغانستان دهيواد د رياست او پاچاهي كړې ده ـ او دهيواد په سترو مركزو كښې لكه په (باميانو ، غور ، او غزنی كښې او هم په هندوستان كښې) له دغې عالي شانه كورنۍ څخه پاچهانو سلطنتونه كړي دي .

د پښتانه قوم په تاريخ كښې دا كورنۍ خورا ځلانده او لوړ شان لري ـ او د پښتانه قبر تاريخ يې روښانه كړی دی . او پښتون نسل تل ددغې لوړې كورنۍ دافرادو په كار نامو و پاملرنه او فخر كوي .

هغه وخت چه په غزنی كښې دمطبوعاتو مديريت نوی تأسيس شو او د (سنائی) جريدې افتتاح كېدله دنو مو لړې جريدې لومړۍ گڼه خپره شوه . په دغه ورځ د مطبوعاتو دمستقل رياست له خوا د جريدې د نوي پرانيستلو له امله يو هيئت غزنی ته راغلی و ، د افتتاح له مراسو څخه وروسته د دغه هيئت رئيس د مطبوعاتو د رياست رئيس ښاغلی ميوند وال او دهيئت غړي ښاغلي خليلي او ښاغلي بينوا د پښتنو دستر امپراتور (سلطان شهاب الدين غوري) دمزار د كتلو دپاره د (دهك) علاقه دارۍ ته چه دغزنی دښار څخه لمرخاته خواته تقريبا اس ميله

لیږی ده چه په هغه ځای کښې دنو موړی سلطان ارامګاه ده ورغلل . د سلطان دمزار له کتلو څخه وروسته چه نوموړی هیئت بیرته کابل ته ستون شو دمطبوعاتو دمستقل ریاست له خوا دغه سلطان دمزارد نوی جوړولو او پرهغه باندی دګومبزې د جوړولوترتیبات و نیول شول دقبر اوګومبزی په جوړلو پیل وشو. په دغه وخت کښې زه په غزنی کښې دمطبوعاتو مدیروم دنوموړی ریاست له خواماته امر راغی چه دسلطان دمزار اوګومبزی جوړولو په کار کښې نګرانې وکړم . نوما د مزار اوګومبزی دجوړلو په چارو کښې نګرانی کوله .

له دغه وخت څخه ما دنوموړی سلطان دسوانحو اوددوی دژوندانه او کار نامو په پلټلو او څیړ نه لا س پوری کړ . اولکه چه کله کله به موږ اروېدل چه سلطان شهاب الدین غوری دخپل هیواد او دخپل قوم پښتنو د سعادت اولوړولو د پاره ډیر سترستر کارونه کړی دی او دپښتنو په تاریخ کښې یو باب ددغه نامتو شخصیت تاریخی کارنامو اشغال کړی دی .

د نوموړی سلطان دسوانحو له څیړ نې څخه وروسته ماته ښکاره شول چه کوم څه چه به موږ اروېدل هغه د اصلی حقیقت او واقعی یو . نمونه او یوازې نخښه وه. ځکه چه ددوی د ژوندانه په کار نامو کښې داسې امور شته چه موږ هیڅ نه وو اروېدلی او داسې هم شوی دی چه دهغوی کارونه او کار نامې دنورو دپاره پرژبو باندی جاری اومشهوری شوی دی . یعنې داچه د نوموړی پښتانه امپرا تورمهمې چاری لکه چه په نورو پوری تړلی شوی او دنورو دنوم د لوړتیاموجب شوی دی . نوله همدغه امله لازمه ده چه ددغه شخص دتاریخی کارنامو په باب ښه څیړنه وشی چه دهغو حیاتی چاری ښې روښانه اوڅرګندی شې او دپښتانه قوم دا ستراو نومیالی

ښکاره او ښکاره شي چه پښتون قوم په خپل تاریخ کښي د افتخار او ویاړ ني وړ څېزونه لري. نو ما وغوښتل چه د همدغه ستر شخص (سلطان شهاب الدین غوري) د غوره شخصیت او ممتاز حیات په باب کښي ښه څېړنه وکړم.

د سلطان شهاب الدین غوري د کتاب مسوده یوه پلاما بشپړه کړه او د هغې په ترتیب می شروع کوله. خو له بده مرغه د اقیمتي مسودي چه په یو لاسي بکس کښي می ایښي وې له هغه بکس سره ورکې او تلف شوې او دا دوهم واردي چه دا کتاب می بیا تکمیل کړ.

په دې ځای کښي چه زموږ د ستري غوري کورني د یو نامتو او لوی سړي (سلطان شهاب الدین غوري) تاریخي احوال بیانوو په عمومي ډول د دغې کورني او یا په خاص ډول د هغوی د کوم فرد د احوالو بیانولو په باب کښي له مشکلاتو سره مخامخ کېږو ـ ځکه د پخوانیو او تاریخي واقعاتو او تېرو شوو اشخاصو په باب کښي بیان او بحث کول مستندو مأخذونو ته اړتیا لري چه له هغو څخه استفاده وشي د همدغو مأخذونو په استناد انسان خپل مطالب منځ ته راوړلای شي.

او زموږ د غوري کورني څخه وروسته پردې خاوره باندي د مغولو لکه د چنګیز خان هلاکو او ګړ د تیمور غوندي مهاجمو اشخاصو ستر او تباه کوونکي تاړاکونه او چپاړونه راغلي دي. سربېره پر نورو تباه کاریو او خرابکاریو چه د دغو متجاوزینو له خوا په دې وطن کښي شوي دي، کوم تاریخي او ادبي اثار او لیکني چه موجودې وې په ډول د همدغو تهاجماتو په سبب له منځه وړل شوي دي ګراکي د دا ډول پخوانیو اثارو او اسنادو څخه چه مستقیما او نیږدي زموږ د دغې نامداري کورني له احوالو څخه اطلاع راکړي محرومه او بې نصیبه یو. لکه چه د طبقات ناصري مؤلف

منهاج سراج جوزجانی وایی : دامیر بنجی لهعهد څخه د امیر سوری تر عهد پوری دغور دپادشانو احوال پیدا نشول ، ځکه چهدمغولو دفتنی پهواسطه ددغو وطنوټول اثارمحو اوله منځه تللی دی ـ نو بالضرور لهتاریخ ناصری اوله تاریخ هیضم نابی څخه چهپه غور کښی ما لیدلی دی اوځینی نورو څخه چهمو د غور له مشایخو څخه پههند کښی اوریدلی دی پهدې باب استفاده کیږی .(۱)

نو له همدغهٔ امله دیچه پهږیر ربړاو دزیاتو کنجکاویو لهلاری موږ وکولای شو چه ددې ستر اونومیالی امپراتور «سلطان شهاب الدین غوری» دتاریخ پهباب کښې موځهولیکل چه دوطن دافتخاراتو مینه لرونکو تهیی وړاندی کړو . (ثابت)

(۱) طبقات ناصری (۳۸) مخ .

د سلطان شهاب الدین غوری مقام

د سلطان شهاب الدین غوری دشخصیت اوعالی مقام په باب کښې بیان زیات تفصیل غواړی او ددوی د ټولو کار ناموله مطالعه کولو څخه د دوی لوړ مقام څرګندیدای شی .

خو نوموړی سلطان په لنډ ډول یو ادیب معرفی کوی او دهغه لهدغی لاندینی رباعی څخه په اجمالی توګه دهغوی مقام معلومیږی .

رباعی

شهادتِ ملك بحروبر معزالدین (۱)   کزابتدای جهان شه چواو نیامد یك
سوم زغرهٔ شعبان بهسال ششصد ودو (۲)   فتاده دررهٔ غزنین بمنزل دمیك

✿ ✿ ✿

یعنې سلطان (معز الدین) چه د (سلطان شهاب الدین) لقب ورکړشوی دی په ټوله کښې یو غوره اوممتاز شخصیت لاره .

دا سلطان داسلام دمقدس دین یو لوی خدمتګار او اسلام پرور باچا ؤ اوربښتیا چه داعلاکلمته الله له حیثه له راشدینو خلفاوو څخه وروسته پهاسلامی باچهانو کښې ددوی نظیر ډیرکم لیدل کیږی . په تیره دافغان ملت د پاره ددغه پښتانه امپراتور بېساری عالی صفات او کارنامی د افتخاراو مباهات وړدی اودافغان ملت هرنسل به په هروخت اوهرزمان کښې د نوموړی باچا په کار نامو

---

(۱) ـ ددغهفاضل ادیب له دغی وینا څخه څرګندیږی چه دجهان لهاول څخه تردغه وخته پوری دسلطان معزالدین (سلطان شهاب الدین غوری) په څیرکوم پاد شاه نه دی راغلی .

(۲) ـ طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۷۴ مخ .

فخر کوی ۰ ـ دسلطان شهاب الدین غوری مزار په غزنی کښی په (د هك) نومی ځای کښی دی ـ او دغه ځای په خوا وشا خلکو کښی نو موړ سلطان په شهید سلطان مشهور دی . او له قدیمه په دغو خلکو کښی شایع دی :
(داد شهید سلطان مزار دی) او هروخت ددغه شهید سلطان مزار ته خلك ورځی او دهغوی له برکاتو او کراماتو څخه استمداد غو اړی

دسلطان شهاب الدین غوری دنسب سلسله تر سهاك پوری :

د تاریخ فرشته دمؤلف د تفصیل له مخی له سلطان شهاب الدین غوری څخه ترملك شنسب پوری دغوردپاچهانو سلسله او باچاهی چه په ترتیب سره ئی بیان کړی دی په دې ډول دی :

سلطان شهاب الدین غوری بن بهاءالدین سام بن اعزالدین حسین بن سام بن قطب الدین حسن بن محمد بن عباس بن شیث بن محمد سوری بن سوری بن محمد او دغه محمد دامیر بنجی لمسی ؤ .

او له امیر بنجی څخه ترملك شنسب پوری ئی په دې ډول وایی :

امیر بنجی بن نهاران بن درمیش بن درت بن درمیشان بن ترو ترن بن برو تر بن ملك شنسب ۰ (۱)

او زموږ د هیواد سترمورخ علامه (منهاج سراج) جوزجانی چه پخپله په غور کښی روزل شوی اولوی شوی دی . لکه چه دی وایی :

(زه منهاج سراج له کوچنیوالی څخه دسلطان غیاث الدین محمد سام د لور (ماه ملك ملکهٔ جلالی) په حرم محترم کښی وم او ددې ترمبارك نظر لاندی تربیه او لوی شوی یم ۰) او وایی چه (په ۶۰۲ هجری کال ماد ماکه جهان ، ز بیدة العصر ، ماه ملك ، دسلطان غیاث الدین محمد (سام) دلور په حجره کښی هغه کتاب چه د غور پاچانو په تاریخ کښی مولانا مبارك شاه مرورو دی په نظم لیکلی ؤ ولید ، نوموړی مولانا دغه کتاب دغزنی دفاتح سلطان علاءالدین حسین په نامه لیکلی ؤ ۰ او دده دژوندانه له زمانی څخه چه دسلطان غیاث الدین زمانه ده ، دلوی (سهاك) ترزمانی پوری ئی دغوری پاچهانو نسبنامه لیکلی ده ۰ (۲)

او لکه چه منهاج سراج اومولانا مبارك شاه دواړه دغوری شاهانو ددربارسړی وو نو ددوی نسبنامه به چه دوی لیکلی ده صحیح وی ۰

---

(۱) تاریخ فرشته لومړی ټوك ٤ ٥ مخ ۰
(۲) طبقات ناصری ۲۹ مخ ۰

دا نسبنامه په دې ډول ده :

له امیر بنجی څخه :

امیر بنجی بن نهاران بن درمیش بن درت بن درمیشان بن تروترن بن برو تر بن شنسب بن حرنك بن نهیق بن مبشی بن وژن بن هسین بن بهرام بن جحش بن هسن بن ابراهیم بن معد بن اسد بن سداد بن بستام .

بستام بن مهشاد بن نریمان (شیند اسپ ـ سفیداسپ) بن افریدون بن سامند بن سنبد اسپ بن سهاك بن سهراب بن شیدا سپ بن ضحاك بن سیامك بن مرنباس بن ضحاك (سهاك) ملك . (۱)

د پښتنو د لوی امپراتور سلطان شهاب الدین غوري شخصیت لکه چه د نړۍ ته څرګند دی ډیر لوړ دی او ددوی کارنامې او لوی لوی کارونه یواځې د دوی په ممتاز شخصیت او ددوی په لوړ عزم پورې اړه لري نه دا چه دی د یوې ستري تاریخي پاچاهي سلسلې خاوند دی نو دغه منزلت ته رسیدلی دی .

خو دلته ددوی د نسب د سلسلې بیان ثابتوي چه دغه پښتون امپراتور دا ډول سړی ؤ چه د پښتنو په ټبر کښې د دوی سلطنت یواځې پردې بانـدې نه ختمیږي او داسې هم نه دی چه د دوی په سلسله کښې به تنها څو نفره پاچهان تیر شوي وي او له هغوی څخه په رتهږد هغو د کورنۍ او نسبي سلسلې نور نوم نامعلوم او څوك به ئې نه پیژني.

بلکه د سلطان شهاب الدین او دده کورنۍ نسب دومره لوړ او روښانه دی چه څوتر ډیر وزیاتو پېړیو پورې پورته ددوی اجداد طبقه پر طبقه پاچهان او د قوم او هیواد واکوالان تیر شوي دي. په تیره ددوی نیکه «لوی سهاك» پاچا په پخوا زمانو کښې دا ډول پاچا تیرشوی دی چه دنړۍ په تاریخ کښې زیات شهرت لري .

له سلطان شهاب الدین غوري څخه دمخه دغوري کورنۍ ځینې نامتو پاچهان :

ددې دپاره چه د سلطان شهاب الدین غوري په باب کښې پوره معلومات ولرو او د استر شخصیت چه د پښتنو په تاریخ کې ډیر لوړ مقام لري ښه و پیژنو ـ نو باید د هغو پخوانی او ددوی څخه وړاندې ځینې نومیالي چه په دغه سلسله کښې تیرشوي دي هم و پیژنو چه څرګنده شي چه غوري کورنۍ له آره لوړ تاریخي مقام لري او د پښتنو د عظمت او تاریخي برم موجبات په دغې کورنۍ کښې نسبي دي.

---

(۱) طبقات ناصری ۲۹ مخ .

سلطان شهاب الدین غوری چه د غوریانو د سترې کورنۍ یو معروف او نامتو د ر ه پاچا وو تر دوی پخوا په دغې کورنۍ کښې څېنې نور هم داسې لوی او میالي پاچهان تیر شوی دی چه د دغې پښتنی کورنۍ عظمت او شان یې لوړساتلی دی .

او د هغو د څېنو لویو او نامتو پاچهانو یادونه او اجمالي بیان هم له فایدې څخه خالي نه دی ځکه د دوی هر یو د پښتانه تیږمشران او د هغوی د شان او شوکت نخښې او د هغو تاریخي شهامت یې ساتلی دی او هر یوه پر خپل وار د پښتون قوم او د هغو هیواد ته لوی لوی خدمتونه کړی او د هغو د هیواد پالنه یې کړې ده .

دغوری پاچهانو پخوانی نیکه سهاك :

دغوري پاچهي کورنۍ تاریخي قدامت ډیر پخوانی او قدیم دی او تاریخ نه د ه جوړ د لي چه د دوی لومړ نیو اشخاصو په کومو زمانو کښې ژوند کاوه او په کومو پیړیو کښې تیر شوی دی .

لکه چه انګلیسی مستشرق (لین پول) پخپل (طبقات سلاطین اسلام) نومی کتاب کښې لیکي: له ډیرو لرغونو زمانو څخه چه تاریخ یې نشي محدود کولای په غور کښې یوه کورنۍ مستقل سلطنت درلود او د اسلام په اول کښې هم دوی مستقل او خپلواکي پاته شول (۱)

د لته موږ د دغې کورنۍ د یو پخوانی معروف شخص (سهاك) څخه چه د دوی پسه اجدادو کښې معروف شخصیت او تاریخي شهرت لري او د منځنۍ ایشیا ټولو تاریخو له هغه څخه بحث کړی دی لنډ بیان کوو ، او که د دغه شخص د ژوندانه ټول حالات چه څېنې برخې یې افسانوی رنګ لري و لیکل شي البته یو ځانګړی او مکمل کتاب به ور څخه جوړ شي خو د لته د هغو د ژوندانه یوازې هغه حالات چه د تاریخي کتابو له مخې مستند او حقائیق وی لیکو :

د سهاك د نسب سلسله:

طبري لیکی : بیوراسب هو الازدهاق والعرب یسمیه الضحاك وتذ کر . انـه بیوراسب بن ارو نداسب بن زنیکا بن ویرد شك بن تاز بن فراوك بن سیامك بن مبشی بن جیومرت (۲) او طبری راوړی چه د نوموړی نسب حام بن نوح (ع) ته رسیږی . (۳)

---

(۱) آریانا دائرة المعارف ۳ جلد ۲۵۱۲ مخ

(۲) تاریخ طبری اول جلد ۲۰۲ـ۲۰۳ مخونه .

(۳) تاریخ طبری اول جلد ٤٤ مخ

البیرونی لیکی : ضحاك (سهاك) بن علوان وهو بیوراسب بن زنیکا بن بویشند بن غار بن فراوك بن سیامك (۱).

حمزه اصفهانی لیکی : بیوراسپ بن اروند اسپ بن ریکاروث بن ماده سر بن تاخ بن فراول بن سیامك . (۲)

د تاریخ کامل مؤلف د بیوراسپ د نسب سلسله په دې ډول وائی:

بیوراسب بن اروند اسث بن زنیکا بن وندریشك بن یارین بن فروال بن سیامك بن میشی بن کیومرث . (۳)

د طبقات ناصری مؤلف لیکلی دی:

ځینی مورخین وائی د ضحاك نوم بیوراسپ ؤاو ده نسب دا ډول ښئی :

بیوراسپ بن اروند اسپ بن توخ (٤) بن کابه بن نوح (ع).

او ځینی وایی : بیوراسپ بن اروند اسپ بن زنیکا بن تازیو نرسد بن تر اول بن سیامك بن میشی بن کیو مرث بن آدم (ع)

او ځینی وائی :چه ضحاك ته له دې جهته ضحاك تازی وایی چه دی د (تاز یو نر سد) لمسی ؤ . (۵)

د لوی سهاك په نسبنامه کښې نومونه په مختلفو اشکالو او ډول ډول را غلی دی ځکه د دومره پیړیو اوزمانو تیریدلو اوزیات قدامت په اثر هرومرو د نومونو په نقل کښې تغیرات او تحول راغلی خو د تاریخ طبری دا قول چه د سهاك د نسب سلسله (حام) بن نوح (ع) ته رسیږی پنه حقیقت دی ځکه قول مؤرخین او دانسابو لیکونکی پر دې خبره اتفاق لری چه دارین توکم د (حام) بن نوح ځوځات دی، اوچه سهاك د پښتنو ستر نیکه او د پښتنو د یوې نامداری کورنی چه د غوری باچاهانو کورنی ده د نسب سلسله د غه سهاك

---

(۱) آثار الباقیه ۱۰٤ مخ

(۲) سنی ملوك الارض ۲٤ مخ.

(۳) تاریخ کامل اول جلد ۳۲ مخ.

(٤) توخ او تاخ نومونه د غوری شاهانو په سلسلو کښی راغلی او پخوانی اریائی نومونه دی او په همدغه ډول د پښتنو د یوې ستری طایفی نوم (توخی) راغلی دی چه د دوی نیکه (توخ) بن بارو بن غرجی بن شاه زاده حسین غوری ؤ.

(۵) طبقات ناصری ۳۰ مخ.

تەرسیږی او پښتانه چەد آرین قبر اوله اول څخه تر اوسه پوری د آرین قوم په اصلی مځکه او وطن (آریانا ویجه) کښې میشته او قاقوبی لری.

او قول پوهان پەدې متفق دی چه پښتانه د آرین توکم ښاخ دی. نودا قول اصح او حقیقت دی چەدسهاك نسب یی «حام» بن نوح ته رسولی دی.

دسهاك دژوندانه حالات :

د آریانا دائرةالمعارف څخه :

دغوری کورنۍ دستر نیکه (سهاك) نوم پەقد یمو آثار و کښې په مختلفو اشکالو ذکر اویاد شوی دی مثلا دهغه اوستائی نوم (ازهی داهاك دی - اوپەویدی دوره کښې (آهی Achi) ذکر شوی دی. اوپه ادبیاتو اوتاریخ کښې یی هم پەڅول ډول شکلونو اومختلو مفهو موترنن ورځی پوری دوام کړی اوشته دی.

لکه چەداوستا په متن کښې په (٥ یشت ٢٩ فقره) کښې هغەته ددری خولی نسبت شوی دی او دده دزور اوکامل قدرت اوشوکت لەامله یی لەدری سرما رسره دهغه تشبیه کړې ده چەپەاخیر کښې پر (یاما) پادشاه (جمشید) (١) باندی یرغل کوی او پرهغه بری پیداکوی اووژنی یی. اوداوستاد همدغه (یشت) پەاخیر کښې (ازهی داهاك) (سهاك) له (یاماپادشاه) څخه وروسته یاد شوی دی اودهغه یشت (٢٩) فقرەداڅول شرح کوی:

(ازهی داهاك) چەدری خولی لری د(بوری (٢) Bowri) پەهیواد کښې سل نراسونه اوبوزرنر غوایی اولس زره پسونه الله (اناهیتا) تەتقدیم کړل.

---

(١) جمشید دیومشهور اومعروف پادشاه نوم دی پەاول کښې دده نوم جم ؤ یعنی ستر سلطان اولەدې جهته یی جمشیدو باله چەکوم وخت جم پەسیاحت وتلی ؤ ازربایجان ته چەورسید داسی ورځ وه چەلمر دحمل اولی نقطی تەراغلی ؤ اوده یو مرصع تخت ځانته جوړ کړ او پرلوړ ځای یی کښېښود او مرصع تاج یی هم پرسر کښېښود او پر دغه تخت کښېنا ست کله چه لمر راوخوت دلمر شعاع او نورده پرتاج اوتخت ولوید اودلمر شعاع هم خوراز یاته اوروښانەوه اوچه پەپهلوی ژبه شعاع ته «شید» وایی نو بی دشید لفظ ورزیات اوورسره یوځای کړ اوجمشید بی ورته وو یل یعنی رو ښانه پادشاه دده نوم شو او په دغه ورځ بی لوی جشن وکړ او پردغه ورځ یی دنوروز ورځ نوم کیښود او تر اوسه پوری پەایران کی ددوی دپخوانی معروف پاچاجمشید په افتخار دنوروز دورځی دلمانځنی رسم رواج لری. برهان قاطع (١٢٠) مخ.

اوو يې غوښتل چه د نړۍ داوو اقاليمو پادشاهي پهلاس ورشي خود ده داغوښتنه په ځای نه شوه

د مخه وويل شول چه د (ازهي داهاك) ابتدا حتى د ويدى دورى ته هم رسيږي نوكه نوموړى (ازهي داهاك) د (ويد) د (آهي) او (اندرا) سره مقايسه اومقابله کړو نو به وينو چه د (ضحاك ـ سهاك) کارونه دارياىي طبيعي اساطير و (بيولوژي) ته رسيږي . او په نورو رواياتو کښې چه تاريخي جنبه لري (ازهي داهاك) يو پادشاه چه د (ياما جمشيد) سره يې مخالفت اودښمني لرله او هغه يې وژلى او د هغه پادشاهي يې نيولې ده (۱)

داسلامي دورى دمورخينو بيانات :

دسهاك په باب کښې ترميلاد دمخه لکه چه په اوستا کښې بيان شوى دى له هغه وروسته زمانو کښې يعنې داسلام دعصرمورخينو هم له هغه څخه بحث کړى او دهغه داحوالو يې ښه توضيح کړې ده .

جامع التواريخ ليکي :

هغه وخت چه دايران پاچا جمشيد دخداى (ج) له پرستش څخه مخ واړاوه او پخپله يې دخدايې دعوه وکړه او خلك يې دخپل پرستش دپاره دعوت کول او د توحيد خاوندان يې وژل او په مناهيو مشغول شو . نو دجمشيد پاچا دغرور اومظالمو له امله خلك په تنگ شول په همدغو وختو کښې ضحاك (سهاك) چه يو خوراغښتلى او نامتو پاچا ؤ ـ دجمشيد دولس په غوښتنه پرجمشيد باندى يرغل راووړ او دهغه سلطنت يې ورڅخه ونيو څو موده وروسته جمشيد هم دسهاك پهلاس ورغى اووېې واژه (۲)

ابن بلخي ليکلي دي :

بيوراسپ بن اروند اسپ هغه پادشاه ؤ چه د جادو په ذريعه به يې خپل ځان داژدها په بڼه ښکاره کاوه او له همدغه امله يې اژدها باله .

اوپه ټولو رواياتو کښې نوموړى دجمشيد دخورزوى ؤ .(۳)

ابن خلدون ليکي :

جمشيد دالوهيت دعوه وکړه او خلك يې خپل پرستش ته رابلل .

---

(۱) آريانا دائرة المعارف ۳ جلد ۲۰٦۱ مخ (۲) جامع التواريخ ۷۵ مخ .
(۳) فـارسنامه ۲۸ مخ .

اول دده وروړ (استویر) ورته یورته شوخوجمشید هغه‌محوکی بیا «بیوراسپ» پرغلل باندی راووړله د هغه یی پاچاهی ونیوله . (۱)

ابن جریر طبری وایی :

له‌نوح (ع) څخه وروسته یوزر کاله تیر شول چه په ټولو ځمکه کښی پاچانه ؤ له‌زرو کالو څخه بعد د(حام) بن نوح (۲) له نسل څخه یو پاچا پیدا شو نوم یی (ضحاك) ؤ نومو ړی پاچادجادو عالم ؤ او ټول جهان یی تصرف کی ،اوددغه ضحاك پر دواړو اوږو باندی دوی اوږدې دانې وې دمار په‌څیره اوخلکو ته به دمار په‌څیره ښکاریدې اوخلك ور څخه ویریدل نو ځکه یی هغه اژ دها باله

اوعربو داپاچا ضحاك باله .مغان وایی چه داپاچا «بیوراسپ» او د دنیا پاچا هان یی وو ژل (۳)

په تاریخ کامل کښی راوړی :

جمشید یو مقتدر اود کمالاتو خاوند پادشاه ؤ او دده ټول ترقیو خاوند ؤ اوټول ټول نعمتو نه‌ورته‌حاصل وو . په پای کښی دخپل شان اوشوکت او دخدای تعالی دنعمتونو له کبله ډیر مغرور شواو در بوبیت دعوه یی وکړه . نو نومو ړی خلك را غونډ کړل او داټول ویناییورته وکړه :

(زه ستاسی باداریم او داټول نعمتونه زه تاسی ته‌درکوم او تاسی له‌ناروغیو څخه ساتم .) او پر همدغه غروراوغوایت ټینګك شواو هیڅانه ته‌حواب نشوور کولای

خواول دجمشید وروړ چه (اسفیور) نومید پر جمشید حمله وکړه چه وبی وژنی خو کامیاب نه‌شو . وروسته بیور اسپ چه‌ضحاك یی باله خبر شو پر جمشید یی یرغل وکی جمشید . ور څخه وتښتید او پاچاهیی له جمشید څخه‌ونیوله بیا یی هغه‌هم پیداکړاو وبی واژه .(٤)

---

(۱)- تاریخ ابن خلدون ۲۳۰ مخ .

(۲) - طبری لیکی‌چه ضحاك (سهاك) دحام بن نوح له‌نسل څخه دی لکه چه اهل فرنګ اوحبش اوهند یان هم دحام نسل بولی .

(۳) ــ تاریخ طبری اول جلد ٤٤ مخ .

(٤) تاریخ کامل اول ټوك ۲۹ مخ

فردوسي د ضحاك او جمشيد ترمنځ شخړه په دې ډول بيانوي :

منی کرد آن شاه یزدان شناس   ز یزدان به پیچید و شد ناسپاس
گرانمایه گان راز لشکر بخواند   چه مایه سخن پیش ایشان براند
چنین گفت باسالخورده مهان   که جز خویشتن را ندانم جهان
هنر در جهان از من آمد پدید   چو من تاجور تخت شاهی ندید
جهان را بخوبی من آراستم   چنان گشت گیتی که من خواستم
خور و خواب وارامتان ازمنست   همان پوشش کامتان از منست
بزرگی و دیهیم وشاهی مراست   که گوید که جز من کسی پادشاست
بدارو و درمان جهان گشت راست   که بیماری و مرگ کس رانکاست
جز از من که برداشت مرگ از کسی   دگر بر زمین شاه باشد بسی
شمارا ز من هوش و جان در تنست   بمن نگرود هر که اهرمنست
گر ایدون که دانید من کردم این   مرا خواند باید جهان آفرین

په خلکو کښې د جمشيد د وينا اغيزه:

خلکو چه د جمشيد داوينا و اوريدله ټول په انديښنه کښې شول او چه له ده سره يې قوه نه وه برابره چه ځواب يې ووايي نو زيات انديښمن شول .

همه موبدان (۱) سر فگنده نگون   چرا کس نیارست گفتن نه چون
چو این گفته شد فر یزدان ازوی   گسست و جهان شد پر از گفتگوی
هران کس ز درگاه برگاشت روی   نماندی به پیشش یکی نامجوی

په نتيجه کښې چه خلك له جمشيد څخه ټپراشول اوور څخه وګرزيد نو ده ته زيان واوښت او ناکام شو .

به جمشید بر تیره گون گشت روز   همی کاست زو فر گیتی فروز
همی راند از دیده خون در کنار   همی کرد پوزش بر کردگار
همی کاست ازو فرهٔ ایزدی   بر آورده بر وی شکوه بدی

له دې وروسته چه خلك له جمشيد څخه روی ګردان شول او دی يواځې پاته شو نو حريف پر غالب او سلطنت ور څخه و لاړ .

---

(۱) داناو عالم ـ پوهاند ـ افغان قاموس ۴۵۷ مخ ـ

ازان پس برآمد از ایران خروش　　پدید آمد از هرسوی جنگ وجوش (۱)
سپه گشت رخشمنده روز سپید　　گسستند پیوند از جمشید
پدید آمد از هر سوی خسروی　　یکی نامجوی ز هر پهلوی
سپه کرده و جنگ را ساخته　　دل از مهر جمشید پرداخته
یکایك از ایران بر آمد سپاه　　سوی تازیان بر گرفتند راه (۲)
شنودند کانجا یکی مهتر است　　پراز هول شاه اژدها پیکر است
سواران ایران همه شاه جوی　　نهادند یکسر «بضحاك» روی
به شاهی برو آفرین خواندند　　ورا شاه ایران زمین خواندند
کی اژدها فش بیامد چو باد　　بایران زمین تاج بر سر نهاد (۳)
از ایران واز تازیان لشکری　　گزین کرد گرد ان هر کشوری
سوی تخت جمشید بنهاد روی　　چو انگشتری کرد گیتی بروی
چو جمشید را بخت شد کندرو　　بتنگ آورید ش جهاندار نو
برفت وبد وداد تخت و کلاه　　بزرگی و دیهیم و گنج و سپاه
نهان گشت وگیتی بروشد سیاه　　سپرده بضحاك تخت و کلاه (٤)

دغور یانود نیکه نومونه (سهاك ـ ضحاك ـ بیور اسپ)

دغوری سلطنتی کورنی[*] پخوانی نیکه چه تاریخی شهرت لری مورخینو په ډول ډول نوموياد کړی دی او په هرنامه چه کوم واقعات شرح شوی دی ټول یو رنګه او پرهغه یو معروف شخص باندی تطبیق کیږی . لکه چه وړاندی یادشو ترمیلاد له مخه زمانه کښی په اوستا کښی داشخص د «ازهی داهاك» په نامه یاد شوی دی. اوله هغه وروسته داسلامی عصر مورخینو په دغو پورتنیو دری نومو نوياد کړی دی .

اوس به په تفصیل سره هغه مأخذونه وښیو چه دادری نومونه یی راوړی دی:

---

(۱) څرګنده کړي ده چه جمشید دایران پادشاه ؤ .
(۲) ـ یعنی دضحاك تازی خواته شول تازیان دضحاك تازی طرفدار نوته ویل کېده
(۳) څرګنده شوه چه جمشید دایران پاچا ؤ او سهاك هلته ایران ته ورغی دهغه دپاچاهی تاج یی پرسر کېښود .
(٤) ـ شاهنامه فردوسی اول ټوك ۳۱ مخ .

سهاك :

پښتانه دغوري پاچاهي کورنۍ ددغه معروف نيکه اصلي او محضه نوم(سهاك) وايي . محکه په پټه خزانه کښې داسې ليکلي دي :

نقل کاز بدة الواصلين شيخ کټه متي زی غوريا خيل پخپل کـتاب (لرغونی پښتانه)کښې چه دې نقل کاله (تاريخ سوری) څخه چه په بالشتان کی يې موندلی او کتلی ؤ . شيخ کټه عليه الرحمه چه په تاريخ سوری کی راوړی:چه امير کروړ د امير پولاد سوری زوی په کال(۱۳۹) سنه هجری دغور په منديش کی امير سو. اووايي چه دغور کوټونه اود بالشتان او خيسار او تمران ماڼۍ او برکوشك يې قول ونيول اودرسالت له کهول سره يې په خلافت کی ډير کومکونه وکهل .

او عشرت په تاريخ سوری کی راوړی : چه دا اميران له پيړيو په غور او بالشتان او بست کی وو اودغه (سور) نومی اولاده دی چه د(سهاك) له پښته ؤ (۱)

په پټه خزانه کی د پښتنو د لرغونو آثارو (لرغوني پښتانه) او(تاريخ سوری) په حواله د دغه تاريخي شخص نوم (سهاك) راغلی دی .

اود « سهاك » نوم له پخوا زمانو څخه په پښتنو کی هم مروج اوشته. او پر طبقات ناصری باندی په تعليقاتو کی ښاغلی عبدالحی حبيبی هم دا موضوع ښه څيړلی ده . د « هيرودوت» وينايي راوړی ده چه :

(ساکا) له اريائی عشايرو څخه هغه خلك وو چه د سيستان محکوته راغلل او داندوس ترسيند پوری ځمکی يې تصرف کړلی بيايې په دغو ځمکو کی استوګنه غوره کړه اوددغی سيمی پخوانی اولرغونی نومونه (درنګيانا اوزرنګا) متروك سول او دهمدغو خلکو په نامه (سکستان) موسومه سوه (۲) اوعربو بيا دغه نوم معرب کړی په (سجستان) يی اړولی دی .

او ساکهسا چه له معروفو آريائی قبايلو څخه وو البته په دغه نامه سره مشهور اشخاص او قبايل هم موسوم او مشهور سوی دی لکه «سهاك» مشهور تاريخي شخص اود ساکزو قبيله چه له پخوا زمانو څخه يی په سيستان کښی سکونت درلوداو سکستان چه وروسته سيستان شوی دی هم ددوی په نوم موسوم ؤ اود زمانو اود هورو په مرور

---

(۱) پټه خزانه ۳۱ مخ

(۲) ـ جغرفيای تاريخي بارتولد ۲۵ـ۶۳ـ۱۲۰ مخونه .

دهغه په عوض یی داسحق زی نوم شهرت موندلی دی . (۱)

ضحاك :

دغوری پاچاهانو د نیکه نوم لکه چه ومو ویل ترمیلاد له مخه لرغونو آثارو لکه «اوستا» (ازهی داهاك) ضبط کړی دی . او پښتانه دهغه اصلی نوم(سهاك) وایی خو داسلامی دوري مورخینو په ټولو موارد وکښې هغه د«ضحاك» په نوم یاد کری دی او دهغه همدغه نوم زیات تاریخی شهرت موندلی دی .

لکه چه تاریخ طبری لیکی : « ضحاك» دحام بن نوح(ع) له اولادي شخه ؤ .

او طبقات ناصری لیکلی دی : دغوری پاچهانو ستر نیکه «ضحاك» ؤ .

په روضة الصفا او تاریخ فرشته کښی را وړی چه دغوری شاهانو د نسب سلسله «ضحاك» نومی پادشاه ته رسیږی .

اوفر دوسی طوسی هم پخپله شاهنامه کښی دغه شخص د« ضحاك » په نامه یاد کړی دی .

اما حقیقت داسی دی چه د دغه تاریخی معروف او مشهور شخص نوم لکه چه پښتانه وایی «سهاك» ؤ او یالکه چه په اوستا کښی راغلی دی (ازهی داهاك) ؤ او دغه دواړه آریایی باستنانی نومونه دی خو چه په اسلامی دوره کښی باستانی آریایی عجمی آثار د عربی مورخینو لاس ته ورغلل نو اکثر داډول عجمی نومونه هغو عربی ته اړولی او معرب کړی یی دی چه (ازدهاك ـ یاازهی داهاك یاسهاك) یی په ضحاك معرب لفظ بدل کړی دی .

اولکه چه عربو سکستان په سجستان او ګرمسیر په جروم ـ او ګوزګان په جوزجان او سرپل یی په راس القنطره تبدیل کړی دی. او نور داډول نومونه یی له عجمی شخه عربی ته اړولی دی .

او په دي مورد کښی هم ځینومورخینو داسی وینا کړي ده چه دغه شخص عربو د « ضحاك» په نامه یاله .

جامع التواریخ لیکی :

د پرجمشید یرغل کوونکی پاچا اصلی نوم (دآك) عجمی دی او عربـو په (ضحاك) اړولی دی او په تازی ځکه ملقب شو ی دی چه لس زره تازی اسونه به یی

---

(۱) ـ تعلیقات برطبقات ناصری ۷۷۵ مخ .

هروخت په طویله کښې ساتل او بیوراسپ هم دهغه نوم دی . (۱)

تاریخ طبری راوړی :

مغان وایی چه داپادشاه بیوراسپ ؤ اوعربوهغه ضحاك باله (۲) .

ابن‌خلدون لیکلی دی :

پرجمشید یرغل کوونکی پاچا بیور اسپ ؤ او هغه ازدهاك ؤ اوعربو هغه د(ضحاك) په نوم باله . (۳)

بیور اسپ :

دغوری پاچاهانود پخوانی مشهورنیکه سهاك لقبی‌نوم (بیوراسپ) ؤ اودهغه دپلار نوم (اروند اسپ) (٤) ؤ .

ډیرو مور خینو نوموړی سهاك د بیور اسپ په‌نامه ضبط کړی دی .

طبقات ناصری د مقدسی په حواله لیکی :

دهغه پاچا نوم چه پرجمشید یی یرغل وکړ (بیوراسپ) ؤ (۵)

تاریخ‌طبری أوابن بلخی اوابن خلدون‌دهغه نوم (بیوراسپ) ضبط کړی‌دی .

ابن اثیرلیکی :

دضحاك اصلی‌نوم ازدهاق‌دی اوبل نوم ئی (بیوراسپ)دی(٦)

البیرونی لیکلی دی :

مورخینو دهغه پاچا نوم چه‌له جمشیدسره ئې دښمنی‌لرله(بیوراسپ) لیکلی‌دی او«بیور» دلس‌زره معنا لری اوله دی جهته چه‌ضحاك به‌هروخت لس‌زره‌اسونه‌سمبال ساتل نو بیوراسپ وباله‌شو (۷).

---

(۱) جامع التواریخ ۷۵ مخ .

(۲ـ تاریخ طبری اول جلد٤٤ مخ .

(۳) تاریخ ابن خلدون ۲۳۰ مخ .

(٤) اروند د ښایسته په معنادی پرهنگک انګلیسی حییم ۷۱ مخ .

(۵) طبقات ناصری د کابل چاپ ۱٦٦ مخ .

(٦) تاریخ کامل اول‌جلد ۳۲ مخ.

(۷) آثارالباقیه ۳۰مخ .

فردوسی وایی:

که مرداس(۱) نام گرانمایه بود ... بداد دهش برترین پایه بود
مر اورا ازدو شدنـی چار پای ... زهریك هزار آمدندی بجای
بز و اشتر و مـیش را همچنین ... بدوشیدگان داده بدپاك دین
همان گاو دوشان بفرمان بری ... همان تازی اسپان همچون پری

بیوراسپ:

پسر بود مراین پاك دل رایکی ... کش از مهر بهره مند اند کی
که پور (۲) ورانام ضحاك بود ... دلیروسبك سار و چالاك بود
(بیور اسپش) همی خوانـدند ... چنین نام بر پهلـوی رانـدند
کجا (بیور) از پهلوانی شمار ... بود برزبان دری (۳) ده هـزار
از اسپان تازی بر زیـن سنام ... ورا بود (بیور) که بردند نام
شب و روز بودی دو بهره بزین ... ز راه بزرگی نه از روی کین(٤)

دشاهنامی مؤلف او نورو مؤرخینو دضحاك لقبی نوم (بیوراسپ) ویلی دی او په شاهنامه کښې ذکر شوی دی چه «بیور» په پهلوی ژبه دلس زره په معنا دی او دغه پاچا به هم هروخت لس زره اسونه پخپله تبیله کښې سمبال ساتل نو ځکه یی (بیوراسپ) باله.

اودری ژبه د بلخ او بدخشان مروی او بخارا دخلکو ژبه او یوه آریایی باستانی باختری ژبه ده.

او داسپ کلمه هم یوه خاصه باختری کلمه ده چه د باختر پاچاهانو او نورو باختری خلکو به د ځان د پاره استعمالوله، لکه چه د باختر په تاریخ کښې واضح ده.

او په دې مورد کښې دضحاك او د ده د پلار د پاره د «اسپه» د کلمې استعمال ثابتوی چه

(۱) دضحاك د پلار اصلی نوم مرداس دی او لقبی نوم یی اروندسپ دی یعنې دښا یسته اسونو خاوند.

(۲) پور دجور په وزن دزوی په معنا دی برهان قاطع ۹۷ مخ.

(۳) دری ژبه باستانی پارسی ده چه څوك یی په فصیحه ژبه تعبیر کوی هر لغت چه بی نقص وی هغه دری بولی او دغه دری ته منسوبه ده او د بلخ، بدخشان، مروی او بخارا دخلکو ژبه ده برهان قاطع ۱٦۳ مخ.

(٤) شاهنامه فردوسی اول ټوك ۲۹ مخ.

د بېور اسپ نوم یو باختري آریایي باستاني نوم دی او په باختر کښې د باختر د خلکو له خوا وضع شوی دی.

او همدا پاچاهان «سهاک» او د ده پلار «مرداس» چه د اسپه لقبونه یې د پخوانی باختري مود او دستور له مخې د مخانو د پاره غوره کړی دی باختري پاچاهان وو او په دې خاوره کښې تیر شوی دی.

دسهاك پایتخت او د پاچاهی اصلی مرکز بامیان ؤ:

بامیان د افغانستان یو لرغونی ښار دی او زیات تاریخی او لرغونی آثار اوس هم د بامیانو په پخوانی زاړه ښار کښې شته او د دنیا له ممالکو څخه د دغو لرغونو آثارو د کتلو او ننداری د پاره په هر وخت کښې دغه ښار «بامیانو» ته سیاحان راځی.

د بامیانی د ښار جغرافیائی موقعیت:

د افغانستان د داخله وزارت په اوسنی تشکیل کښې د «بامیان» ښار د ولایت مرکز دی بامیان د دوولو یو غرو هندوکش او د بابا د غرو په مرکزی لمنو کښې په ۶۷ درجو ۲۹ دقیقو ۴۱ ثانیو شرقی طول البلد او په ۳۴ درجو ۳۳ دقیقو ۲۲ ثانیو شمالی عرض البلد خطوطو پروت دی.

او د ۲۴۵ کیلو مترو په فاصله د کابل په شمال غرب کښې په پخوانی او قدیمی کاروان لاری چه بلخ له کاپیسا سره نښلوی پروت دی.

بامیان د آئین او ارت او مستظرفه صنایعو او مراو دوله نقطه نظره زیات اهمیت لری په پخوا زمانو کښې د بودایی آئین مرکز ؤ له همدغه حیثه بامیان جهانی شهرت لری.(۱)

دضحاك(سهاك) پخوانی کلا یا ښار:

د بامیانو د ولایت د اوسنی مرکز له مرخاته خواته (۱۷) کیلو متره لیری د (ضحاك) (سهاك) ښار دی او د بامیانو د سیند او به چه د (کالو) د دری له او بو سره یو ځای کیږی د غره پر یوه لوړه سره رنگی پوزه باندی دا ښار جوړ شوی دی د سهاك د ښار او کلا برجونه او زاړه دیوالونه او بقایا او خرابی ترننه ورځی پوری لا هم معلومی او ښکاره دی شته او ښکاره دی چه یو خوراډیره مستحکمه کلا به وه.

او د دغه ښار او کلا یوه برخه او برجونه چه د (کالو) دری ته مخامخ پراته دی

---

(۱) آریانا دائرة المعارف ۱۶ ټوک ۷۶ مخ.

د(نریمان‌بنار)(۱) په نامه شهرت لری او دا پخوانی او لر غونی زوړاو خرابه او کنډو واله بنار په خلکو کښې د(ضحاك یاضحاك‌ماران بنار) په نامه یادیږی .(۲)

او دضحاك اوضحاك ماران دنوم له یادونی او بقا څخه ثابتیږی چه‌دابنار ډیر پخوانی تاریخی‌مشهور پادشاه «سهاك»معروف په‌ضحاك دپاد شاهی اصلی مرکزاو پایتخت ؤ .

بستام‌هم بامیان ته‌راغلی دی :

په‌طبقات ناصری کښې راوړی چه‌مور خینو لیکلی دی‌چه «بستام» نومی باچا دضحاك (سهاك) له‌اولادی څخه‌ؤ اود نوموړی ضحاك له‌خوا‌دهندوستان د هیو اد باچاؤ کوم وخت چه‌ضحاك پاچا دافریدون له‌خوامغلوب او له پارس څخه اخراج اومحوشواوافریدون بیا پر هندوستان باندی لښکر کښې وکړه او«بستام» دهندوستان پاچا چه دافریدون دمقابلی توان نه‌درلود نو له‌هندوستان څخه‌راوتښتید(باميا ن) ته راستون شو .

اوچه افریدون بیاقصد وکړ چه په بستام پسی بامیان ته‌هم لښکری و استو ی اودضحاك (سهاك)محومات بستام‌هم محوکړی په‌دی‌وخت کښې دافرید ون دووزامنو «تور ـ اوسلم» خپل‌ورور (ایرج» چه‌دافریدون گران زوی ؤوواژه نوافریدون پخپل غم شو له بستام‌سره له‌مقابلی څخه یی‌صرف نظر کړ.او بستام‌هم فارس ته‌معتمدان واستول له‌افریدون سره یی سو له وکړه .

بستام چه له‌افریدون څخه یی غمه شونودخپل هیواد په‌ودانولواوآبادی یی پیل وکړ (۳)

آریانادائرةالمعارف راوړی دی:

تراسلام دمخه غوری سلطنتی کورنی .په‌غور کښې محلی حکومت درلود اود (سوری) حکمرانانودکورنی په‌نامه یاد یده .

اوتراسلام دمخه‌زمانو کښې ددغی کورنی‌محینی‌مشهور پاچاهان(بستام‌اوشماخ‌سوری) دی

---

(۱) نریمان هم د سهاك له اولا د ی څخه یو پا چا ؤ تا ر یخ فرشته ٥٤ مخ خورشید جهان ۲۰۸ مخ .

(۲)رهنمای بامیان ۳۷مخ.

(۳) ـطبقات ناصری ۲۳ مخ‌تاریخ فرشته ٥مخ ٥

او خراسانی فردوسی دهغو نومونه یادکړی دی (اووایی چه)«بستام» دهندوستان باچاؤ پهآخر کښې بیرته خپل وطن (بامیان) تهراغی(۱) د (کل شیء یرجع الی اصله) پهمصداق (بامیان) چهد بستام دپلار اونیکه سهاك ځای او وطن ؤاو بستام دسهاك محو محات ؤ . نود طبیعی مجبوریت لهمخی نوموړی خپل پلارنی او دنیکه گانو وطن بامیان ته راغلی دی .

اودا واقعه چه مورخینوضبطه کړې ده ثابتوی چهدسهاك مشهور په ضحاك اصلی وطن باختر او بامیان ؤ .

تاریخ فرشته لیکی :

هغه وخت چه داعزالدین غوری لهمړینی څخه وروسته دده او وزامنو « چه په اووستوریو »مشهور دی خپل هیواد پخپل منځ کښې تقسیم کاوه اوددوی دخپل مشرورور (فخرالدین مسعود سام» داعزاز اواکرام لهجهته«بامیان»چه دغوری پاچاهانو دپلرواو نیکه گانو پخوانی د سلطنت مرکز او پایتخت ؤنوموړی فخرالدین ته ورکړ «۲» .

لهدغی تاریخی واقعی څخه هم محرگندیږی چهد بامیان ښار دغوری شاهانو دلوی نیکه سهاك دسلطنت مرکز ؤ .

امام طبری اودطبقات ناصری مؤلف جوزجانی رائړی :

دمشرق لهخوا یو پادشاه چه نوم یی « بیوراسپ»ؤ راغی اوخورا ډیره سپاه ورسره وه اود جمشید لښکر وته یی ماتې ورکړه بیاهغه ځای تهورغی چه هلته «جم» اوسیدو پهدغه وخت کښې جم په«طبرستان» «۳» کښې ؤ . د بیوراسپ له رسیدوسره سم جمشید وتښتید پنځه شو خو بیوراسپ هغه پهلاس راووست اوویی واژه.اود جمشید پاچاهی بیوراسپ ته په لاس ور غله «٤» .

«۱»ـ آریانا دائرة المعارف ۳ جلد ۲۳۹٦مخ .

(۲) تاریخ فرشته اول ټوك ۵۵ مخ

«۳» ـطبرستان دایران یوولایت ؤ برهان قاطع ۲۵۳مخ .

(٤) ـ تاریخ طبری اول جلد ٤۰ مخ طبقات ناصری ۱٦٦مخ .

ابن اثیر لیکلی دی :

کوم وخت چه بیور اسپ دافریدون له خوا مغلوب شو نو خراسان ته ولاړ «۱» .
دامام طبری له لیکنی څخه چه مورخین یی اصح التواریخ ګڼی او دطبقات ناصری له لیکنی څخه هم څرګندیږی چه دغوری پاچاهانو لوی نیکه «سهاك» دفارس دمشرقی او ختیځی خوا څخه دفارس پر پاچا جمشید باندی یرغل راوړی و، او دفارس دمملکت مشرقی خوا کښی هم داد پښتنو هیواد افغانستان پروت دی او لکه چه معلومه شوه نو په افغانستان کښی دنوموړی د پاچاهی مرکز بامیان و .
او دسهاك دمغلوبیت په وخت کښی خراسان ته ددی تلل هم داتا بتوی چه سهاك اصلا دخراسان و وروسته بیرته خپل وطن خراسان ته تللی دی .

سام ـ او سور :

دغوری پاچاهانو په سلسله کښی دومره درجه معروف او تاریخی اشخاص «سام ـ او سور» دی او کومو مورخینو چه دغوری پاچاهانو څخه بحث کړی دی، هر یوه د سام او سور څخه هم بحث کړی دی .
او په اسلامی دوره کښی دغور داکثرو بلکه تقریبا دټولو پاچاهانو تخلص په او نسبی نومونه د (سام او سور) دنومونو څخه جوړشوی او دغوته یی ځانونه منسوب کړی دی یعنی سام اوسور ته نسبت یی خپل نسبی افتخار ګاڼه لکه مثلا محمد سوری شاه عباس سوری او محمد سام سلطان بهاءالدین سام او نور .
او تراسلام دمخه زمانو کښی دغوری پاچاهانو کورنی د «سور کورنی» په نامه معروفه وه .

په آریانا دأیرة المعارف کښی لیکی :

غوری سلطنتی کورنی په غور کښی مستقل حکومت درلود او د « سوری » حکمرانانو د کورنی په نامه بلله کیده .
او له اسلام څخه دمخه زمانو کښی ددغی کورنی مشهور پادشاهان « بستام او شماخ سوری» وو .
او لیکی چه داسلامی دوری دمورخینو دلیکنو له مخی لکه ابن اثیر په تاریخ کامل کښی او بلاذری په فتوح البلدان کښی او امام طبری په تاریخ طبری کښی لیکی

«۱» تاریخ کامل اول جلد ۳۲ مخ .

چه د « سوردکهول » یوسړی «ماهوی سوری» د ساسانیانو په وروستنۍ دوره کښې د «مروی» والي ؤ اوداکورنۍ د «ساکا_سهاك» له اولادې شخه وه . اوددوی سترنیکه «سهاك» د پخوانو پارسیا نوستر افسانوی دښمن ؤاوداکورنۍ هم دخپلو قومی عنعنو په وجه هروخت چمتو وه چه که ممکنه شي دساسانیانو پاچاهي له برمه وغورزوی . نوپه دغه اساس ماهوی سوری په مغربی افغانستان کښې دمسلمانانو عربو د راتګ هر کلی وکړ او د ساسانیانو له وطن شخه را شړل شوی پادشاه (یزد گرد) یې دوه حمله له مروې شخه و شاړه . او هغه وخت چه بیا یزدګر د دماوراءالنهرپادشاه دخپلې مرستې دپاره له خوراډیری سپاه سره مغربي افغانستان ته راووست بیاهم ماهوی سوری دبادغیسی نیزك طوفان په ملګرۍ د (الاحنف) عربی قوماندان ملاتړ وکړ او په ګډه سره یې خاقان اویزد ګرد ته ماتې ورکړه (۱)

سام اوسور په اول کښې :

دحیات افغانی مؤلف د نورو مورخینو په حواله لیکی :

دغور سلاطین د هغه سهاك له نسل شخه دی چه پر جمشید یې حمله وکړه او هغه یې محو کړ او دایران سلطنت یې ورشخه ونیو .

خو بیا وروسته « اصفهانی کاوه » نومی آهنګروته پورته شو او د نورو خلکو په مرسته یې سهاك مغلوب کړ او دجمشید له محومات شخه افریدون پاچا شو او سهاك یې وواژه .

او نومولی سهاك له اولادې شخه (سام اوسور) دوه وروڼه د افریدون له ویرې د غور غرونوته راغلل اوپه دغه ځای کښې یې محکمې وکړه او خپله پاچاهی یې محکمه کړه . (۲)

منهاج سراج جوزجانی او دتاریخ فرشته مؤلف لیکی :

هغه وخت چه دافریدون له خوا سهاك مغلوب شو نود(نهاوند) (۳) غروته راغی

---

(۱) ـ آریانا دایر المعارف ۳ جلد ۲۵۱۲ مخ .

(۲) ـ حیات افغانی ۵۰ مخ .

(۳) ـ نهاوند د شهرستان په معنادی برهان قاطع ۳۸۶ مخ او محینومورخینو د ناوند لیکلی دی او کیږی چه دا ځای دغور په مربوطا توکښې اوسنی شهرستان وی اوله دغه ځای شخه غورته تللی دی .

او دالتهمي شو او دهغه له څوځانه څخه دوه ورونړه (سام او سور) په دغه ځای کښې وو. سور پاچا شو او سام دهغه سپهسالار ؤ. سور خپله لورد سام شجاع نومي زوی تهورپه نکاح کړه او نوموړی شجاع لهخپلې ښځې سره له خپل کا کا څخه جلا شو غورته راغی او په دغه ځای کښې يې کلکه کلاو دانه کړه . چه په پای کښې دا ځای دهغو دفتوحات پایتخت اودپاچاهۍ مرکز شو (۱) .

له دغو قولو ليکنو څخه څرګندېږي چه له سهاك څخه وروسته دغوری پاچاهۍ کورنۍ مشهور اشخاص سام او سور دی اودهغو ځای او د پاچاهۍ مرکز يې غور ګڼلی دی .

ملك شنسب :

دغوري پاچاهانو په سلسله کښې ترسلطان شهاب الدين وړاندې بل نامداره پاچا ملك شنسب ؤ .

وړاندې دلوی سهاك دبيان په ترڅ کښې يادونه وشوه «لين پول» انګليسی مستشرق ليکي : چه غوری پاچاهانو تراسلام دمخه زمانوکښېمستقل حکومت لاره او داسلامی دورې په ابتدأ کښې يې هم مستقل اوخپلواك حکومت لاره .

يعني هغه وخت چه داسلام دوره راغله او داسلامی فتوحاتو لمن دشرق خواته راخپره شوه او مسلمانان د فارس ترمملکت راتير شول دماوراالنهر او سيندا او افغانستان پوری دعربو حکومت راورسيد . اوهرمملکت چه بهدمسلمانانو پهتصرف کښې راغی پرهغه باندی به مستقيماد مسلمانانو حکومت قايم اودعربو له خوا به هلته يو حکمران مقرر شو خو په افغانستان کښې په غور کښې دغوری پاچها نو حکومت مستقل پاته شو او داسلام دخليفه له خوا ددوی استقلال او خپلواکي په رسميت و پيژاند له شوه او پخپله دغور پا چهان پر خپله پا چاهي پاته او مستقل حکومت يې کاوه .

اودپښتنو دپاره داپوفوق العاده امتیازګڼل کېږي ځکه په قوله اسلامی نړۍ کښې قول هيوادونه چه دمسلمانانو په لاس کښې و لويدل دهغو پخوانی پاچاهان له منځهولاړل . اودپښتنو پاچهان پرخپله پاچاهي خپلواك او و طن يې هم مستقل پاته شو . يوازې دومره وو چه د اسلامی خلافت له مقام او مرکز سره يې خپل مناسبات او روابط ساتل .

---

(۱) ـ طبقات ناصری ۳۲ مخ ـ تاريخ فرشته اول ټوك ٥٤ مخ .

په اسلامي دوره کښې دغوري پاچا شنسب داسلام راوړلو نيټه :

هغه وخت چه اسلام افغانستان ته راورسيد د اسلام د څلورم خليفه حضرت علي (رض) دخلافت په عصر کښې ملك «شنسب» په غور کښې پاچا ؤ اودغه پاچا له غور څخه مديني منورې ته سفر وکړ هلته يې د نوموړي څلورم خليفه (رض) حضور ته خپل اسلام عرض کړ او د اسلام مقدس دين يې ومانه .

منشور او لوا :

هغه وخت چه دغور پاچا بيرته خپل هيواد ته راروانيدو نود څلورم خليفه له خوا نوموړي ملك شنسب ته يوعهداولوا ورکړه شو . (چه دي يې ددغه مملکت پاچا ومانه) اوهرکله چه به له دغه کورنۍ څخه کوم پاچا پرتخت کښيناست دا لوا اومنشور به هغه ته ورکړه کيده . اودا منشور به له هغه سره ؤ اوتر پايه دامنشور دشنسب دمحوحات سره ؤ .

شنسباني نسبتي نوم :

طبقات ناصري ليکي ملك شنسب چه د اسلام په اوله دوره کښې په غور کښې پاچاؤ اول شخص ؤ چه داسلام مقدس دين يې ومانه اوبخپله هم دلوړ نامه خاوند ؤ نودغوري پاچا هانو دسلسلې نوم دده په نام واوښت «شنسبا نيان» ورته ويل شول (۱)

يعنې تراسلام دمخه زمانو کښې لکه چه وړاندې ليکل شوي دي دغوري کورنۍ پاچاهان (سور) ته منسوب وو . (دسور کورنۍ دسور کهول اوسوري پاچاهان) به ورته ويل کيدل خوچه په اسلامي دوره کښې شنسب لومړنی پاچا ؤ چه د اسلام دين يې قبول کړ او اسلام يې دخپل هيواد او هيوادوالو دين او مذهب و باله او هم دا شخص ؤ چه د ځان اودخپل قوم اوملت د پاره يې خپله ازتې خپلواکې او استقلال محفوظ وساته اودخلافت د مقام له خوا هم ددوی خپلواکي ومنله شوه او په عکس په نوره اسلامي نړۍ کښې هيڅ کوم وطن اودهغه پاچا خپلواکي پاته نه شول بلکې په هرځای کښې دعربو اميران او حکام مقرر شول نوشنسب غوري د همدغه امتياز له امله دلوړې ستاينې وړ او د خورا ستر تاريخي حيثيت خاوند اووهشو نو له

---

(۱) ـ طبقات ناصري د کابل چاپ ۳۷۷ مخ .

ده شخه را وروستني پاچهان ده ته منسوب شول او دغوريانو دسلسلي بخواني نسبي او نسبتي نوم واوښت دشنسب په نامه شنسبانيان ورته وويل شول .

له آل بيت نبي او امامانو سره دشنسبي پاچهانو مينه او دوستي او دهغي آثار :

په طبقات ناصري کښي ليکلي دي د(آل محمد ص) او امامانو مينه او محبت دغوري پاچاهانو په اعتقاد کښي راسخ او قوي وه . (۱)

يعني کله چه دغه پاچهان دخلودرم خليفه په لاس په اسلام کښي داخل شول او دهمدغه خليفه له خوا دوي ته داستقلال عهد نامه او منشور ورکړی شوی وه نو له همدي لاري ددغو پاچاهانو په زړونو کښي له آل بيت يعني دحضرت علي (رض) له اولادي سره مينه او محبت زيات رسوخ موندلي ؤ .

او لکه چه يادونه وشوه چه دخلودرم خليفه له خوا د پښتنو پاچا (شنسب) ته دغه دحکومت دخپلواکي او استقلال منشور ورکړ شوی ؤ او دا منشور له نوموړي شنسب څخه را او روسته پاچهانو ته پاته ؤ . او سر بېره پردي ديني او مذهبي جذبه هم ورسره مله شوه يعني امامان چه دپيغمبر (ص) اولاده وو او دغو مذهبي علايقو هم د آل بيت سره ددوی مينه او علاقه زياته قوي کړه .

او له آل بيت سره دغوري پاچهانو دميني او محبت علايق نورملت ته هم ورسېدل چه دافغانستان په ټولو خلکو کښي داډول آثار څرګند شول يعني دنورو اسلامي او ديني جذباتو سره سره چه دهرمذهب او دين طبيعي خاصه ده دغو دآل نبي مينې او محبت دټولو پښتنو په روحيه او زړونو کښي ځای نيولی ؤ

چه په نتيجه کښي دا پاچهان او پښتانه دآل بيت پرخوا او طرفداران او دهغوله دښمنانو (بنوامیه) سره زيات او شديد مخالف شول.

لکه چه له همدغي لاري وو چه دبنوامیه وودسلطې په ټولو زمانه کښي پښتنو له بنو اميه وو سره کلکه دښمني او مخالفت لاره .

---

(۱) - طبقات ناصري دکابل چاپ ۳۷۷ مخ .

لکه چه په پای کښې د عبدالرحمن ابومسلم غرجستانی (مشهور په خراسانی ابومسلم) (۱) او د غوری امیر کروړ په مشرۍ د افغانستان خلکو له بنو امیه و سره مقابله وکړه . چه ډیر و زیاتو شخړ و او جګړ و څخه وروسته پښتنو د بنو امیه خورا ستره او ډیره زوروره امپراتوری له منځه یووړه .

او د بنو امیه په عوض یې د عباسیانو امپراتوری او خلافت منځ ته راووست او په همدغه ترتیب سره پښتنو د اسلامی نړۍ د خلافت مقدرات بدل او واړول او په دغه شان سره پښتانه قوم د اسلام په تاریخ کښې د خپل قدرت او همت نوم ثبت کړی دی

د آل بیت نبی (ص) په نسبت د شنسبانی پاچهانو له خوا د بنو امیه د حکم او فرمان تردید :

په جهان کښې تقریبا طبیعی سیر او تاریخی جریان دی چه هر قوم د خپل مسلك او مذهب په پالنه او تقویه کښې هر وخت کوښښونه او مجاهدې کوی او په دغه

---

(۱) د ابومسلم اصلی نوم عبدالرحمن دی او کنیه نوم یې ابو مسلم دی او په همدغه ابومسلم نوم مشهور دی نوموړی د افغانستان د شمالی خواسیمې د غرجستان د ولایت دی خو په خرسانی یې شهرت موندلی دی ځکه چه په هغه عصر کښې له تخارستان او بلخ څخه ترمروی او هرات او نیشاپور پورې بیا ترسیستان پورې دغو ټولو سیمو ته خراسان ویل کیدل نو ځکه په ابو مسلم خرسانی مشهور شوی دی.

ابو مسلم په (۱۰۲ ه) کال د میمنی لمرخاته خوا کښې او سنی سرپل ته نږدې په (سپید دژ) نومی کلی کښې زیږیدلی او هلته لوی شوی دی او علمی تحصیلات یې هم په خپل هیواد افغانستان کښې کړی دی او د هغه عصر مروج علوم یې لوستی او د قران کریم حافظ و نوموړی ذکی او د پوره عقل خاوند او خورا فصیحه ژبه یې لرله او په خپل وطن کښې د ښه شهرت خاوند په ښه تدبیر او عالی همت معروف و نوموړی له تحصیل څخه وروسته په سیاسی افکارو مشغول او د خورا سترو چارو انجام مولوته یې ملاوتړله آریانا دائرة المعارف ۲ ج ۵۱ مخ - نوموړی په ۱۲۹ ه کال د رمضان په ۲۵ نیټه د مروې په حدودو کښې له خپلو ملګرو سره غونډه وکړه د بنو امیه د امپراتورۍ د له منځه وړلو تړون یې وکړ .

ابو مسلم له ډیرو جګړو او زور ورو مقابلو څخه وروسته کامیاب او په ۱۳۲ ه کښې د دوهمې خور په ۱۴ نیټه یې ابوالعباس په کوفه کښې خلیفه کړ او منبر ته پورته سو وینا یې وکړه روضة الصفا ۳ ج ۶۵۳ مخ

لاره کښې لهمال اوځان څخه تیر یږي

او په دې لاره کښې اوله مذهبی شعایر و او مقدساتو سره د غوری سلاطینو حقیقي مینې اورښتیاني اخلاص خاص امتیاز درلود اوددغه حقیقت اثبات د دوی دایثار اوفداکارۍ لهمخې دتاریخ په صفحاتو کښې ثبت او څرگند دی چه له هغی جملې څخه دخدای درسول حضرت محمد (ص) له آل او څوځات سره د غوری پاچهانو ربښتیاني دوستي او محبت دی ځکه هغه وخت کښې چه د اسلام د خلافت له امله دڅلورم خلیفه حضرت علي (رض) او دده دزوی حضرت حسین (رض) او د بنو امیه پاچاهانو ترمنځ اختلاف راغې چه په پای کښې له آل بیت سره د بنوامیه وود زیات حسد اورخې موجب شو چه د همدغه اختلاف اوشدید حسد په اثرحضرت حسین (رض) دحق غوښتلو په لاره کښې د بنوامیه وو له خوا په شهادت ورسید او پردې برسیره د بنو امیه وو خلیفه ؤ تو لو اسلامي مناطقو ته داسې احکام اوفرمانونه صادرداوو لیږل (چه دجمعې په ورځ چه خطیب پرمنبر باندې دجمعې خطبه وایی نوحضرت علي (رض) او دده څوځات ته دې ناوړه الفاظ اود لعن کلمات استعمالوی .) او د بنو امیه دامپراتورۍ په ټولو سیمو او د اسلام په ټولو ښارو کښې د ا احکام عملي شول هر خطیب چه به دجمعې په ورځ دجامع پرمنبر باندې خطبه ویله یو ځل به یې څلورم خلیفه او دهغه څوځات او اولادې ته دشتم اوښکنځلو الفاظ او د لعن کلمات ویل.

خود غور پاچهانو دخپل فطري شجاعت او اسلامي اودیني غیرت او لوړ حمیت له کبله دخپل پیغمبر د پاك څوځات په نسبت د بنوامیه وو دا ناروا اوددوی له افکارو سره مبا ئن احکام هیڅ کله و نه منل .

په داسې ډول دغور دسیمو او مربوطاتو دجامعو مسجد و نو پرمنبر و نو باندې د بنو امیه وو دفرمان احکام عملي نه شول . اود هغو دغه فرمان او امر ته یې په کلکه څوب ورکی او په دغه باب کښې دغوری پاچاهانو د تاریخ لیکونکی فخرالدین مبارکشاه په یوه قصیده کښې داموضوع بیان کړې ده.

دفخرالدین مبارکشاه قصیده :

به اسلام در هیچ منبر نه نماند	که بروی خطیبی همی خطبه خواند
که بر آل یاسین بلفظ فصیح	نکردند لعنت بوجه صریح
دیار بلند شاز ان شد مصون	که از دست آن ناکسان بود بیرون
ازین جنس هرگز دروکس نگفت	نه در اشکارا نه اندر نهفت

نه رفتا ندر و لعنت خاندان　　برین بر همه عالمش فخردان
همین پادشاهان با دین داد　　بدین فخردارند بر هر نژاد (۱)

❊ ❊ ❊

نوموړی مبارکشاه دسلطان غیاث الدین محمد سام غوری په عصر کښې ژوند کاوه او دغوری پاچاهانو تاریخ ئی په نظم لیکلی دی او داخبره ئی د غوری شاهانو دښه عقیدت او قوی اسلامیت له نخښو څخه ګڼلې ده چه دغو د خپل پیغمبر محمد مصطفی (ص) له محوعات سره په داسی انداز ه اخلاص درلود چه د بنو امیه دزورورې امپراتورۍ سره ئی مقابلې وکړې او دهغو حکم ئی ونه مانه.

دعمر بن عبدالعزیز په عصر کښې دآل بیت په نسبت دغه بدالفاظ ترکشول :

هغه وخت چه عمر بن عبدلعزیز اموی دمسلمانانو خلیفه شواو دی یوخوراعادل شخص ؤ چه په اسلام کښې دده دعدالت له امله دراشدینو خلفاؤ پنځم خلیفه ګڼل شوی دی، نوموړی خلیفه آل محمد(ص ع)ته د امیه له خوا وضع شوی شنیعه او ناوړه الفاظ له خطبې څخه وغورزول او دهغو الفاظو پعوض ئې دقرآن کریم دا آیت په خطبه کښې وضع کړ :

« ان الله یأ مر با لعدل و الا حسان و ایتاءِ ذی القر بی وینهی عن الفحشاءِ والمنکروالبغی یعظکم لعلکم تذکرون » «۲»

دعمر بن عبدالعزیز دهمدغه کار له امله دنړۍ ټول مسلمانان خوشاله شول او دده مدحه او توصیف به ئی کاوه او په دغه اثر دده په شان کښې یو شخص د ستاینې قصیده ویلې ده:

ولیت فلم تشتم علیاً و لم تخف　　بریا و لم تتبع مقالة مجرم
تکلمت بالحق المبین و انما　　تبین آیات الهدی بالتکلم
وصدقت معروف الذی قلت بالذی　　فعلت فاضحی راضیا کل مسلم
الا انما یکفی الفتی بعد زیغه　　من الاود البادی ثقاف المقوم

❊ ❊ ❊

کوم وخت چه عمر بن عبدالعزیز دا شعر واورېد، نو یی وویل: افلحنا اذاً «۳»

---

(۱) روضة الصفا ٤ ټوک ۷۳۷ مخ ۰

«۲» قرآن کریم ۱٤ پاره سوره نحل ۹۰ آیت

«۳» تاریخ ابن الاثیر ٥ ټوک ۲۰ مخ

امیر کروړ:

تر سلطان شهاب الدین د محمد غوري پاچهانو په سلسله کښې بالمعروف او نامتو پاچا «امیر کروړ» دی، نوموړی د پښتنو په تاریخ کښې ښه نوم او زیات شهرت لري په پښتنو کښې اوس هم دا ډول وینا شته چه د کوم قدیم او پخواني شخص یا شي په نسبت داسې وايي: (دا د امیر کروړ د وخت دی) له دغې وینا څخه څرګندیږي چه امیر کروړ په پښتنو کښې زیات معروف ؤ.

په پټه خزانه لیکلی دی:

نقل کا: زبدة الواصلین شیخ کته متي زی غوریاخیل پخپل کتاب «لرغوني پښتانه» کښې چه دی نقل کا، له تاریخ سوري څخه چه په بالشتان (۱) کښې یې کتلی او موندلی ؤ شیخ کته علیه الرحمه هسې وايي په تاریخ سوري کښې راوړي چه امیر کروړ د امیر پولاد زوی ؤ، چه په (۱۳۹) هجري کال کښې د غور په مندیش (۲) کښې امیر ؤ او (جهان پهلوان) یې بالله وايي چه: د غور کوټونه (۳) او د بالشتان خیسار (۴)

---

(۱) بالشتان د غور په سیمه کښې یوه کلا وه چه په هغه وخت کښې ودانه وه او د قندهار د تیري د حکومت او د غور د شرق جنوب ترمنځ یوه علاقه اوس هم په دغه نامه یادیږي تعلیقات پر پټه خزانه ۲۲۱ مخ.

(۲) مندیش د غور یو مشهور او تاریخي ښار دی چه د غوري او غزنوي دورو په تاریخ کښې شهرت لري، او دا د غور یوه خورا مستحکمه او ډیره جګه کلا وه بیهقي ۷۶ مخ د مندیش کلا د غوري پاچاهانو پای تخت او مرکز ؤ، او دا کلا د غور د زار مرغ د جګ غره په لمن کښې جوړه شوې ده طبقات ناصري ۱۸۱ مخ.

(۳) کوټونه د کوټ جمع او کوټ پښتو کلمه ده د کلا په معنی دی.

(٤) خیسار د غور په شمال غربي سرحد کښې یوه کلا وه چه د دوو ورځو مزل له پاره اندازه له هرات څخه لیري وه المسالك والممالك منهاج سراج خیسار د غور له پنځګونو غرونو څخه یو غر بولي چه ډیر جګ دی طبقات ناصري ۱۸۱ مخ خیسار د (۶۰۰ هـ) په حدودو کښې له دې جهته شهرت درلود چه د آل کرت د سلسلې د مشر تاج الدین عثمان ځای ؤ او نوموړی د سلطان غیاث الدین محمد بن سام غوري له بني اعمامو څخه ؤ، په (۵۹۹ هـ) کې تاج الدین د خیسار کوتوال ؤ چه له ده څخه وروسته د ده زوی رکن الدین د خیسار او د غور د یوې برخې حکمران ؤ او د چنګېز له خوا هم نوموړی د خیسار حاکم وپېژاندل شو او له هغه وروسته د کرت د پاچاهانو په عصر کښې دغې کلا زیات شهرت وموند تعلیقات پټه خزانه ۲۲۵ مخ.

او تمران (۱) ماڼۍ او برکوشك (۲) يې ړنګ کړل او درسالت له کهول سره يې

---

(۱) تمران، دغور له مربوطاتو څخه یو معروف ښار وه او په طبقات ناصري کښې د دغه ښار د ځېنو معروفو او شخاصو نومونه یاد شوي دي لکه: ملك ناصرالدين، ملك قطب الدين يوسف تمراني، ملك سيف الدين مسعود تمراني، ملك تاج الدين تمراني ملك ناصر الدين تمراني چه د سلطان غياث الدين محمد او سلطان شهاب الدين غوري له امراؤ څخه وو.

د تمران جغرافيائي موقعيت:

د منهاج سراج له عبارت څخه چه وايي (له تمران څخه د غور خواته و لاړم دا سي ښار ګنديږي چه تمران د غور څخه د باندې بل ځای ؤ وايي: (په ۶۱۸ هـ) کښې دا کتاب د ګز بو او تمران په ولايت کښې د ملك ناصرالدين ابوبكر څخه پيدا كړ) معلوميږي چه ګز بو = ګز او تمران سره نژدې وو او ګز يو تش او س ګزو وايي او ګزاب يې ليکي په او سني و تشکيلاتو ګيزو د روزګان په ولايت پورې مربوط او دا جرستان (تاريخي و جيرستان) په شمال کښې او د ايکندي په جنوب کې دي او وايي دا او سني تيموريان هم دا تمرانيان دي چه په تلفظ کښې تمراني تيموري شوي دي او تمراني او سني تيموري له څلورو ايماقو څخه يو ايماق دي چه يو سړی = زوري بل تمراني = تيموري بل تايمني او څلورم يې هزاري دي چه فيروز کوهي او جمشيدي هم پکښې داخلي تعليقات طبقات ناصري ۲۲۶ مخ.

(۲) برکوشك: کوشك د ماڼۍ او جګې او پورتنۍ ودانۍ په معنی دي برهان قاطع ۳۱۷ مخ او بر پښتو کلمه ده د پورته او لوړ په معناده دلر، کښته په مقابل کښې. منهاج سراج د برکوشك تفسير په دې ډول کوي: بر کوشك د غور د فيروزکوه د ښار له خورا لوړو ماڼيو څخه وه او دا ډول ودانۍ ده چه په هيڅ ملك کښې د هغې مثال نشته او د هغې جګوالی او دار كانو تدوير او منظرې او رواقونه او شرفات هيڅ مهندس نه دي ښودلي او د دغې ماڼۍ پرسر باندې پنځه زرينې او مرصعې کنګرې ايښودې شوې دي؟ هره يوه دغه باندې دريو ګزو په اندازه جګې دي او په سور دوه ګزه دي او دوه زرين همای هلته ايښود شوې دي چه هر يو يې لکه اوښ دومره دي. او دا زرين شرفات او همای سلطان غازي معز الدين د اجمير له فتح څخه وروسته د تحفې په ډول حضرت سلطان غياث الدين محمد سام ته راليږلي وو. طبقات ناصري د کابل چاپ ۲۱۰ ـ ۲۱۵ مخونه.

په خلافت کښې ئې ډېر کومکونه وکړل . (۱)

نقل کا: چه امیر کروړ ډېر غښتلی او پهلوان ؤ په یوه تن له سلو جنګیالو سره جنګېده، ځکه ئې نو کروړ باله چه معنی ئې ده کلک او سخت . والی چه امیر کروړ به په دوبی کښې په « زمین داور » کښې ؤ او هلته ئې ماڼۍ درلوده چه کټ مټ د « مندېش » په شان وه او په دغه ځای کښې به ئې ښکاره کاوه .

او عشرت به ئې په تاریخ سوری کښې راوړی ! چه دا امیران له پېړیو په غور او بالشتان او بست کښې و او دغه (سور) نومی اولاده دی چه د (سهاك) له پښته ؤ .

په تاریخ سوری کښې محمدعلی البستی داسې کښلی دی :

چه د عباسی دعوت په جنګو کښې چه امیر کروړ ډېر ښې سوبې وکړلې نو دا ویاړونه ئې وویل چه ویاړنه ئې بولی هغه دادی چه شیخ کټه علیه الرحمه له تاریخ سوری څخه را نقل کړی دی .

ویاړنه دامیر کروړ جهان پهلوان :

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل (۲) نشته

په هند و سیند و پر تخار او پر کابل نشته

بل په زابل نشته — له ما اتل نشته

غشی د من (۳) می ځی بر ښمنانو پر میرځمنو (٤) باندې

په ژوبله (٥) یونم (٦) پرغالم پر تښتېدونو باندې

پر ماتېدونو باندې — له ما اتل نشته

---

(۱) وړاندې وایګل شو وچه د غور پاچهان د آل بیت نبی (ص) طرفداران وو، چه د هغو غلیمان بنو امیه ئې له زیاتو جګړو څخه وروسته مغلوب کړل نو په پای کښې د پښتنو له خواد بنو امیه امپراتوري له منځه ولاړه او عباسیان ئې د خلافت مقام ته ورسول. لکه په دغو شخړو کښې د بری له امله امیر کروړ جهان پهلوان ویاړنه ویلې ده : ـ

(۲) اتل: د نابغه او قهرمان او غوره په معنی دی .

(۳) من : یوه پخوانۍ اریائی کلمه ده او په قدیمه پښتو کښې مستعمله وه او معنا ئې اراده ده . نو معنا ئې داسې شوه: (غشی د ارادې می د برېښنا په څېر پر غلیمانو باندې او رېږی) .

(٤) په قدیمه پښتو کی میرځمن او میرځی د دښمن په معنا استعمال وو .

(٥) ژوبله د جنګ په معنا ده یعنی په جنګ کې ځم او یرغل کوم .

(٦) یون : د تللو په معنا دی، یعنی ځم او تګ کوم .

زماد بربو پر خول تاو بڼی هسك په نمنځ و پهو یاله
د آس لهسو ومی ومحکه د بڼدی غرو نه کاندم لتاله (۱)
کهم ایوادو نه اوچاله (۲) له ما اتل نسته

زماد توري ترشپول لاندی دی هرات او جروم (۳)
غرج (٤) و بامیان و تخار بولی زما نوم په اودوم (٥)
زه پیژوندویم پهروم لهما اتل نسته

پرمرو زما غشی لونی (٦) واري دښن (۷) راڅخه
دهر بو الرود پرڅنډو محم تښتی پلن (۸) راڅخه
د بیزلن (۹) راڅخه لهما اتل نسته

---

(۱) لتاله: پایمال پښتو قاموس ۱۹۶ مخ.

(۲) او چاله: دخراب او نړولو په معنی دی اوس دویچاله په بڼه استعمالیږی

(۳) جروم: دجرم جمع ده او اصل ئې گرم = گرم سیر و اوس معرب او جرم شوی دی مطلب ورڅخه زمونږ د وطن گرم سېر دی.

(٤) غرج یاغر جستان زمونږ دوطن په شمال کښې یو معروف ولایت و او دهغه څلور حدود دادی: لهشمالی خوا داموسیند او غربی خوا ته ئی مرغاب او مر و الرود دی او دشرق خوا ته ئې د بلخ حدود دی او له جنوبی خوا په غور پوري متصل دی او دغزنویانو دسلطان محمود ترعصر پوری غرجستان خپل محلی حکمرانان لرل چه شاربه ئې بالهاو په خوا وختو نو کښې خوزا پرنفوس ولایت و اودهغه لښکر و او جگړو لوړ نوم درلود

(٥) اودم: دعلاج په معنی دی لکه چه څینی اسماء دزهر و او حشراتو د چیچلو د پاره اوددم بولی او ښائي په دې ځای کښې هم دا مقصد وی چه دا میر کروړ نوم به ئې داودوم پهډول یاد اوه تعلیقات پقهخزانه.

(٦) دلونی معنا اوریږی ده یعنی زما غشی پرمرو او ریږي

(۷) دښن: د دښمن په معنا دښمن مخفف دی او په قدیمه پښتو کی دا کلمه استعمالیده خو اوس له استعمال څخه لویدلی ده.

(۸) پلن: داول او دوهم توری په فتح د پلی او پیاده په معنا دی.

(۹) زلن: د دلیراو زلمو په معنا دی او اوس دالفظ له استعمال څخه پاته دی یواځی دزلمور کلمه مستعمله ده او په پښتو کښې د (ن) توری یوه لاحقه ده چه دخاوندا و صاحب معنی پیدا کوی لکه ولن دولیو خاوند او چینجن د چینجیو خاوندا و ولانگن دولانگو خاوندا و نور. پدی قصیدې کې دښن د دښمنی خاوند - پلن د پلی تکی خاوند زلن د زلم ور توب خاوند د پښتو له دغی قاعدې سره سم دی.

دزړونه سوبه مې د توري په مخ سوروکړه .

په باداري مې لوړه اوې د کول (۱) د سورو کړه

ستر مې تربوروکړه (۲)　　　　　　لا همالا تل نسته

خپلو ورکړو لره لور (۳) پېرزو ینه کوم

دوی په ړانه ینه ښه بامم (٤) ښه ئې روزنه کوی

تل ئې ودنه (٥) کوم　　　　　　لا همالا تل نسته

پر لویو غرو مې وېناد رومی نه په محنو وبه ګال

نهرې زماده نوم مې بولي پر دریغ (٦) ستایو ال

په ورځو، شپو، میاشتو کال　　　　　　لا همالا تل نسته (۷)

---

(۱) کول د کهول مخفف دی د خاندان او کورنۍ په معنا دی یعنی د سور کورنی مې سر لوړې کړه .

(۲) دا د پښتو لرغوني محاوره ده اوس داسې ویل کیږي: تر بورو مې ستر کړ .

(۳) لور: د لورینې په معنا دی اوس هم دا کلمه کله کله استعمالیږی .

(٤) بامم: په پښتو قاموس کښې (بامل) د تحمل او دوستۍ د مزی ټینګولو په معنا دی یعنی جهان پهلوان وائې چه له خپلو خپلوانو سره د دوستۍ مزی ټینګ ساتم او د دغې حماسې د (بامم = بامل) لغت چه اوس موږ ته رارسېدلی دی یو ښه اد بی غنیمت دی تعلیقات پټه خزانه ۱ ۲۳ مخ .

(٥) ودنه: د نشو ونما په معنا ده دا هم لرغونی پښتو کلمه ده او اوس وایی: وده مې ورکړه او د لته د لوړو لو او سر لوړی کولو په معنا دی یعنی هر وخت هغوی سر لوړی کوم .

(٦) دریغ: د دریغ کلمه اوس په پښتو کښې استعمال نه لری او د منځنیو زمانو په آثارو کښې هم نه ده لیدل شوې، ښایې چه په پخوا زمانو کښې دا کلمه مستعمله وه او د امیر کروړ په دغه بیت کښې او د ښکارندوی په قصیده کښې (په رنا اوسی ته تل د د ین شها به + نوم دې تل وه پر «دریغ» په «نمز د ګونه») له استعمال څخه څرګند یږی چه د دریغ معنا منبر دی او د لغوی جوړښت له نقطهٔ نظره هم داسې استنباط کیږی چه دغه کلمه اصلا مرکبه کلمه ده یعنی «دریدځی» چه مخففه شوې او دریغ ورڅخه جوړه شوې ده او منبر هم د دریدو ځای دی . دا کلمه هم د قدیمې پښتو او د لرغونی پښتو ادب یو ښه سوغات دی چه د امیر کروړ د حماسې په برکت رارسېدلی ده .

تعلیقات پټه خزانه

(۷) پټه خزانه ۳٦ مخ .

دامیر کروړ د قصیدی مزایا :

امیر کروړ جهان پهلوان سربېره پر دې چه یو شجاع او دعالي همت خاوند و ادیب هم و لکه چه په پښتني ملي آهنګ یې یوه غوره حماسي بولله (قصیده) مونږ ته را رسېدلې ده د پټې خزانې کتاب چه د پښتنو د ملي ادب د پاره د قیمتي جواهرو د خزانې حکم لري چه د پښتنو ادب له ملاندې څېرې څخه ئې د تاریکۍ پردې پورته کړې او ثابته کړې ئې ده چه دغې لرغونې ژبې د اسلامي دورې په اولو وختو کښې هم اورژبي شاعران درلودل او چه ز مونږ پاچاهانو او د ملي تاریخ نورو نومیالو په دغه ژبه خبرې کولې او شعرونه به ئې ویل .

او ډېر مهم شعر چه د زماني د قدامت له حیثه په دغه کتاب کښې راغلی دی همدا د جهان پهلوان امیر کروړ (سوری) حماسي شعر دی ، چه د متانت او درنو او خالصو پښتو کلمو له حیثه او هم د هغه مخصوص بحر او وزن له حیثه چه په د غه قصیده کښې شته زمونږ له ادبي شهکارو څخه دی .

او کومې مزایاوې چه په دغه شعر کښې شته دی په دغو لاندینیو موادو کښې لیدل کېږي.

۱- دا چه دامیر کروړ شعر یو لرغونی او پخوانی اثر دی چه پښتو ادبي حیات په (۱۳۰ ه) کښې ثابتوی او دا نکته مونږ ته راسپاري: چه دا سې ژبه چه له اول اسلامي قرن څخه وروسته په دا سې درجه مستعده او داسې لوړو حماسي افکارو د اداکولو خاوند ه وه ، نو باید چه نوی پیدا او ابتدائي ژبه نه وي ، بلکه لږ تر لږه له پنځو پېړیو څخه زیات عمر و لري چه د دغسې ادب خاوند ه وي چه وروسته له هغه دغې لوړې ادبي مرتبې ته ورسېږي .

۲- دا شعر ښکاره کوي چه د اسلام په لومړیو وختو کښې د غور د خلکو ژبه پښتو وه او د پردیو آثارو څخه محفوظه او خالصه وه ، چه لرغوني آریائي مزایاوې ئې له ځان سره درلودل .

او هغه کلمات چه د جهان پهلوان په دغه قصیده کښې شته زمونږ د پخوانو اسلافو له غنائمو څخه دي چه اوس زمونږ لاس ته راغلي دي .

او له دغو کلماتو څخه زیات ئې د نورو ژبو د غلبې په اثر له منځه تللي او ورک شوي دي .

مثلا : ویاړنه (فخریه او حماسیه) ، اتل (نابغه او قهرمان) ، مړ (اراده)، میړ ښمن (دښمن) ژوبله (جنګ) یونم (عزم) برغالم (برغل کول) هسك (آسمان) نمنځ (تعظیم او نمانځنه) پېژندوی (شناسا) دښن (دښمن)، پلن (پیاده) زلمن (دلاور) مخسور (سرخرویی) لوړاوی (اعتلا) ، لور (مهربانی) ، بامم (پرورش ورکوم) وده (نشوونما) ، دریغ (منبر) ستاینوال (مداح).

داهغه کلمات دی چه دامیرکروړ په حماسه یولله کی راغلی دی او ښیي چه دنورو ژبو له غلبې او حملو څخه پخوا زمونږ ملی ژبه ډېر ومهمو ذخیروخاونده وه.

۳ـ دوزن او بحر له حیثه هم دا شعرزمونږ دملی ژبی له عروضی غنیمتو څخه ګڼل کیدای شی چه زمونږ دلرغو نو اشعاروپوه برخه او یو بحر راښیي.

٤ـ ددغې قصیدې له مفهوم او معنا څخه دا هم څرګندیږی چه ددغی حماسې د ویونکی روحیه څومره لوړه او قوی وه. او په څومره شهامت او څومره لوړه همت او ښېښنی حمیت ئی خپل فتوحات او خپله کشورکشائی او خپل بری ستایلی دی او هم ئي خپله او لس پالنه او خپل ملی حب او مینه تصویر کړی ده (۱)

دامیر کروړ دمضمون او دده دقصیدی په تشریحاتو کښې پر پټه خزانه باندی دښاغلی حبیبی له حاشیو او تعلیقاتو او څېړنو څخه مکمله او پوره استفاده شوې ده.

پټه خزانه راوړی : شیخ کته علیه الرحمه ل (تاریخ سوری) څخه نقل کا:

چه امیرکروړ عادل او ضابط او دښې وینا خاوندؤ ده به هر کله شعرونه ویل په کال، سنه (۱٥٤) هجری د پوشنج (۲) په جنګو کښې مړ شو او تر ده وروسته ئي زوی امیرناصر ایو ادونه ضبط کړل اودغور اوسور او بست او زمین دا ور پر حکو خاوند شو. (۳)

---

(۱) تعلیقات پټه خزانه ۰۰ مخ

(۲) پوشنج: دهرات په خوا وو کښې یو محکم ښار و چه له هرات څخه لس فرسخه لری پروت ؤ مراصد الاطلاع ۸٥مخ، د هغه عجمی املا پو شنګ دی او دمغلو د هجوم تروخته پوری دخراسان یو خورا معروف ښار ؤ حدود العالم ٥۷ مخ، تعلیقات ۳۲مخ.

(۳) پټه خزانه ۳۷مخ.

په تاریخ سوري کښې لیکلي دي:

امیر کروړ جهان پهلوان په هغو شخړو او جګړو کښې اشتراك کړی ؤ، چه له بنو امیه ؤ سره ئې کولې او نوموړی په دغو شخړو کښې د پښتنې لښکرو مشر ؤ - او دده د عالي همت او شجاعت په اثر وشول چه دغرجستاني ابومسلم په ملګرتیا او د افغانستان ته د بنو امیه له مظالمو او ناوړو څخه نجات ورکړ، بیائې نوره اسلامي نړۍ هم د هغو له ناروا څخه وژغورله.

او ددوی د فعالیت له مخې وو چه د اسلامي نړۍ د خلافت او خور ازورورې امپراتورۍ مقدرات ئې پر بل مخ واړول. اسلامي دنیا په تیره آل بیت پیغمبر او سادات ئې د بنو امیه د حکومت له ناروا او تعدي څخه خلاص کړل او د بنو امیه د استبداد په مقابل کښې د امیر کروړ سوري او ابومسلم د ایثار او فداکارۍ نوم په ټوله نړۍ کښې خپور شو او د همدغې کامیابۍ او فداکارۍ له امله په ټوله اسلامي نړۍ کښې د دوی په خورا ښه او نیك نامه یادیدل، او امیر کروړ جهان پهلوان او غرجستاني ابومسلم د پښتانه ملت د پاره له همدې لیارې د افتخار نوم په تاریخ کښې ثبت پریایښی دی.

دغوري سلاطینو په سلسله کښې د سلطان شهاب الدین غوري د مخه څینې معروف او نومیالي پاچاهان مو یاد کړل او په مختصر ډول مو له هغو څخه یادونه او بحث وکړ اوس د سلطان شهاب الدین غوري او غور یانو د اصلي وطن او مرکز څخه بحث کوو:

غور:

سلطان شهاب الدین غوري غور ته منسوب او له غوري سلاطینو څخه دی، نو مناسب دی چه لومړی د دوی اصلي مرکز او وطن وپیژاندل شي.

غور، زموږ د هیواد افغانستان منځنۍ غرنۍ برخه ده د شمال لهخوا په غرجستان (اوسنۍ میمنې) په ولایت پورې انښتی دی او د غرب خواته د هرات او مرغاب ترحدودو پورې رسیږي او شرقي خواته ترغزنۍ او بامیانو پورې رسیدلی ؤ او د جنوب خواته تر بست او زابل پورې دغور سیمې وې.

غور په تاریخي باستاني دورو کښې خورا لوړ او جهاني شهرت لري ځکه په پخوانو زمانو کښې د نامدار و سلاطینو او باستاني کشور کشایانو مرکز ؤ او د خراسان، سیستان، بلوچستان، سیند او پنجاب او حتی تر ډیلي پورې ډیر لکو

عمومی مرکزؤ، اوپر مرو، بلخ او تخار ستان او د پامیر پر غرونو او چترا ل باندی مشتمل ؤ .

(هولد ج انګلیسی مستشرق وائی :

دغور د نامه له اوریدلو څخه انسان ته هغه ځمکه په نظر کښی مجسمه کیږی چه دهند وستان له انتها څخه نیواپې ترایر ان پوری اوله آمو سیند څخه تر ترمز پوری اوږده رسیدلې ده .

اود منځنیو پیړ یو جغرافیه لیکونکی وایی :

دغور منطقه د خپلو سترو غرونو دسلسلو په واسطه د هر یرو د ا و هلمند او خاشرود او فراه رود اوحتی دمرغاب دسیندونو منبع ده

دغوردمرکز جغرا فیائی موقعیت :

دغور وسطی مرکز د۶۴ او۶۵ درجو او۳۴ او۳۵ دقیقو او۴۹ ثا نیو شرقی طول البلد او۳۳ او۳۴ در جو او ۲۱ د قیقو او ۵۹ ثانیو شما لی عر ض البلد ترمنځ پروت دی . (۱)

روضة الصفا لیکی : غور یوغر نی اوخورا مستحکم ځای دی اودغلیم دمقابلې دپاره ښه مناسب ځای دی ، نوځکه دضحاك (سهاك) ځر ځات دا ځا ی خو ښ او پای تخت ئی پکښی جوړ کړ . (۲)

خورشید جهان دمجمع الانساب اومرآت پهحواله لیکی :

دغور دسلاطینو مشهور نیکه سهاك له جمشید څخه د فارس سلطنت واخیستاو د هغه مملکت پر تخت کښیناست ا و د فا ر س اصطخر د هغه و طن د پا چها نو ځای ؤ.

کوم وخت چه افریدون پر سهاك غا لب شو او هغهئی وو ا ژه نو د سها ك او لا دونه له هغه ځای څخه راوتښتیدل او دغو ر غرو ته را غلل او په د غه ځای کښی یی ترقی و کړه . (۳)

لکه چه وویل شول هغه وختچه دغوری پاچاهانو سترنیکه رلوی سهاك پاچا)

---

(۱) قاموس جغرافیائی افغانستان ۳ ټوك ۸۸ مخ

(۲) روضة الصفا ٤ جلد ۸۸۳ مخ .

(۳) خورشید جهان ۲۰۸ مخ

د افریدون له خوا مغلوب او له منځه ولاړ، نو د هغه له زامنو څخه دوه ورونه (سور او سام) خپل وطن ته راستانه شول او په غور کښې یې مرکز ونیو او له هغې زمانې څخه دا ځای د سوري پاچاهانو د پاچاهۍ او او سید نی ځای دی .

د غوري پاچاهانو او غزنوي حکومت ترمنځ شخړې او منازعې :

هر کله چه د سلطان شهاب الدین غوري ابتدائي حالات او وروستني انکشافات او پرمختګونه او په تیره د ده د پلار سلطان بهاء الدین سام او د ده د کاکاګانو حالات د هغه عصر له غزنوي حکومت سره مستقیمه رابطه لري او هم په دغه عصر کښې دغوري کورنۍ انکشاف او ترقۍ دغوري پاچاهانو او غزنوي حکومت ترمنځ شخړو او منازعو په نتیجه کښې منځ ته راغلی .

یعنې هغه وخت چه غوري شاهانو غزنوي حکومت له منځه لرې کړ او هغه موانع چه دغزنوي پاچاهانو له خوا به په هرعصر کښې دغوریانو په مخ کښې پیدا کېدل په دغو وختو کښې دغور پاچاهانو له مخې وایستل او هرلوري ته ئې مخه خلاصه شوه، نو دوی وکولای شو چه دخپل خیال سره سم او بخپله خوښه خپل کړونه انجام او خپلې آرزوګانې سرته ورسوي نو ضروري ده چه په دغه عصر کښې دغوري پاچاهانو او غزنوي حکومت ترمنځ واقعات او پېښې په مختصر ډول بیان او وڅېړو .

او له هم دغې لارې د سلطان شهاب الدین غوري پرکارنامو او له هغو څخه پیداشویو نتیجو باندې ښه رڼا اچوو .

کله چه دغور ملك اعزالدین نومې پاچا وفات شو له ده څخه او وه زامن پاته شول او دا اوه ورونه هریو دښه لیاقت خاوندان وه لکه چه ددوی دلیاقت او شهرت له امله مؤرخینو هغوی (اوه ستوري) بللی دي .

دا اوه ورونه ملك فخرالدین او ملك قطب الدین او سیف الدین او بهاءالدین او علاءالدین حسین او ناصرالدین محمد او شجاع الدین علي نومېدل.

دوی د پلار له مړینې څخه وروسته خپل ملك په داسې ډول پخپل منځ کښې سره تقسیم کړ : ملك فخرالدین چه ددوی مشر ورور ؤ د بامیانو او تخارستان پاچا شو او ملك قطب الدین چه په ملك الجبال ملقب ؤ دغور په مرکز فیروز کوه کښې پاچا شو او سیف الدین سوري داستیه حاکم شو او بهاءالدین سام دسنګه دولایت والی

شو او علاءالدین د وجیه د ولایت حاکم شو. او ناصرالدین محمد د ماد ین د ولایت حاکم وټاکل شو او شجاع الدین علی د کش د ولایت حکمران شو.

له همدې تاریخ څخه وروسته داسې پېښې او تصادفونه پیښ شوی چې د غوري او غزنوي کورنیو ترمنځ د ډیرې شدیدې دښمنۍ اسباب وګرزي.

دغوریانو اوغزنویانو ترمنځ د دښمنۍ لومړۍ پېښې او علت:

دغوري وروڼو ترویش لږ موده وروسته د فیروزکوه پاچاملك الجبال قطب الدین په کوم سبب له خپلو وروڼو څخه خپه شو د فیروزکوه حکومت ئې پرېښود غزني ته ولاړ.

په دغه عصر کښې د سبکتګین د کورنۍ څخه بهرامشاه په غزنی کښې پاچا ؤ وایي: چه دغور شاهزاده ملك قطب الدین خورا ښایسته او خلیق ځوان ؤ، او ښه جواد و سخي طبیعته سړی ؤ، له واردینو او نورو خلکو سره به ئې احسان او ښه وضعیتونه کول او ده د ښه خوی او ښو وضعیتونو او مېلمه پالنې په وجه به د غزني او خو اوشا خلك ډېر ده ته را تلل او هروخت به د ده په ځای کښې د خلکو ګڼه او راتګ زیات ؤ.

د قطب الدین غوري ځای ته د خلکو دا ډول ګڼه راتګ ځینو مغرضینو په داسې ډول بهرامشاه ته ترجمه او تفسیر کړ: (چه دغور شهزاده قطب الدین خیال لري چه خلك پر ځان راغونډ او له ځان سره متفق کړي او کوم وخت تاسي ته انقلاب جوړ او له تاسي څخه حکومت واخلي).

داسې ړوند دغزني د پاچا بهرامشاه په مغزو کښې هم کارګر واقع شو، نو بهرامشاه د نوموړي قطب الدین غوري د مرګ تدبیر وکړ او دغه غوري شاهزاده ئې د زهرو په ذریعه ووژه. (۰۰۰۰ هـ)

د دغې مهمې پېښې خبر چه دغور مرکز فیروزکوه ته ورسید او په دې وخت کښې د قطب الدین بل ورور سلطان سیف الدین سوري په فیروزکوه کښې پاچا ؤ، نوموړي سیف الدین د خپل ورور په مرګ زیات متأثر شو او په دغه اثر ئې خورا قوي لښکر تشکیل او تیار کړ او په ډېر قهر ئې پر غزني باندې یرغل راوړ په فیروزکوه کښې ئې بل ورور سلطان بهاءالدین سام پر خپل ځای کښېناوه. بهرامشاه هم د هغه مقابلې ته ورغی او جګړه و ښته خود خونړیو جګړو په نتیجه کښې د غور لښکرې بریالۍ شوې سلطان سیف الدین سوري غزني تصرف کړ. غزنوي بهرامشاه

مغلوب او په تېښته لاهور ته ولاړ (۰۰۰۰ ه) سلطان سيف الدين سوري دغزني پاچا شو . نو موړی سيف الدين له خپل ېر باليتوب څخه وروسته دغور لښکري چه له ده سره وې بيرته غور ته رخصت کړې او دغزني پر خلکو ئې اعتماد وکړ ، له غزنويانو څخه ئې عساکر ونيول ، دښار او خواوشا ېيري ئې هم ټول د غزني له خلکو څخه مقرر کړل . غزنويانو هم په ظاهره له سلطان سيف الدين سره دوستي ښکاره کوله خو په پټه ئې له بهرامشاه سره مراسلې لرلې . (۱)

دغوريانو او غزنويانو ترمنځ د دښمنۍ دوهمه پېښه :

لومړی انقلاب په پوره ډول صورت عملي شو او د آل سبکتګين د امپراتورۍ د تقربياد وو پېړيو پای تخت غزني دغوري سلاطينو په لاس کښې ولويد . خو کله چه دژمي موسم را ورسېد او هوا هم خپل اقتدار وښود ، دافغانستان هېوادسر تر پايه له سپينو واورو څخه ډک شو ، په تېره دغور په غرو او درو کښې داسې واورې پرېوتې چه انسانان ئې په خپلو خپلو ځايو کښې محاصره او له خوځېدو څخه ئې پاته کړل .

په دې وخت کښې دغزني خلکو خپل پټ مافي الضمير رازاو طرفدارې د مکتوب په ذريعه لاهور ته بهرامشاه ته واستوله او دا کيفيت بې ټول ورته څرګند کړ ، او په بېړه ئې د غزني خواته دده هجوم او لښکر کښې وغوښته او دا ئې هم وښوو له چه غوري لښکري له سلطان سيف الدين سره نشته او بايد ژر ځان را ورسوي .

بهرامشاه هم په خورا چټکۍ سره لښکر تيار او په ډېره چابکۍ له زياتو لښکرو سره غزني ته را ورسېد پر غزني ئې حمله وکړه . او دسيف الدين غزنويان سپاهيان ټول بهرامشاه ته تسليم شول . بهرامشاه بې له کوم جنګك او مقابلې څخه غزني ته داخل شو او خپل پلارنی پای تخت ئې بير ته تصرف کړ . (۰۰۰۰ ه)

دوه فرسخه د بهرامشاه لښکري له ښار څخه لرې وې چه سلطان سيف الدين د بهرامشاه په هجوم خبر شو ، نو له خپل وزير سيد مجد الدين موسوي او خپلو ا پو غوري سپاهيانو سره له ښار څخه خارج او د زمين داور خواته فرار شو . خود بهرام شاه لښکري

---

(۱) طبقات ناصري ۱۱۳ مخ تاريخ فرشته اول ټوك ۵۱ مخ .

له‌شاور پسی ورتې دده تعقیب ئې وکړ څود (سوری ډبرې) (۱) په حدودو کښې د بهرام شاه لښکریان په سلطان سیف الدین پسی ورسیدل ، غوري پاچا او دده وزیر سید مجد الدین موسوی ئې ا سیر په لاس ر اوستل غزنی ته ئې بندیان راوستل . (۰۰۰ ه) په غزنی کښې بهرام شاه نوموړی غوري پاچا اودهغه وزیر سید مجد الدین دواړه پراوښانو سپاره کړل په ښار کښې ئې وګرزول او په داسی توګه ئې تشهیر او فضیحت کړل چه له بامو څخه به ښځو ایرې او خاکروبی ور باندې راشیندلی هلکان او خلك به له شا پسی روان وو ، سپکې سپورې به ئې ورم کولې او ویلې .

له هغه‌وروسته ئې د بهرام شاه په حکم سیف الدین او سیدمجدالدین دواړه دغزنی دسین په پول پورې غرغره کړل (۰۰۰ ه) (۲) دغه پیښه دغوریانو او غزنویانو ترمنځ د دښمنی خورالوی عامل شو ، چه‌نتیجه ئې دغزنویانو د حکومت خاتمه شوه .

دغوریانو او غزنویانو ترمنځ ددښمنی دریمه پېښه :

د سلطان سیف الدین او دهغه دوزیر دمرګ او په داسی د فضیحت په توګه وژلو خبر چه فیروزکوه ته ورسید په غور کښې زیات ویر او غمجنی جوړه شوه نو دفیروزکوه پاچا سلطان بهاء الدین سام دزیات غم اوغصې په حال کښې چه دخپلو ورونو د وفات‌ئې هم وانه‌خیسته . بیا ئې دغور لښکرې راټولی کړې او د فیروزکوه کښې ئې بل ورور سلطان علاء الدین حسین پرخپل ځای کښیناوه ، ده دخپلو دوو ، ورونو

---

(۱) د سوری ډبرې یادونه دهغه عصر د تاریخی واقعاتو په ترڅ کښې‌موږ ر خپنو څو ځایه کړې د ه. او داسو ر ی ډبره دزابل د قلات د مرکز جنوب ته خواته تقریباً شپږ کروه لری دسیوری په منطقه کښې دښه بولان دغره په لوید یځه پوزه کښې پرته ده . او دهغې پخوانی عمومی لیارې چه له غزنی څخه قندهار ته تلمای د . شمالی اړخ ته پرته ده او دا لیاره په پخوا زمانو کښې دغزنی او قندهار ترمنځ عمومی لویه لار وه کابل مجله ۰۰ ګڼه

(۲) طبقات ناصری ۱۹۳ مخ . روضة الصفا ٤ ټوك ٨٨٤ مخ تاریخ فرشته اول جلد ٥١ مخ .

دانتقام اخستلو په غرض دغزنی پرخوا یرغل یووړه، اووایی : سلطان بهاءالدین سام چه زیات غیرتی سړی ؤ، دداسی غمونو او ډیرې غصې او خپګان له امله په لیارې ناجوړه شو او «کیدان» (۱) په سیمه کښې وفات شو (۰۰۰ ه) (۲)

دسلطان بهاءالدین مرګ هم په دغه لیاره کښې پیښ شو ګواکی دا د ریم سړی ؤ چه په همدې لیاره کښې تلف شو .

د بهاءالدین سام لښکرې چه بې سره شوې نو بیرته پر شا وګرزیدلې غورته ستنې شوې .

دا ـ رې سره پیښې یعنی د بهرامشاه له خوا دملك الجبال قطب الدین غوری وژل کیدل او سلطان سیفالدین سوری او ، هغه دوزیر سیدمجد الدین موسوی تشهیر اووژل کیدل، دریم دغزنی خواته د یرغل په لیاره کښې د سلطان بهاءالدین سام مړینه ؤولې ، غوری پاچاهانو ، سخت انزجار اوخوځیدنې موجب شوې اود، وی او غزنوی حکومت ترمنځ دخورا ستري دښمنۍ اوزورور وشخړوسبب شوې چه دهغو په نتیجه کښې دغزنوی امپراتورۍ د بڼخی لهمنځه وړلواونوم ونښان ورك کیدلو ته ورسیدې .

دسلطان علاء الدین او بهرام شاه ترمنځ شخړی :

په دغه وخت کښې په فیروز کوه کښې سلطان علاءالدین پاچاؤ . وایی : چه سلطان علاءالدین له ډیری غصې او غیرت څخه د ورور فاتحه وانه خیسته او په بیړه ئې دخورا قوی او لوی لښکر په غونډو لو پیل وکړ ، دغور اوغرځستان لهټولو سیمو څخه ئې لښکرې راټولې کړې سلطان علاءالدین چه خوراقوی لښکر تیار کړ، نوئې د زمین داور له لیاې غزنی پرخوا هجوم راووړ . (۰۰۰ ه)

غزنوی بهرام شاه هم چه حتماً داوضاعو مراقب ؤ اودغوراوغوریانو خو ځیدنی ته په دقت څارو ؤ ، نو ده هم زیات قوی او زورور لښکر تیار کړی ؤ ، لهلاهور او پنجاب څخه ئې جنګی پیلان او زیاتی هندی لښکری راوستلې د لویو جګړو

---

(۱) کیدان دغزنی او بامیانو ترمنځ کوم ځای اوسیمه وه خواوس دا نوم نشته ښایی داسیمه داوسنی بیسود سیمه وی اودغوریانو په تاریخ کی ا سیمه ډیره معروفه ده اوډیر نومیالی رجال یی لرل .

(۲) طبقات ناصری ۵۱ مخ .

دپاره ئې ښه تیاري کړې وه . بهرام شاه پیش قدمی و کړه خپلې لښکرې ئې دزمین داور حدودوته وروستې او هغه حدته یې دسلطان علاءالدین غوری له لښکرو سره دمقابلې دپاره ځان ورساوه :

سلطان علاءالدین غوری ته دبهرام شاه پیغام :

په دغه وخت کښې چه ددغو زورورو لښکرو ترمنځ دمقابلې او خونړۍ جګړې نیټه نیژدې شوه نوغزنوی بهرام شاه یو تهدید آمیزه او ویره وونکی مکتوب دغورپاچا سلطان علاءالدین ته واستاوه پهدې مضمون :
(صلاح تو درآنست که ازین اراده بی حاصل باز گردی ، زیرا چند ین هزار پهلوان شیرافگن وفیلان آهنین تن را برای استیصال تومهیا کرده ام از مقابله من به پرهیز ودست در دامن ستیز میاو یز تا یکبار ه دو د مان سلا طین غور یه مندرس ومنعدم نگردد .)

سلطان علاءالدین حسین غوری بهرام شاه ته په دې مضمون ځواب ورکړ :

(داکار چه له بهرام شاه څخه صادر شوی دی د غزنویا نو دزوال نخښه ده ځکه چه پاچاهان یو دبل پر ملکو نو باندی لښکر کښی کوی او چه یو ه پر بل بری ومومی نولایق اشخاص او نور ئې له منځه وړی ، اما نه په داسی رسوائی اوفضیحت . اوزه یقین لرم چه زمانه به دمکافات اوعبرت دپاره له تاڅخه انتقام واخلی اوماته به پر تا باندې ظفر او بری راکړی لکه چه خدای تعالی فرمائی :

ومن قتل مظلوماً فقد جعلنا لولیه سلطانا فلا یسرف فی القتل انه کان منصوراً

او لیکلی ئې وو ، که ته پیل لرې زه خرمیل (۱) لرم (۲)

کوم وخت چه دبهرام شاه استازی بیرته راغی اودسلطان علاءالدین له خوائې دده دپیغام ځواب راووړ که څه هم په ظاهر کښې بهرام شاه متغیر نه شو ، خو په پټه زیات متاثر او زیاته ویره ورته پیداشوه .

---

(۱) دسلطان علاءالدین په سپاه کښې دوه پهلوانان ووچه خرمیل نومیدل دا دوه نفره په غور کښې په شجاعت اوزور ممتاز وو ـ چه پیلان به ئې ماتول .

(۲) طبقات ناصری ۵۶ مخ تاریخ فرشته اول جلد ۵۱ ـ روضة الصفا ـ ۸۸٤ مخ

تله چه د دواړو خواوو ترمنځ جګړه ونښته د بهرام شاه جنګي پيلانو حمله وکړه دمقابلې خوا خرميلان هم ميدان ته راغلل ، يو خرميل چه دجنګي پيل تر ګيډې لاندې شو پيل ئې په خپله کښې په (دشنه) (۱) ووهه ، د پيل خېټه ئې څيرې کړه خو پيل پر خرميل ولويد دواړه مړه شول . او بل خرميل چه بل پيل په خپله کښې ووهه پيل يې وواژه او دى روغ پاته شو .

(يعنې په دغه جګړه کښې پيلانو د ومره تاثير نه لاره) سلطان علاءالدين او د ده لښکرو په يوه هجوم د بهرام شاه پر لښکرو حملهٔ وکړه او د بهرام شاه زوى « دولت شاه» چه د لښکرو سپه سالار ؤ په دغه ميدان کښې ووژل شو ، نو د بهرام شاه زړه ولويد ماتې يې وکړه ، خود وهم محل بيا بهرام شاه تګين آباد ته نژدې د«ګرماب» په حد کښې توقف وکړ او مقابله ئې وکړه خو بيا مات شو او دغزنى خواته ولاړ ، علاء الدين په چټکۍ ور پسې ؤ ، غزنى ته نژدې بيا بهرام شاه تيار که له غورى لښکر و سره ئې جنګ وکړ خو بيا مغلوب شو ، نو بهرام شاه د هندوستان خواه پاتښته ولاړ سمدستى علاءالدين غزنى فتح کړ (۵۵۰ ه) او دسبکتګين دکورنې د پاچاهانو عمارات او ودانۍ ئې چه په غزنى کښې وې ټولې تخريب او وسو محو لې (۲)

سلطان علاءالدين چه غزنى فتح کړ نو ئې دافخريه (وياړنه) وو يله :

جهان داند که من شاه جهانم — چراغ دودهٔ عباسيانم
علاء الدين حسين بن حسينم — که دائم باد ملک خاندانم
که بادا مح زن ګرد سپا هم — اجل بازى کرنو ک سنانم
چو بر ګلګون دو لت بر نشينم — يکى باشد زمين و آسمانم
همه عالم بګردم چون سکندر — بهر کشور شهى ديګر نشانم
بران بودم که از او باش غزنين — چو رود نيل جوى خون برانم
وليکن ګنده پيرانندو اطفال — شفاعت مى کنند بخت جوانم
به بخشيدم بديشان جان ايشان — که با دا جان شان پيوندجانم

(۱) دشنه : دغه عصرى ډول حربه او يو ډول خنجر ؤ برهان قاطع ۱۶۷ مخ

(۲) طبقات ناصرى د کابل چاپ ۵۷ مخ ـ تاريخ فرشته اول ټوک ۵۲ مخ ـ روضة الصفا ۴ج ۵۸۸ مخ .

اوده و ویل چه دغزنی نور خلك می بخښلی دی .

اودخپلو ورو قومونو چي لهقبرو شخه وکښل به تابوتو نوکښي ئې له غزنی شخه غور ته یووړل به خپله پلار نی هدیره کښي ئې خاو رو ته و سپارل . دی ددا ور او بست لهلاری بیرته غورته و لاړ کله چه سلطان علاءالدین حسین غور ته ورسید بیائې یوه بله ویاړنه وویله :

آنم که هست فخر زعدلم زمانه را	آنم که هستجور ز بذلم خزانه را
انگشت دست خویش بدندان کند عدو	چون بر زه کمان نهم انگشتوانه
چوجست خانه خانه کمیتم میان صف	دشمن زکوی بازند انست خانه را
بهرامشه بکینهٔ من چون کمان کیشد	کندم بکینه از کمر او کنانه را
پشتی خصم گرچه همهرای ورانه بود	کردم بگرز خورد سر رای ورانه را
کین توختن به تیغ درآموختم کنون	شاهان روزگارو ملوك زمانه را
ای مطرب به یمچو فارغ شدم زجنگك	بر گوی قول راو بیارآن ترانهرا
دولت چو بر کشید نشاید فرو گذاشت	قول مغنی و می صاف مغانه را(۱)

❋ ❋ ❋

دغوری پاچاهی کورنی او دغزنوی امپراطوری دورو ستنیو پاچاهانو تر منځ شخړو او منازعو یولوی تحول منځ تهراووست او ددغو شخړو په نتیجه کښي دغزنوی سلاطینو خورا ستري او په منځنی اشیا کښي ډیري نامداری امپراطوری سقوط وکړ اوله هغه وروسته غوری پاچاهانو زیاته ترقی وکړه په تیره سلطان شهاب الدین غوری دغزنوی امپراطوری په مرکز غزنی کښي ځای ونیو اوقول هندئ فتح کړ اودهند چین ترسر حدو پوری ورسیداو دهند پهمرکز ډیلی کښي ئې دبیننني اسلامی امپراطوری اساس کښیښود او په قوله نړیه کښي دبیننو دغوری کورنی نوم مشهور او خپور شو ددغې موضوع دهمدغه جهانی شهرت پهاثر زمونږ یوخو ښوډږی ادیب اود تاریخ عالم (ښاغلی خلیلی) دامو ضوع دداستان پهډول په شعر کړي او دخپلو اشعارو په مجموعه کښي ئې چاپ کړي ده .

ماهم هغه داستان چه د سلطان علاءالدین حسین غوری او بهرام شاه غزنوی دمنازعواو شخړو ښه تصویرری دلته مناسب و باله اورا نقل می کړ .

---

(۱)طبقات ناصری د کابل چاپ ۵۸ ـ ۵۹ مخونه .

دسلطان علاء الدین او بهرامشاه غزنوی داستان

بهرام شاه ته دسلطان علاء الدین مکتوب :

بنام خداوند گردان سپهر	فروزندهٔ مشعل ماه و مهر
بارض مقدس به بیت الحرام	بمهد محمد علیه السلام
به غور بلند و حصار بلند	که از چرخ گردان نه بیند گزند
سپس بر تو ای پادشاه گزین	شهنشاه غزنه شه راستین
نه ما و تو فرزند یك ملتیم	همایون همایان یك دولتیم
دو سرو ویم از یك چمن خاسته	دو باغیم یکرنگ پیراسته
دو آهو چمیده بیك مرغزار	چمن پرور فیض یك نو بهار
دریغ آیدم بر تو شاه جوان	که بر کین خود خود به بستی میان
بیازی به پیکار شیر آمدی	بخونی دلیران دلیر آمدی
بدان شیر سوزد دل روزگار	که در مهد شیران نماید شکار
ترا تخت محمود مغرور کرد	ز آئین مردانگی دور کرد
نه ترسیدی از فرو نیروی من	ز مردان فولاد بازوی من
که خون ریختی نو جوان مرا	مهین بازوی مهربانان مرا
دریغت نیامد ز بالای او	ازان برز و بازوی زیبای او
شه پاك دل خسرو هوشمند	پناهندگان را نگیرد به بند (۱)
پناهنده کشتن در آئین نبود	در آئین شاهان پیشین نبود
جهانگر ترا داد شاهنشهی	مرا نیز داده فر و فرهی
سپهر برین داده یکسان شکوه	به فیروزه کاخ و بفیروزه کوه
تو گر مردی ای شاه دشمن شکن	به شمشیر خود پشت دشمن شکن
ز بیگانگان ملك پیشین ستان	خراج از شه روم واز چین ستان
ترا چرخ و پیلان انبوه داد	شکوه مرا تکیه بر کوه داد
ز کهسار من کمترین بازها	ز گردون شود بر به پروازها
غزالان من کار شیری کنند	به شیران جنگی دلیری کنند
کنون ای شهنشاه آگاه باش	سپاه مرا چشم بر راه باش
چو آهنگ خون برادر کنم	سراپای غزنه بخون تر کنم
در آتش کشم ملك محمود را	بشویم بخون تخت مسعود را

---

(۱) اشاره ده دشاهزاده قطب الدین مرگ ته چه بهرامشاه وواژه .

نه‌غزنه بمانم نه‌کاخ بلند
نه آن پرچم آسمانی پرند

شبستان فیروز گلگلون کنم
بناهای برجسته‌واژون کنم (۱)

سلطان علاءالدین غوری ته‌دسلطان بهرامشاه پیغام:

پس از نام دادار چرخ برین
خدای جهان داور راستین

به پیغمبر پاك و آیین او
که گیتی است فرخنده از دین او

به نام بزرگان پیشین ما
نیاکان با دانش و دین ما

سپس بر تو ای کشور آرای غور
شه نامجو مرزبان غیور

نه‌بینی که گیتی به‌فرمان ماست
جهان فرخ از فر مردان ماست

درین مهد نام آوران تا ابد
فلك سکه بر نام ما میزند

کند زیور دفتر روزگار
زعنوان ما کلك لیل و نهار

سر رایت ما به کیوان رسد
علم ها بگردون گردان رسد

شه‌دیلمان ۱) بندهٔ کوی ماست
همه‌گردنان رام بازوی ماست

قدرخان (۲) زپابوس این بارگاه
به‌اوج برین می نهد تکیه‌گاه

مهین نام ما را به مشکین علم
خلیفه به بغداد سازد رقم

غلامان ما کوس شاهی زدند
نواهای فرمان روایی زدند

کشد کنگر کاخ ما برسپهر
سراپرده‌د کشور ماه ومهر

چه باشی تو ای مرزبان جوان
که بر کین ما باز بندی میان

نه‌ترسی که با شیر مستی کنی
به‌تند اژدها چیره دستی کنی

گوزن جوان گرچه باشد دلیر
به‌بازی نیاید به‌پیکار شیر

مبر نام این مرز فرزانگان
به‌آیین گستاخ بیگانگان

نیای تو بودند پیمان درست
بدین مهد مینوز روز نخست

عنان باز کش زین تمنا خویش
زه اندازه بیرون منه پای خویش

مکن سرکشی اندکی رام شو
زمستی بخویش آی و آرام شو

تراگر جهان داده کوه بلند
عقابان مارا چه باشد گزند

بکوه گران تکیه نتوان نمود
که در هر فرازش بود صد فرود

دلیران مارا نماند به چنگ
چوابریشم تافته کوه و سنگ

جهان رانشم چون بلند آفتاب
بخورشید تابان چه کوه وچه آب

عنان باز کش تا نگردم سوار
نه‌انگیزم از کوه و کاخت غبار

۱ـ اشعار استاد خلیلی ۴۳۶ـ۴۳۷ مخ.

سراپرده از غزنه بیرون کشم — همه مرز بوم تو در خون کشم
بخاك افگنم کاخ فیروز کوه — که فیروز گون چرخ گرد ستوه (۱)

دسلطان علاءالدین غوری او غزنوی بهرام شاه جنگ:

دو سیلی خروشان بهم در شتاب — یکی سیل آتش یکی سیل آب
دو پرچم عیان چون دو سرو بلند — بدیبای گلگون بمشکین پرند
دو برق جهنده بهم در ستیز — یکی آتش افشان یکی شعله ریز
بیرون جسته از دیدگان دو شاه — دو دارای دولت دو دارای آگاه
شه غزنه بهرامشاه دلیر — برآراسته تن بپیکر دار شیر
بسر بر نهاده فروزنده تاج — زهر گوهرش کشوری را خراج
همان تاج محمود گیتی ستان — شه شرق فرمانروای جهان
جهانسوز سلطان جنگ آزمای — چو تنداژدهائی ستاده بپای
به گلگون قبا پیکر آراسته — به پیچاده گون جامه پیراسته
هیون سرخ برسرخ ودیباج سرخ — سر نیزه و درة التاج سرخ
که گر خون روان گردد از پیکرش — نیفتد بران دیدهٔ لشکرش (۲)
شتابنده اسپان صحرانورد — بگردون گردان بر افشانده گرد
ز گرد سواران شده ناپدید — سپهر فروزان و روز سپید
فضا چون یکی خیمهٔ قیر گون — بداما ن او بر شده نقش خون
نهیب جوانان چون غرنده رود — گهی از فراز گهی از فرود
یکی بانگ میزد که هان ای سپاه — نهگدار آئین تیغ و کلاه
شتابی که سیلاب خارا گذار — زهم بشکند پایهٔ این حصار
دو یغما که ایران محمود را — سراپرده و گاه مسعود را
دلیران غوری بخون تر کنند — همان کاخ با خاك همسر کنند
یکی می خروشید چون تند شیر — که هان ای سران ای سپاه دلیر
بخون سپهدار بر نای خویش — بجنبید یك باره از جای خویش
به بنیاد دشمن شکست آورید — سر چیره دستان بدست آورید (۳)

---

(۱) اشعار استاد خلیلی ۴۴۰ــ ۴۴۱ مخونه.

(۲) وایی چه سلطان علاء الدین د جنگ په وخت کښې سری جامې اغوستې وې د دې دپاره چه که دی زخمی شی او ده برسر و جامو باندې وینې ښکاره نشی چه دده د عسکرو زړه ونه لویږي. طبقات ناصری د کابل چاپ ۵۷ مخ.

(۳) اشعار استاد خلیلی ۴۴۴ــ۴۴۵ مخونه.

په روضة الصفا کښې راوړي:

ځينو مؤرخينو ليکلي دي چه د غوريانو او د غزنويانو د دښمنۍ او عداوت منشأ له هغه وخت څخه پيدا شوې ده چه سلطان محمود غزنوي پر محمد سوري حمله وکړه او هغه ئې په عهد و نيو او بندي ئې کړ او نوموړي محمد سوري د غليم په لاس کښې اسارت نشو زغملای نو يې زهر و خوړل او مړ شو. (۱)

او د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني چه د غوري سلطان غياث الدين محمد سام او سلطان معز الدين سام غوري معاصر دی او د هغو له احوالو څخه پوره معلومات لري او د هغو تاريخ ئې هم د خپلو معلوماتو له مخې ليکلی دی.

وائي: چه «تکيناباد». (۲) چه د گرمسير له ښارو څخه يو ښار و او دا هغه ځای دی چه د آل سبکتگين د کورنۍ او د غوري سلاطينو ترمنځ د منازعو او دښمنيو سبب شوی دی. يعنې کوم وخت چه دا ښار د غوري سلاطينو لاس ته ورغی نو په دغه اثر د غزنوي پاچاهانو او غوري پاچهانو په منځ کښې د جگړو او شخړو منشأ پيدا شوه،

لکه چه په دغه باب کښې سلطان علاؤالدين غوري يوه رباعي ويلې ده او د بهرام شاه غزنوي زوی خسروشاه ته ئې استولې ده:

اول پدرت نهاد کين را بنياد تا خلق جهان جمله به بيداد افتاد

هان تا ننهی ز بهر يك «تکيناباد» سر تا سر ملك آل محمود بباد (۳)

سلطان علاؤالدين غوري هغه وخت دا رباعي ويلې او خسروشاه ته ئې استولې وه چه خسروشاه د خپل پلار بهرام شاه له مرگ څخه وروسته د غزني پر تخت کښېناست او غوښتل ئې چه گرمسير او د تکيناباد ښار چه د سلطان محمود غزنوي له زمانې څخه د غزنويانو په لاس کښې و او هم په دغه سيمه کښې د غزنويانو عسکري اډه او لښکرگاه هم وه بيا په لاس وروړي، خو سلطان علاؤالدين دی ممانعت کړ چه د يو تکيناباد له امله د آل محمود ټول ملك برباد نکړي.

د سلطان علاؤالدين له دغې رباعي څخه هم دا څرگنديږي چه د غوريانو په لاس کښې د تکيناباد ښار لويدل هم د دوی ترمنځ د دښمنۍ يو علت و

---

(۱) روضة الصفا ٤ جلد ۳۷ مخ.

(۲) د تکيناباد د ښار په باب کښې يوا ځې دومره معلومات په لاس راغلي دي چه د گرمسير يو ستر ښار و نور څه نښته چه په کومه نقطه کښې و او دا نوم په کومه وجه پرې ايښود شوی دی

(۳) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٦٥ مخ.

د سلطان شهاب الدين حيات تر سلطنت د مخه

سلطان شهاب الدين د سلطان بهاء الدين سام زوی د ملک عزالدين حسين لمسی و. لکه چه وړاندې یادونه وشوه هغه وخت چه د دې معظم پلار سلطان بهاء الدين سام د خپلو ورونو د انتقام اخیستلو په غرض لښکري تیاري کړې په دغه وخت کښې ئې د غور زړه مرکز کښې پر خپل ځای خپل ورور سلطان علاؤ الدين حسين کښېناوه او خپل زامن شهاب الدين محمد او غياث الدين محمد سام ئې نوموړي سلطان علاء الدين ته وسپارل. (۱) غياث الدين او شهاب الدين دواړه ورونه د پلار له مړینې څخه وروسته د خپل کاکا سلطان علاء الدين تر روزنه لاندې وو.

لکه چه سلطان علاء الدين د ستر شجاعت او عالي همت خاوند و چه له همدې لارې د آل محمود په مقابل کښې بریالی شو او د هغو نامداره او قوي امپراتوري ئې و نړوله او د غوري پاچاهانو نوم ئې په ټوله نړۍ کښې لوړ او مشهور کړ. په همدغه شان د غور دواړو ورونو هم د خپل دغه کاکا له خصائلو څخه عکس اخیستی او د هغه په رنگ رنگیدلي او د هغه عالي افکارو او کارونو د دوی په مغز و کښې ځای نیولی و نو دوی هم په خپل وار د خپل غوري شاهي ټبر نوم له هغه څخه لا زیات لوړ کړ لکه چه د دوی ممتازې کارنامې په تاریخ کې ثبتې دي.

د سلطان شهاب الدين مور:

د سلطان غياث الدين او سلطان شهاب الدين مور ملکه کیدان وه ملکه کیدان د ملک بدرالدين کیداني لور وه دا ملکه هم په نسب شنسباني وه یعني د دې د نسب سلسله د غوري پاچاهانو نیکه ملک شنسب ته رسیده دا ملکه د سلطان بهاء الدين سام مانديڼه وه له دغې میرمنې څخه سلطان بهاؤ الدين سام دوه زامن غياث الدين او شهاب الدين او دري لوڼې لرلې. (۲)

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۳۹۹ مخ

(۲) طبقات ناصري ٤١٦ مخ.

د شهاب الدين حبس :

د طبقات ناصری مؤلف ليکی :

هغه وخت چه سلطان علاءالدين حسين د غزنی له فتح څخه وروسته بیرته غور ته راغلی او د فیروزکوه پر تخت کښیناست خپل دوا لږه وریرونه غیاث الدین محمد سام او شهاب محمد سام ئې چه د سلطان بهاء الدين سام زامن وو . د وجیرستان (۱) په کلا کښې بندیان کړل او د دوی د پاره ئې د دوی د گذاری او معیشت په اندازه خرڅ او مصارف مقرر کړل .(۲)

تاریخ فرشته د دغو دوالږو ، وروڼو د حبس علت په دې ډول وائي :

کوم وخت چه سلطان علاءالدين حسين غوری د غزنی له فتح څخه وروسته بیرته غورته راغی ، نو ده خپل وریرونه غیاث الدين محمد او معز الدين محمد د (سنجه) (۳) ولایت ته واستول او د هغه ولایت حکومت ئې دوی ته وسپاره .

خو چه د دغو وروڼو په طبیعت کښې سخاوت او هوا نمردی اخیښلی وه نو هر څه محصولات چه به له دغه حکومت څخه دوی ته راتلل هغه به ئې ټول صرف او خرڅول بلکه د دوی به لانه بس کیدل او له اطرافو او خوا او شا څخه خلکو دوی ته مخه کړه او د دوی نوم به هر ځای کښې خپور شو او په لوړه نامه به یادیدل .

ځینو حاسدانو دا کیفیت په دې ډول د سلطان علاءالدين غوږ ته ورسا وه : چه غیاث الدين او معزالدين د پاچاهی خیال لري او له خلکو سره شناخت او روابط پیدا کوی .

نو سلطان علاءالدين دوی د والږه د غرجستان په کلا کښې بندیان کړل (٤)

او د دوی د بند ځای فرشته د غرجستان کلا وائی او طبقات ناصری د وجیرستان کلا وائی خو چه د طبقات ناصری مؤلف منهاج سراج جوزجانی اصلا د غور او د هغه عصر معاصر سړی دی نو د ده قول صحی او هغه ځای به وجیرستان وی .

---

۱) وجیرستان د غور د مرکز شرقی خوا ته پروت دی چه او سنی نوم ئی اجرستان دی

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۰۸ مخ .

(۳) سنجه ...

(٤) تاریخ فرشته اول ټوک ۵۶ مخ .

ددوی د حبس میعاد:

وایي چه غیاث الدین او معزالدین له هغه وخته څخه چه سلطان علاءالدین بندیان کړي وو په دغه ځای کښې بندیان پاته وو، ترڅو چه سلطان علاءالدین مړ شو، او ددهٔ زوی سلطان سیف الدین د فیروز کوه پر تخت کښیناست .

اول یې د خپل کاکا زامن غیاث الدین او معزالدین د وجیرستان له کلا څخه را خلاص او فیروز کوه ته یې راوستل او ښه یې ونازول او اختیار یې ورکړ چه هرچیرته ځي او یا کوم کار کړي خوښه یې ده (۱)

نو ددغو دواړو وروڼو د بندموده هغه ده چه کوم وخت سلطان علاءالدین بندیان کړل (٥٥٠ه) تر هغې زمانې بندیان وو، چه څو نوموړی پاچا مړ شو او د دهٔ زوی سلطان سیف الدین پاچا شو (٥٥٥ه) او دوی یې خلاص کړل .

شهاب الدین محمد سام په بامیانو کښې :

هغه وخت چه سلطان سیف الدین بن علاءالدین حسین غوري غیاث الدین محمد او معزالدین محمد سام د وجیرستان د کلا له بند څخه را خلاص کړل او پوره واک یې ورکړ په دې وخت کښې غیاث الدین له سلطان سیف الدین سره په غور کښې پاته شو د هغه ملازمت یې غوره کړ او معزالدین (شهاب الدین) له نوموړي سلطان څخه د رخصت واخیست د خپل کاکا ملک فخرالدین مسعود بامیاني حضور ته بامیانو ته ولاړ (۲) معزالدین محمد سام تر هغې زمانې پورې چه د سلطان سیف الدین له مرګ څخه وروسته ددهٔ مشر ورور سلطان غیاث الدین په فیروز کوه کښې پاچا کیده دی په بامیانو کښې د خپل کاکا په خدمت کښې ؤ . کله چه د دهٔ د ورور غیاث الدین د سلطنت خبر بامیانو ته راورسید په دې وخت کښې د بامیانو پاچا ملک فخرالدین، معزالدین ته وویل چه ورور دې په غور کښې پاچا شو ته څه رنګه کوې دلته پاته کیږې که هلته ځې؟ معزالدین د خپل کاکا احترام وکړ ورته یې عرض وکړ که ستاسې اجازه وي زه به فیروز کوه ته ولاړ شم هغه هم اجازه ورکړه. معزالدین له خپل کاکا څخه رخصت واخیست فیروز کوه ته ولاړ (۳) خو په دغه زمانه کښې چه معزالدین په بامیانو کښې ؤ معلومه نه ده چه دلته یې څه وظیفه درلوده او په کوم خدمت مصروف ؤ ؟

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤١٣ مخ روضة الصفا ٤ جلد ٨٨٥ مخ

(۲) طبقات ناصري ٤١٦ مخ .

(۳) طبقات ناصري ٤٦٥ مخ

دشهاب الدين دسپه‌لاري دوره:

معز الدين محمد سام چه د سلطان غياث الدين حضور ته راغی نوموړی سلطان دی د لښکر و سپه‌سالار مقرر کی، او سر بيره پر هغه د استيه او کجوران) (۱) د ولايت حکومت ئی هم ده ته وسپاره (۲) له دې وروسته د شهاب الدين په حيات کښې نوی تحولات راځی او ډول ډول مهم کارونه انجام کوی او په عمومی ډېرو کښې کامياب او بريالی کيږی او دهغو کارونو تفصيل په ځانته لوستونکو ته عرض کيږو.

دسلطان سيف الدين په انتقام دابو العباس شيش وژل:

ابو العباس شيش که څه هم دسلطان غياث الدين د پاچاهی په اولو وختو کښې پخپله د نوموړی سلطان په امر وژل شوی دی، خو شهاب الدين په دغه وخت کښې د سلطان غياث الدين سپه‌سالار و او دابو العباس په وژلو کښې ئې لاس درلود، بلکه چه نوموړی ابو العباس مړشو نو دغور د عسکرو قوماندانی ټوله په شهاب الدين پورې مربوطه او د ټولو لښکرو مستقل سپه‌سالار او په عسکری چارو کښې د پوره واک خاوند شو او له هغه وروسته عسکری چارې ټولې شهاب الدين اجرا کولې، نو په دغه ملاحظه موداموضوع هم د سلطان شهاب الدين په سوانحو کښې وليکله.

دابو العباس دوژلو علت:

ابو العباس شيش د سلطان سيف الدين بن سلطان علاء الدين غوری د لښکر و سپه سالار و او تر دغه تاريخ څه‌مو ده وړاندې د نوموړی ابو العباس مشرورور چه (ورميش بن شيش) نوميداو د غور د لښکرو سپه‌سالار و، سلطان سيف الدين د کوم مرموز علت په وجه وواژه..

د هغه له مرګ څخه وروسته نوموړی ابو العباس شيش د هغه پر ځای د لښکرو سپه سالار شو ځکه داوظيفه او منصب لکه چه وروسته به وليکل شي د دوی موروثی برخه وه ـ۱ و ابو العباس دخپل ورور دو ژلو کينه په زړه کښې پټه ساتلې و ، کوم وخت چه سلطان سيف الدين د «غزانو» (۳) د طايفې دمداغې د پاره د غور

---

(۱) استيه او کجوران...

(۲) طبقات ناصری ۴۱۷ مخ.

(۳) غزان يو ه ترک نژاده طايفه وه او لې څه وروسته به د هغو پوره شرح وکړه شي.

لښکري راټولې کړې او له هغو سره دجګړې په غرض ئې حپلې لښکرې د (مرورود) سیمې ته وروستلې او په همدغه سیمه کښې ئې له غزانو سره په جګړه لاس پورې کړ په دې مهال کښې چه له غلیم سره دغوری لښکر و جګړه روانه وه او سلطان سیف الدین دجګړې په ډګر کښې حاضر پر آس سپور ؤ، نوموړي ابوالعباس دسلطان دشاله خوا راغی سلطان ئې ناڅاپه په نیزه وواهه او دهمدغی ضربې په اثر سلطان له آس څخه ولوید شهید شو

د سلطان سیف الدین له شهادت څخه وروسته ابو العباس شیش دغور نورمشر ان هم قول کړل او غیاث الدین ته چه هغه هم سلطان سیف الدین په لښکرو کښې او دالته حاضرؤ راغی او په دغه ځای د (مرورود) په سیمه کښې ئې له غیاث الدین سره بیعت وکړ ، هغه پاچا شو ه (...)

کله چه سلطان غیاث الدین محمد سام غورته راغی په دې و خت کښې سلطان غیاث الدین او شهاب الدین دخپل کاکازوی سلطان سیف الدین دانتقام اخیستلو دپاره سره مشوره وکړه او دهغه دمرګ دپاره ئې نیته وټاکله او یو سړی ئې دهغه دوژلو دپاره چمتو کړ نو کله چه ابو العباس شیش دربار ته راغی شهاب الدین هغه سړی ته اشاره وکړه هغه هم په دغه ساعت ابو العباس وواژه (۱)

په دې ترتیب سره لمړی ځل د سلطان غیاث الدین دحکومت دشوکت او دبدبې اساس دده دخپل غښتلی ورور شهاب الدین محمد سام دمټ په زور او اساسی ته بیر سره کښیښودل شو او نور بیا دغور دحکومت چارې په هره خوا کښې مخ په ترقۍ ولاړې یعنی عسکری چارې هم ددوی په خپل لاس کښې شوې ۰

د ابو العباس شیش نسب او کورنۍ :

د ابو العباس شیش کورنۍ هم په غور کښې یوه نامتو او لویه کورنۍ وه دده دکورنۍ اشخاص هم په هر عصر کښې د نفوذ او لوی اقتدار خاوندان حتی پخپله دغور له شاهی شنسبانی کورنې سره یې تقریبا برابری کوله لکه چه ددوی دکورنۍ په باب کښې داسی وایی: په غور کښې یوه قبیله وه چه « شیشانیان » یې بلل او داقبیله هم دغوری پاچاهانو خپلوان وو ۰ او دغو شیشانیانو داسی دعوه کوله چه دغور په منطقه کښې ددوی نیکه چه «شیش» نومید ، لومړی اسلام راوړی او تر

---

(۱) طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۱۷ ـ ۴۱۸ مخونه

او دوی لومړی د اسلام مقدس دین قبول کړی دی او د وی دغه شیش ته ځانونه منسوب کول ځانونه یې شیشانیان بلل.

او له همدغه امله چه ددوی نیکه لومړی په اسلام کښې شامل شوی دی نو د شنسب ترکورنۍ یې خپله کورنۍ دغور د سلطنت او امارت مستحقه گڼله او د (امیر بنجی) په عصر کښې د شیشانیانو مشر دادعوه راپورته کړه او دغور د پاچاهۍ غوښتنه یې وکړه نو په دغه اثر د شیشانیانو د مشر او د امیر بنجی شنسبی تر منځ د غور د پاچاهۍ په نسبت نزاع پېښه شوه، نږدې وه چه ددوی نزاع په لویو شخړو او جگړو بدله شی خو په پای کښې دواړه و خوا وو داسی فیصله وکړه چه امیر بنجی او د شیشانیانو مشر دې دواړه دارالخلافه بغداد ته ولاړ شی خلیفه چه هر څوك امیر او پاچا کړ هغه به دغور یانو پاچا وی.

نو دواړه د بغداد دارالخلافه ته ورغلل، په دغه وخت کښې امیرالمومنین هارون الرشید ؤ او دواړو خپله متنازع فیه قصه او خپل مقصود خلیفه ته وو وایه د بغداد خلیفه ددوی تر منځ دا ډول فیصله او سوله وکړه چه د غور امارت او پاچاهی ئې امیر بنجی ته ورکړه

او دغور د لښکرو قوماندانې او د سپه سالارۍ منصب ئې د شیشانیانو مشر ته ورکړ او دغور د پاچاهۍ منشور ئې هم امیر بنجی شنسبی ته ورکړ.

او له هغه عصر څخه تر دغه وخته یعنی د سلطان غیاث الدین او شهاب الدین ترزمانې پورې دغور د لښکرو سپه سالارۍ ددغې غوری شیشانی کورنۍ په لاس کښې وه (۱) نو له همدغه امله به ددغې کورنۍ لو یان هر وخت د غور په خلکو کښې د زیات نفوذ او اعتبار خاوندان وو.

لکه چه له همدغه جهته پېښه شوه چه نوموړی ابوالعباس شیش د غور پاچا سلطان سیف الدین ووژه او بیائې لاهم د سپه سالارۍ منصب په لاس کښې ؤ او چانه شو معزول کولای.

خو چه د سلطان غیاث الدین او شهاب الدین سام په لاس و وژل شو نو د شیشانیانو له عسکری قدرت او زور څخه ئې ځانونه خلاص کړل او له دغه وروسته ټول قدرتونه ددوی په لاس کښې شول.

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۳۸۵ مخ.

شهاب الدين په سيستان کښې :

لکه چه ومانده یاد ونه وشوه شهاب الدین محمد سام د سلطان غیاث الدین له خوا دغور د لښکرو سپاسالار و خو یو کال وروسته په کوم سبب شهاب الدین له سلطان غیاث الدین څخه خپه شو ، نو سیستان ته ولاړ او ملک شمس الدین سیستانی ته ورغی او یو ژمی له هغه سره پاته شو خو سلطان غیاث الدین چه وده جلا کیدل نه غو ښتل ؛ نو ئي کوم مخور شخص استازی په شهاب الدین پسی واستاوه بیرته ئي غورته راوست او د پخوا په شان ئي دسپه سالاری رتبه ورکړه او د کجوران ماڼی او داستیه ولایت ئي هم بیرته نومړی شهاب الدین ته وسپارل (١)

دشهاب الدين د سپه سالارى په اولو وختو کښې د ملک فخرالدين باميانى پيښه :

کله چه سلطان غیاث الدین غوری په غور کښې د فیروز کوه په تخت کښېناست او د غور سلطنتی مرکزئی اشغال کړ ، د بامیانو پاچا ملک فخرالدین چه د دوی کاکا و او له نورو ورونو څخه له ده نه پرته بل څوك نه وو پاته نو مسعودی فخرالدین وویل :

(دغوری کورنی مشر زه یم نو د غور تخت زما حق او ما ته په میراث رسیږی) نو دغور د تخت د نیو د پاره ئي عزم وکړ . او ددغه کار د انجام او په سر رسولو د پاره ئي د بلخ د امیر علاءالدین قماج سنجری (٢) او د هرات له امیر تاج الدین (٣) څخه هم مرسته و غو ښته هغوی هم مرسته ورکړه د بلخ امیر او د هرات امیر دواړو خپلې لښکرې تیاری کړې بامیانو د پاچا له غوښتنې سره سم ئي د غور پر لوری خپلې لښکرې مارش کړې د بامیانو پاچا هم له خپلو لښکرو سره د غور خوا ته پر غل یوووړ (. . . . ه)

سلطان غیاث الدین او شهاب الدین چه د بامیانو د پاچا له داسی عزم او دا ډول پر غلو څخه خبر شول نو دوی هم دغور لښکری له هغو سره دمقابلې د پاره تیاری کړې او دشهاب الدین ترقو ماندانی لاندی یې دمقابلې د کرته وروستلې .

(١) طبقات نا صری ٤٦٥ مخ ـ

(٢) امیر علاء الدین قماج سنجری . . .

(٣) د هرات امیر تاج الدین . . .

د هرات د لښکر وجګړه :

چه هرات غور ته نژدې و نو د تاج الدين لښکرې تر نورو وړمبې د هرې رود له لیارې د فیروز کوه حدودو ته ورسیدې د شهاب الدين لښکرې په (راغ زر) (۱) نومي ځای کښې د هرات لښکرو مخې ته ورغلې او په دغه ځای کښې د دواړو خواوو ترمنځ تو ده جګړه ونښته ، له لږې جنګ څخه وروسته د هرات د لښکرو مشر تاج الدين ووژل شو . د هرات لښکرو چه د غوري جګړې نو زړه ورتوب ولید او له بلې خوا د دوی مشر هم ووژل شو نو بې ماتې وکړه په تیښته یې ځانو نه خلاص کړل . (۱۰۰۰) سلطان غیاث الدين او شهاب الدين چه دا فتح وکړه نو به زړونو کښې ئې قوت او غرور پیداشو او د دوې عزم او اراده نور هم قوي شول

د بلخ د لښکر وجګړه :

سلطان غیاث الدين او سپه سالار شهاب الدين له دغې فتح څخه وروسته سم دستي د بلخ د امیر علاء الدين قماج د لښکرو خواته مخه وکړه د غور له لښکرو څخه یې څو زره جرار او ښاغلي جګړن سپاره تیار کړل او د بلخ د لښکرو مخې ته چه د غرجستان له لیارې د غور خواته را روانې وې ور وستل .

د غوغوري سپرو لښکرو په ناځاپي ډول د قماج بلخي پر لښکرو باندې یرغل وکړ او زیات بلخي لښکریان ئې محوه کړل او په خپله علاء الدين قماج هم په جګړه کې ووژل شو نو ر نو د بلخ لښکرو میدان پرېښود ، و تښتیدې .

د باميانو د لښکرو محاصره :

د باميانو پاچا فخر الدين باميانی ته چه د خپلو مرستیالانو بلخي او هراتي امیرانو د لښکرو د ماتې او بخپله د دوی د واړو ، د وژل کیدو ، خبر ورسید نو سراسیمه شو او نور یې پر مخ تګ بس کړ او خپلو لښکرو ته یې د بیرته پرشا ګرزیدو ، امر ورکړ سلطان غیاث الدين او شهاب الدين چه د و همه فتح وکړه ، سم دستي یې د باميانو پر لښکرو یرغل ورووړ ، او د باميانو پر لښکرو باندې د دوی لښکري راچاپیر شوې د باميانو لښکري یې محاصره کړې .

---

(۱) راغ زر .

سلطان غیاث الدین او سپه سالار شهاب الدین دواړه راغلل د خپل کاکا ملک فخرالدین حضور ته ورغلل له آسوځخه کښته شول د کاکا احترام یې ادا او په اعزازیې په مخ کښې ودریدل .

او خپل کاکا یې خپل لښکرځای ته بوت او پر تخت یې کښېناوه او دواړه ورونه یې په مخ کښې لاس په نامه ودریدل او عرض یې ورته وکړ چه : ته زمونږ پاچا او مونږ به دې نوکران یو .

پدې حال کښې ملک فخرالدین پرځپلو کړو پښېمانه او خجالت شو او په قهر شو دواړو ورونو ته یې ښکنځل او بدو ویل او ورته یې وویل تاسی په ما ملنډې وهئ د ستې ولاړ شو . سلطان غیاث الدین او شهاب الدین دواړه دده په مخ کښې ودریدل او عذری ورته وړاندې کړې او عهدې ورسره وکړې چه ته زمونږ کاکا او زمونږ مولا یې مونږ به هر وخت ستاسی امر منو او ستاسی خدمت به کوو او یو منزل د بامیانو خواته ورسره روان او مشایعت یې ورسره وکړ .

د بامیانو پاچا بامیانو ته ولاړ او دوی بیرته بیا لی فیروز کوه ته راغلل (۱)

سپه سالار شهاب الدین محمد سام په ګرمسیر کښې او دده نور فتوحات

سلطان غیاث الدین او شهاب الدین محمد سام چه د خپل کاکا ملک فخرالدین بامیانی له پېښې څخه فارغ شول ، نو سلطان غیاث الدین نور فتوحات هم وکړل ، د هری رود خواته یې د خپلو مربوطاتو لمن خپره کړه د پر وطنو نه یې و نیول او که څه هم د سلطان غیاث الدین په اکثرو فتوحاتو کښې شهاب الدین محمد سام شامل او دده تر قوماندانی لاندې مغه فتوحات شوی دی ، خو مهم او ستر کار چه د سپه سالار شهاب الدین له خوا اجرا شوی او دده په سوانحو کښې ښکاره او دده عالی همت ښیی ، هغه دده په لاس کښې د ګرمسیر تصرف او د هغه اداره ده ځکه له هم دغه ځایه څخه د نوموړی شهاب الدین نور فعالیتونه شروع کیږی ، اول له دغه وروسته دی لوی لوی کارونه عملي کوی ، او خپل او پردی قول دده اقداماتو ته ملتفت کیږی ، څو په پای کښې دده اقدامات دومره اهمیت پیدا کوی چه سلطان غیاث الدین هم دده د کارونو اهمیت او بزرګی ته قائم کیږی لکه چه لږ وروسته نوموړی سلطان غیاث الدین خپل دغه ورور د غزني پر تخت کښېناوه او دده پاچاهي او استقلال یې په رسمیت و پیژاند .

هغه وخت چه سلطان غیاث الدین شهاب الدین له سیستان څخه راووست او د استیه

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۲۰ مخ

ولایت او قصر کجوران یې ورته وسپارل ، په همدغه عصر کښې سپه سالار شهاب الدین محمد سام غول کرم سیر او د «تکیناباد» ښار چه د کرم سیر ستر ښار و په خپله قبضه کښې راوستل او دغزنې خواته یې مخه کړه د غزنې پر خوا یې یرغلونه شروع کړل . (۱)

دومبې ترد ې چه دشهاب الدین سام له خوا د غزنې دفتح کولو بیان کړو اول دیوې بلې پېښې بیان باید وکړل شي ، چه په هغه عصر کښې زموږ په هیواد کښې پیښه شوې ده چه دغزانو له پېښې څخه عبارت ده . ځکه ترڅو چه ددغې پېښې په خوا وشا کښې پشپړه تفصیل و نه شي ، غزنې ته د شهاب الدین دراسیدلو موضوع پوره نه روښانه کیږي او هم زموږ د هیواد په تاریخ کې د دغې واقعې کشف پخپله هم له فایدې څخه خالي نه دی ځکه معلومه به شي چه په څه توګه پردیو زموږ په خاوره باندې ناروا تجاوز کړی دی . او بیا د شهاب الدین غوري دشجاعت او توري په زور هغوی زموږ له هیواد څخه بیرته صحرا و شړل شوي دي او دا ـ پېښه په ۵۰۰ هـ) کښې د ماوراءالنهر د یوې ترکي نژادي طایفې له خوا چه « غزان » یې بلل د غزنې د مرکز نیول وو .

نو اول باید د غزانو طایفه وپیژنو ، بیا بر غزنې باندې د هغو قبضه کول بیان کړل شي او هم ددغې موضوع اهمیت او فوق العاده ګی څرګند شي .

د غزانو طایفه :

دغزانو طایفه یوه ترکي نژاده طایفه وه . او ددوی شمیر تقریباً څلویښتو زرو کورونو ته رسیدو ، او دغه طایفه پونده او مالداران وو دوی اصلاً دماوراءالنهر او د ترکستان په اخرینو برخو کې د ختلان او چغانیان په ولایت کې اوسیدل . (۲)

کوم وخت د ترکانو یوې بلې قرغزانو مې طایفې چه پر غزانو زور ور ، وو ، پر غزانو باندې یرغل وکړ او ډیری زیانمن کړل او له خپل وطن څخه یې وشړل . نو غزان له خپل وطن څخه فرار ، افغانستان ته راغلل او د «طخارستان» په سیمو کښې میشته شول .

(۱) طبقات ناصري ، د کابل چاپ ۴۲۱ مخ ـ

(۲) ختلان او چغانیان دوې سیمې دي دادواړه سیمې دامو دسیند شمالي خواته پرتې دي ختلان د تخارستان په مقابل کښې او چغانیان د بلخ په مقابل کښې واقع دي له دغو منطقو څخه دغزانو طایفه د پښتونخوا سیمو تخارستان او بلخ ته راغلل . حدود العالم ۲۷ مخ .

بیا د بلخ حاکم چه د سلطان سنجر له خوا هلته حاکم ؤ غزان د بلخ سیمو ته دعوت او راوستل او دهغو رمواوګلوته ئې د بلخ په ځځکو او سمسورو، و رشوګانو کښې ځای ورکړ .

اودسلطان سنجر سلجوقي له‌خوا پرهغو باندې(۲۴) زره پسونه دمحصول په‌ډول مقرر شول چه په ټاکلي وخت به یې هرکال دسلطان دمطبخ د پاره تحویلول او هرکال به یو ما مور ورته ، د ا پسونه ټولول اودسلطان د حیوانانو مخزن‌ته‌به یې راوستل .

له سلطان سنجر سلجوقي سره دغزانو اشخړه :

کوم وخت دسلطان سنجر مامور دمقررو پسونو د جمع کولو د پاره‌غزانو ته ورغی د پسونو دټولولو په نسبت ددغه ما مور اودوی ترمنځ نزاع پېښه شوه چه په پای کښې غزانو د هغه‌مامورسپاهیان‌او نفروو‌ژل اوله‌محصول ورکولو څخه یې‌منع راوده .

سلطان‌سنجر لومړی د بلخ حاکم ته‌امرور کړ چه‌غزان وتر ټي . د بلخ حاکم چه‌پرغزانو باندې لښکرورووست ،غزانو هم‌مقابله ورسره شروع کړه چه‌په نتیجه‌کښې یې د بلخ د حاکم لښکرمات اود بلخ حاکم اودهغه زوی یې هم ووژل .

ددې پېښې له اوریدلو سره‌سم سلطان سنجر دغزانو د ترټلو او زمولو د پاره لښکری تیاری کړې اود غزانو پرطایفه باندې یې یرغل ورووړ (۵۴۸ ه) غزان‌هم چه زیات نفوس اوپوره زور یې درلود په ډیره دلاورۍ دسلطان سنجرد لښکرو مقابلې ته راووتل ، او له زیاتو خونړیو جګړوڅخه وروسته دسلطان لښکر وماتې وکړه او ډیرلښکریان اولوی لوی افسران یې په دغه جګړه کښې ووژل شول . سلطان سنجر پخپله مغلوب بلخ ته و لاړ له هغه ځایه «مروی‌ته » و لاړ غزان بلخ ته پسې ورغلل بلخ یې لوټ او تاراج کړ .

له هغه ځایه مروی ته پسې ورغلل سلطان سنجر یې‌اسیرکړ او ښار اوخزانې یې چور کړې او زیات خلک یې ووژل . له هغه ځایه غزان نیشاپورته پسې ولاړل د نیشاپورښار یې‌هم چور او تاراج کړ . بیا طوس ته پسې ولاړل دطوس ښار یې‌هم چور او لوټ کړ .

لنډه داچه دغزانو طایفې دخراسان ډیرښارونه چوراولوټ کړل او خراسان ددوی دوحشت اوفساد په اثرخراب او تباه شو اوزیات علمأ ، فضلاء او لوی لوی

اشخاص ددوی له‌لاسه محو شول .

پخپله سلطان سنجر څلور کاله دغزانو په‌لاس کښی بندی ؤ خو په (۵۵۱ ﻫ) کښی په کوم ترتیب وتښتید خپل مرکز مروی ته بې ځان ورساوه هلته له ډیره غمه اوغصی څخه ناروغ اومړشو (۵۵۲ ﻫ) .

همدا غزانوو ، چه دسلطـان سنجر سلجوقی د برقوی حکومت بې و نـړاوه او دخراسان اکثری سیمی بې دوه‌ځلی چور اوچپاو کړې اودسلطان سنجر لهمړینې څخه وروسته غزانـو له سلطان محمود سره چه د سلطان سنجر پرځای ناست ؤ ، سختی جگړی وکړې مروېې ورڅخه ونیوله بیا سرخس ته پسی ولاړل هلته بې هم له ده سره جگړی وکړې او ا ولس زره عساکر یې دسلطان محمود ووژل دسرخس اوطوس ښارونه بې چور کړل بیرته مروی ته راغلل اوددوی دفساد او طغیان لمن نوره هم اوږده شوه ، دغور او غرجستان پرسیمو بې‌هم تعرضونه وکړل ، دخلکو مالونه به‌یې لوټول . او په همدغو وختو نوکښی دغورپاچا سلطان‌سیف‌الدین ددوی دمدافعی دپاره لښکری واستلې ، لکه‌چه وړاندی یاده‌شوه نوموړی غوری‌پاچاهم دغزانو په جگړو کښی‌مړشو

وروسته بیاغزانو بیرته خپل پخوانی استوګن ځای بلخ ته راغلل ، او دخطاء له پاچا سره هم وجنګیدل :-

پرغزنی باندی دغزانو حمله او دهغه ښارفتح :

په (۵۵۷) هجری کال دغزانو طایفی له بلخ څخه پرغزنی باندی‌حمله وکړه په‌دغه وخت کښی په غزنی‌کی خسرو شاه پاچاؤ ، اوخسرو شاه چه دغزانو له طایفی سره دجګړی اومقابلی‌توان نه درلود ، نوله غزنی‌څخه لاهورته ولاړ . اوغزنی دغزانو په‌لاس‌کښی ولوید . په دغه وخت‌کښی دغزانو مشر «زنګی‌بن‌علی بن‌خلیفه‌شیبانی‌ؤ» او یوه دولس‌کاله غزنی دغزانو په تصرف‌کښی‌ؤ . (۱)

داوه دغزانو دستری وابیاوړی اوجګړنی قبیلی ماجرا چه په‌دې وطن کښی‌یې څه‌څه کارونه کړی‌دی اوڅومره ستر مصیبتونه بې منځ ته راوړی وو ؟

---

(۱) تاریخ کامل (۹۹ ـ۱۰۰ـ ۱۳۷ مخونه ـ روضة‌الصفا ٤ جلد ۱۱۳ مخ طبقات ناصری دکابل‌چاپ ۴۱۵ـ۴۱۷ مخونه جامع التواریخ ۲۰۲ مخ ـ تاریخ فرشته اول جلد ۵٦ مخ .

دسپه سالار شهاب‌الدين له خوا دغزنی فتح :

وهاندی وليکل شوو ، چه له (۵٤۸) هجری کال څخه دغزانو وحشی اوزوروره طايفه دافغانستان پرشمالی برخواو دخراسان پرسيمو مسلط شول اودسلطان سنجر سلجوقی خوراقوی اومعروف حکومت يې له منځه يووړ . بيا د افغانستان منځنۍ برخی‌ته راغلل دغزنی‌ښار او په‌هغه پوری مربوطی سمی يې قبضه کړې . غزان په داسی اندازه مقتدر او زورور وو ، چه ددوی له مقابلی څخه ټول خلك عاجز اوحيران پاته وو . خودشهاب‌الدين محمد«سام» غوری دتوری او شجاعت په اثر دا مشکل رفع اوغزان يې له وطن څخه وايستل .

هغه وخت‌چه سپه‌سالار شهاب‌الدين محمدسام ته دګرم‌سير ولايت وسپارل شو ده دتکينآباد ښاردهغه دپاره مرکز وټاکه . اودغزنی دنيولو اوله‌هغه څخه‌دغزانو دايستلو دپاره يې دزابل خواته توجه وکړه اوپرله پسی به‌يې پرهغو سيمو باندی يرغلونه‌کول اودا هغه وخت ؤ، چه په غزنی کښې دخسروشاه بن بهرامشاه دحکومت دضعف له امله ، دغزانو قوم دبلخ له‌خوا راغلل پرغزنی يی حمله وکړه او غزنی يی له خسروشاه څخه‌ونيو ، خسروشاه چه‌له غزانوسره دمقابلی‌وس نه‌لاره ، نولاهورته ولاړ . غزنی اوکابل او دزابل سيمی دغزانو په‌لاس کښې ولويدې. او پوره‌دولس کاله غزان پرغزنی اودغو وطنو باندی مسلط وو . اوچه دغزانو قوم زيات جګړن خلك‌وو ، اوله سلطان‌سنجرسره په جګړو کښې دوی‌ښې تجربی حاصلی کړې‌وې او په جګړو کښې ډيرکلك‌وو ، اوددوی دماتيدو دپاره ښه‌زور اوزيات‌قوت په کارؤ .

نوسلطان‌غياث‌الدين غوری دغرجستان اوغور اونوروخواوو څخه‌زياتی لښکری راغونډی کړې سپه‌سالار محمدسام ته‌يی وراستولې او دګرم سير له عساکرو سره يی ملګری کړې .

له‌دغه وروسته‌نوموړی سپه سالار پرغزانو باندی‌ستری حملی شروع کړې اوغزان چه‌د پښتنی لښکرو له‌داډول سختو يرغلونو سره‌مخامخ شول ،دوی هم داډول مقاومت او ثبات ونکړ ، نيژدی ؤ چه‌پښتنی لښکرو ته‌ماتې‌ورکړی .

خو پښتنو پرغزانو باندې له خو اوشاخو شديد يرغل راووړ دهغو استحکامات يې‌ورمات کړل غزانو ماتې وکړه او پښتنو غزان پسی تعقيب کړل اوخوراز يات يې ورڅخه‌ووژل ، نورو تښتيدل .

غزني بيرته د پښتنو لاس ته ورغی(٥٦٩ هـ)۰(١)

غزان له (٥٤٨) هجري کال څخه بيا تر (٥٦٩ هجري) پورې يعنې يو پشت کاله پر خراسان او د افغانستان پر ځينو سيمو باندې مسلط وو او له خپل وحشت سره سم يې زياتې تباه کارۍ او خراب کارۍ وکړې خو د شهاب الدين محمد سام د توري په زور له هغې څخه ولاړل او بيا يې خبر نشته چې څه شول .

وايي چې د غزانو زور او قدرت په داسې اندازه وو چې د پر خلک د هغو له مقابلې څخه عاجزوو نو سلطان غياث الدين غوري هم په دغو جګړو کښې ګډون کړی او د غزانو په جګړو وکښې حاضر وو۰

چې غزني يې فتح کړ، نو سپه سالار محمد سام يې د غزني پر تخت کښېناوه او سلطان غياث الدين بيرته فيروزکوه ته ولاړ ۰(٢)

---

(١) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٢١ مخ

(٢) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٢٢ مخ۰

دسلطان شهاب الدین دسلطنت دوره:

لەدغه تاریخ (٥٦٩) هجری کال څخه وروسته دسلطان شهاب الدین غوری دسلطنت دوره شروع کیږي او دغزني دپاچا په حیث و پیژاندل شو چه په پای کښې د ده نوم او دده دکار نامو انگازه په دنیا کښې خپرېږي په تیره په اسلامي نړۍ کښې دده فتوحات او اسلامي او دیني خدمتونه ډیر زیات شهرت پیدا کوي او د پښتنو په تاریخ کښې دده دا ډول کارنامې ثبتې دي . او تر ابده پورې به پښتون قبر پسې دده او دده په ستړو او خوږ مهمو تاریخي کارنامو فخر کوي .

په غزني کښې دنوي ښار او نوي پایتخت جوړول:

سلطان شهاب الدین غوري چه په غزني کښې پاچا شو نو ئې د نوي ښار او نوي ارګ انتظام وکړ.

یعني دغزني ښار چه د څو ورله پسې انقلابونو او پاچا ګردېدو په اثر خراب شو لکه چه اول د بهرامشاه او سلطان سیف الدین ترمنځ دجګړې له امله دغه ښار ته صدمه رسیدلې وه . بیا دسلطان علاؤالدین غوري او بهرامشاه دجګړو څخه وروسته دا ښار بیخي ویجاړ شو ځکه سلطان علاءالدین غوري غزنوي پاچهانو ته منسوبې ټولې ودانۍ خرابې او وسوځولې .

له هغه وروسته دغزانو بدوي او وحشي قوم پرغزني مسلط شوا و ددوی او دخسرو شاه په جګړو کښې هم دغه ښار زیانمن شوی ؤ .

ددومره پیښو او شخړو له کبله دغزي ښکولی ښار چه له ډیر وزمانو د افغانستان دغزنوي امپراطورۍ مرکز ؤ زیات ویجاړ او د پاچاهۍ له مرکزیت څخه وتلی ؤ .

سلطان شهاب الدین چه دغزني پر تخت کښیناست نو د سلطنت دمرکز د پاره ئې (دهك) نومې ځای غوره او خوښ کړ او د پاچاهۍ ارګ او پایتخت یې په هغه ځای کښې چه دغزني له پخواني ښار څخه تقریباً (۳) کروه لیرې دشرق خواته دغزني او ګرديز پر لیاره پروت دی جوړ کړ .

او په دغه ځای کښې د پاچاهي ځای یو او نورو ضروري ځایو د تیارولو د پاره یوره یو کال سلطان شهاب الدین کار و کاوه . (١)

د ګردیز او سنقران فتح .

سلطان شهاب الدین چه پاچاشو او د مرکز له تیارولو څخه خلاص شو نو یې نورو فتوحاتو ته مخه وکړه او د شرق خوا ته یې مخه کړه په (٥٧٠) هجري کال یې د ګردیز او سنقران .(٢) پرخوا لښکر کښې وکړه ګردیز او سنقران یې فتح کړل (٣) او له همدغه ځای څخه نوموړی سلطان د هندوستان خواته لیاره خلاصه کړه او د هندوستان د فتح کولو مقدمات یې وضع کړل .

په هندوستان کښې د سلطان شهاب الدین د فتوحاتو باعث :

د دې د پاره چه ښکاره او واضح شي چه سلطان شهاب الدین غوري په کوم منظور د هندوستان د ډیر وسیع او پر نفوس وطن فتح کولو ته عزم کړی ؤ ، او د څه د پاره یې په دغه لیاره کښې د ومره کوښښونه وکړل ! اوس د ځینو مورخینو دوینا او لیکنې له مخې هغه بواعث چه نوموړی سلطان یې د ومره مهمو اقداماتو ته لاداو په عزم کړی ؤ لیکو .
سلطان شهاب الدین غوري چه د سلطنت تاج پرسر کړ او په غزني کښې پاچاشو نو د ستر و فتوحاتو په فکر کښې شو او د هندوستان د پراخ هیواد فتح کولو د ده په مغزو کښې ځای ونیو .
ځکه چه سلطان شهاب الدین غوري زیات بلند خیال او ډیر لوړ همت خاوند ؤ او سره له دغو صفاتو د کامل شجاعت او بې نظیره دلاورۍ او ښه تدبیر خاوند هم ؤ .
لکه چه د زینت الزمان في تاریخ هندوستان مؤلف لیکلي :
سلطان شهاب الدین غوري (ډیر شجاع او دلاور او مدبر پاچا ؤ) (٤)
او په تاریخ هند کښې لیکلي دي :

---

(١) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٦٦

(٢) سنقران یا سنغران د پکتیا په ولایت کې د ګردیز او کرمې ترمنځ د کوم ځای نوم دی خو اوس دا نوم نشته .

(٣) طبقات ناصري ٤٦٧ مخ .

(٤) زینت الزمان في تاریخ هندوستان ٢٨ مخ -

سلطان شهاب الدین غوری لە اول څخه لە سلطان محمود سره ځان سیال او برابر باله او له همدغه جهته وو، چه په بیړه یې د خپل دغه منظور د اجرا او سرته رسولو د پاره ځان اماده او تیار کړ، او پر هند باندې یې حملې شروع کړې او لیکي:

چه سلطان محمود غزنوي په هند کښې یوازې په حملو او غارتونو اکتفا کوله او سلطان شهاب الدین غوري په هند کښې څرګند فتوحات وکړل. او نوموړي غوري سلطان د فتوحاتو لمن اوږده کړه او د ده د فتوحاتو ښکاره دائمي تاثيرات باقي پاته شول او یو اسلامي پایدار حکومت یې په هند کښې تاسیس کړ (١)

د طبقات ناصري مؤلف لیکي:

سلطان معز الدین محمد سام غازي، ډیر عادل پاچا ؤ.

او خورا دلاور شخص او ستر مجاهد ؤ.

او د اسلام د ترقي د پاره یې ځان وقف کړی ؤ.

او له همدغه جهته د خپل عمر تر اخیره پوري د اسلام په خدمت مشغول ؤ،

او د اسلام د نشرولو د پاره یې ټول عمر صرف کړ،

چه څو په دغه لاره کښې په شهادت ورسید (٢)

او وایي:

هغه وخت چه سلطان محمد خوارزم شاه، د خطا او کاشغر و طنونه فتح کړل او د هغو د لښکر وسپاه سالار (بایڼکو طراز) چه یو خورا پیاوړی او نا متو شخص ؤ او په ډیر و یعنې (٤٥) جنګونو کښې هروار بریالی او فاتح شوی ؤ، چه له هغې جملې څخه پر سلطان سنجر او په اندخوي کښې پر سلطان شهاب الدین غوري باندې هم بریالی شوی ؤ (٣)

نوموړی سپه سالار هم د غه وخت په دغو جګړو کښې د خوارزم د پاچا په لاس کښې اسیر و نیول شو، او دغه خطائي سپه سالار د خوارزم د سلطان په لاس مسلمان شو. او د خوارزم پاچا به د هغه زیات احترام او اعزاز کاوه. وایي: کوم وخت د خوارزم پاچا له نوموړي خطائي سپه سالار څخه پوښتنه وکړه: هغه پاچاهان چه تا جګړې ور سره کړې دي او ته پر غالب شوی یې کوم اشخاص یې ډیر تور یالي او زړه ور وو؟

---

(١) تاریخ هند ٩٥ مخ -

(٢) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٨٢ مخ

(٣) دا موضوع به وروسته مفصله و لیکله شي.

(بانکوطراز) په‌جواب کښې ورته وویل . (له غوری پاچا سلطان شهاب الدین څخه هیڅ سړی د پر زړه ور او توریالی مانه دی لیدلی .)
او وبی ویل دسلطان شهاب الدین لښکری په‌خوارزم کښې ستومانه شوی وې او آسونه یې ډنگر شوی او سپاره یې لېږ پاته وو . او که دده لښکری آسوده وای هیڅکله به‌په اندخوی کښې ماپرده باندی بری نه‌وایی موندلی .
د خوارزم پاچا وویل رښتیا وایی (۲)
ددغو مورخینو له لیکنو څخه څوشیونه څرگند او معلومیږی :
یو دا چه‌سلطان شهاب الدین د داډول شجاعت او دلاوری‌خاوند ؤ چه‌لږ یې نه‌درلود .
بل داچه نوموړی سلطان ډېر ولوړ وخیالاتو اولوی غرور خاوند ؤ ، چه‌له همدې لیاری یې ځان په منځنۍ ایشیا کښې د اسلام له خورا لوړ او ډېر مشهور امپراتور سلطان محمود غزنوی سره سیال او برابر باله
بلکه لکه چه د تاریخ هند مؤلف وایی له سلطان محمود څخه دشهاب الدین اعمال او کارونه او د هغو نتایج لوړ او مهم وو !
بل داچه دهندوستان فتح او په دغه لیاره کښې دسلطان شهاب الدین کوششونه‌او ربې کالل ددې دباره وو ، چه داسلام مقدس دین ته ترقي ورکړی . او دهند په‌پراخ هیواد کښې د اسلام مقدس دین نشر او خپور کړی . لکه‌چه‌د طبقات ناصری مؤلف جوزجانی وایی : سلطان شهاب الدین دخپل عمر تراخیره پوری په‌دغه کار مصروف ؤ او په دغه لاره کښې په شهادت ورسید .
نو همدا بواعث او موجبات وو ، چه‌نوموړی سلطان دهندفتح کولو ته هڅه‌وکړه .

د ملتان او « اچه» فتح :

سلطان شهاب الدین غوری چه دهندوستان دفتوحاتو عزم کړی ؤ او ددغه منظور دپاره یې لوبی تعبیې کړی وې ، دده لومړی‌حمله پرملتان وه .
په (۵۷۱) هجری کال نوموړی سلطان د ملتان د پلاس راوستلو دپاره خپلی لښکری تیاری کړې او دملتان خواته یې روانی کړې اودی پخپله ددغو لښکرو سره او دهغو قوماندانی پخپله دده په غاړه وه .

---

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ۳٦٤ مخ -

ملتان پهٔ دغه وخت کښې د قرامطه وو (١) په لاس کښې ؤ . سلطان چه ملتان ته ورسید ، دهغو خلکو لهٔ خوا مقابله ورسره شروع شوه او له لږې جګړې څخه وروسته دده پښتنې لښکرې بریالۍ شوې د ملتان ښار د سلطان شهاب الدین په لاس کښې ولوید . او ملتان د هندوستان لومړنی ښار ؤ ، چه په دغه تاریخ (١٧٥ هـ) د سلطان شهاب الدین غوری په لاس کښې ولوید .

د ملتان لهٔ تصرف کولو څخه وروسته سلطان د «اچه» (٠٠٠) خواته یرغل وکړ ، داچه ښار ته چه د سلطان لښکرې ورسیدې دهغه ځای راجا (٠٠) په هغې کلا کښې متحصن شو او مدافعه یې کوله سلطان دهغه ښار ګرد چار پېر لښکرې واچولې ښار یې محاصره کړ . وایې: چه داکلا خورا مستحکمه وه دهغې تسخیر د جنګ په ذریعه ګران ؤ نو سلطان لهٔ بل تدبیر څخه کار واخیست اول یې خپل زور او شوکت دهغو خلکو په نظر کښې ښکاره کړ یعنې دهغه ښار په چار پېریې عسکر خپاره او واچول پداسې شان چه دهغو یقین شو چه له سلطان شهاب الدین سره دوی مقابله نشي کولای .

بیا یې دهغه راجاد کورنۍ له غړو سره پټه مفاهمه او پټې مراسلې شروع کړې چه څو په نیتجه کښې نوموړې یې راجا دخپلې کورنۍ دغړو له خوا له منځه ولاړ شو ، او ښار یې بې له جنګ او جګړې څخه سلطان شهاب الدین ته تسلیم کړ (٥٧١ هـ) له دغې فتح څخه وروسته سلطان شهاب الدین خپل «علي کرماج» نومې سپه سالار

---

(١) قرامطه یوه طایفه ده چه حمدان قرمطی ته منسوبه ده . قرمط په عراق عرب کې یو کلی ؤ او حمدان هم ددغه کلي ؤ . او ده اسرې د اسمعیلي مذهب مروج ؤ کوم خلك چه دده د مسلك پیروان وو هغو ته قرامطه وایی .

فرهنګ نظام ٤ جلد ١١٤ مخ دائرة المعارف فرید وجدي لیکی : قرامطه له باطنیانو څخه یوه فرقه ده چه باطنی مذهب لري او دا فرقه حمدان قرمطی تهٔ منسوبه ده او دده مذهب اول بحرین ته بیا فارس ته ورسید بیا نیشاپور ته پسې خپور شو او دا مذهب د مامون په وخت کښې ښکاره شو او د المعتصم په عصر کښې نشر شو ددوی عقیده د محرماتو جواز وه ، او د قرآن آیاتو نو او نبوی احادیثو ته یې تاویل ورکاوه او دا مسلك ملتان ته هم ورسید بیا محمود او شهاب الدین ورك کړ دعالم قدم ددوی عقیده وه له معاد او عقاب څخه منکر وو ، شرائع یې او هام بلل او خپل عقائد به یې پټول او مسلمانانو دوی باطنیه بلل او خلك به یې په شك کې اچول دائرة المعارف فرید وجدي ١٧ ټوك ٧١٤ مخ

د ملتان او اچه ، دهیواد و ، نائب الحکومه مقرر کړ ، دی بیر ته غـزنـی ته راستون شو (١)

دسنقران دخلکو ایلول :

په (٥٧١) هجری کال چه سلطان شهاب الدین غازی د هندوستان خواته لښکر کشي وکړ ، په دغو وختو کی دسنقران خلکو دسلطان له اطاعت څخه غاړه وغړوله یاغی شول او پوره طغیان یی شروع کړ. نو سلطان چه بیرته غزنی ته راغی په دابل کال (٥٧٢ هـ) یی لښکری تیاری کړې او د سنقران پردغو یاغیانو یی یرغل وکړ ، او هغه خلك یی ایل او تابع کړل (٢)

په طبقات ناصری کښی لیکلی دی: چه سلطان شهاب الدین غوری تاج الدین «یلدوز» د کرمان (اوسنی کرمی) او سنقران والی مقرر کړ. (١) او وا لی: هر کال چه به سلطان شهاب الدین غازی دهندوستان خواته سفر کاوه نود کرمان په لیاره به تللو هلته به یی توقف کاوه او تاج الدین یلدوز به هغوته میلمستیا کوله او دسلطان امراؤو خواصوته به یی سوغاتونه ورکول (٢) .

د نهر واله جګړه :

په ٥٧٣ هجری سلطان شهاب الدین د «نهرواله» (٣) دفتح کولو په غرض لښکری تیاری کړی او د «اچه» او ملتان له لیاری هغی خواته روان شو د نهر واله راجه «بهیلم دیو» نومید ، دغه راجه که څه هم په سن کوچنی و خو زیات زور او ډیر عسکری قوه یی لرله او هم یی زیات جنګی پیلان درلودل . نو کله چه

---

(١) طبقات ناصری دکابل چاپ (٤٦٦ مخ) تاریخ فرشته اول جلد ٥٦ مخ

(٢) طبقات ناصری ٤٨٣ مخ

(٣) څر کند یږی چه په دغه وار چه سلطان دوهم وار سنقران ایل کړ کرمان یی فتح کړ ، څکه په همدغه وار د کرمان یادونه شوې ده . -

(٤) طبقات ناصری ٤٦٧ مخ -

(٥) په طبقات ناصری کښی داځای د نهر واله په نوم یاد شوی دی او تاریخ فرشته او طبقات اکبری د هغه ولایت نوم «ګجرات» راوړی دی څکه چه د هغه د مرکز نوم نهر واله او د ولایت نوم ګجرات دی لکه چه اوس هم دغه ولایت ګجرات بولی فرشته ٥٦ مخ

دسلطان شهاب الدين پښتني لښکري د نهروا له سيمی ته ورسيدي ، راجا «بهيم ديو»
هم خپلی غښتلی لښکری د پښتني لښکرو مقابلی ته راوستي او کلکه مقابله يی شروع
کړه په نتيجه کښی د سلطان لښکرو ماتې وکړه او زيات مسلمانان پکښی
ووژل شول .

نو سلطان شهاب الدين غوری خپلو لښکرو ته د بيرته راګرزيدو امرورکړ او
بی له کومی کاميابی څخه بيرته خپل هيواد ته راستون شو . (۱)

دفرشور (پېښور) فتح :

په ۵۷۵ هجری کال بيا سلطان شهاب الدين پښتنانه تيار او را ټول کړل او
د «فرشور» (۲) دفتح کولودپاره يی خپلو لښکرو ته د مارش امر ورکړ له زياتی
مصافی وهلو وروسته د دوی لښکری فرشور (پېښور) ته ورسيدي او دا هيواد يی
فتح کړ . له دغی فتح څخه وروسته سلطان شهاب الدين بير ته غزنی ته راغی او
دوه کاله يی په غزنی کښی تير کړل (۳)

دلاهور خواته دسلطان شهاب الدين غوری لښکر کشي :

دهندوستان د فتح کولو داراده له مخی سلطان شهاب الدين غوښتل چه په مخ
کښی د پخوانی غزنوی حکومت د سلسلی وروستني حکومت چه په لاهور کښی ؤ
له منځه وباسی . نو په ۵۷۷ هجری کال نوموړی سلطان د لاهور د لاس ته
راوستلو په غرض لښکر تعبيه کړ او دلاهور خواته روان شو .

په دغه وخت کښی لاهور د غزنوی سلطان محمود د کورنی د پاچاهی مرکز ؤ
او ددغی کورنی د دولت قواعد او اساس ډير ضعيف او کمزوری شوی وو او خسرو
ملك نومی د بهرامشاه غزنوی لمسی په دغه ځای کښی پاچا ؤ .

دسلطان شهاب الدين لښکری چه دلاهور سيمی ته ورسيدي او خسرملك چه له
هغه سره دجګړی او مقابلی توان نه درلود ، نو يی خپل کوچنی ملکشاه نومی زوی
له يو څنځير پيل سره دسلطان شهاب الدين حضور ته راوستاوه او له سلطان څخه

---

(۱) طبقات ناصری ۴٦۷ مخ . تاريخ فرشته اول جلد ۵٦ مخ

(۲) قديمو تاريخو کښی د پېښور نوم فرشور او په دغه نامه مشهور دۀ تاريخ فرشته ۵٦ مخ .

(۳) طبقات ناصری ۴٦۷ مخ ، فرشته ۵٦ مخ

بې د سولې غوښتنه وکړه . سلطان شهاب الدین هم د اسوله و منله ، بیرته راوګرزید خپل هیواد پښتو نخواته راستون شو . (١)

د دیوال فتح :

په ٥٧٨ هجری کال بیا سلطان شهاب الدین غوری ځان تیار کړ اود (دیوال(٢) دفتح کولو دپاره ئې دهندخواته لښکری روانې کړې . هغه ځای ته چه د شهاب الدین لښکری ورسیدې هغه ښار او ددریاب دغاړې ټولې سمې بې ونیولې . او په دغه فتح کښې زیات غنیمتونه د سلطان په لاس ورغلل . له دغې فتح څخه ورسته بیرته غزنی ته راستون . (٣)

دلاهور پرخوا دسلطان شهاب الدین دوهم سفراو دسیال کوټ ودانول :

په ٥٨٠ هجری کال سلطان شهاب الدین بیا دلاهور خواته لښکری بوتلې ، دلاهور سیموته چه ورسید ، دلاهور له ښار او مرکز څخه پرته نور ټول ولایت یې تصرف کړ . او دهغه ولایت دساتنې دپاره یې د« راوی » او (چناب) دسیندونو ترمنځ یو ډیره مستحکمه عسکری کلا ودانه کړه . او پر دغې کلا باندی یې د (سیل کوټ) (٤) نوم کیښود . او سپه سالار ، « حسین خرمیل » یې له یوې اندازې عسکرو سره په هغه عسکری کوټ کښې پریښود . پخپله سلطان بیرته غزنی ته راغی (٥)

پرسیال کوټ باندی د خسرو ملک یرغل :

کوم وخت چه سلطان شهاب الدین غوری بیرته غزنی ته ولاړ ، نو د لاهور پاچا خسرو ملک دپنجاب لښکری او د (کهوکرانو دقوم څخه لښکری راټولې کړې د سیال کوټ پر عسکری کوټ یې حمله راوړه او دا کلا یې په محاصره کې

---

(١) طبقات ناصری دکابل چاپ ٤٦٧ مخ تاریخ فرشته اول جلد ٥٦ مخ .

(٢) دیوال په دیبل معروف دی او دا د سیند له ولایاتو څخه دی تاریخ فرشته اوجلد ٥٦ مخ .

(٣) طبقات ناصری، دکابل چاپ ٤٦٧ مخ تاریخ فرشتهٔ اول ټوک ٥٦ مخ

(٤) دسیال کوټ نوم تراوسه پوری لاهم پاته او شته دی او دغه پښتنانه امپراطور تاریخی یادګار دی .

(٥) طبقات ناصری ٤٦٧ مخ تاریخ فرشته اول جلد ٥٦ مخ .

وینو له . خو د پښتنو عساکر وچه پوره ترتیبات نیولی او د جګړې لوازم او وسله یې هم مکمله له ځان سره لرل ، له پرغل کوونکو سره یې مقابله شروع کړه او خسرو ملک چه هم زیاته موده دغه کلا محاصره کړې او پر پښتنو باندې یې پرله پسې حملې کولې ، خود پښتنې لښکرو په مقابل کښې کامیاب نه شو بېرته خپل مرکز لاهور ته ولاړ . (١)

د لاهور فتح :

کوم وخت چه پر سیالکوټ باندې د خسرو ملک د حملو خبر سلطان شهاب الدین ته راورسید ، نو سلطان قوي لښکر تیار کړ او د لاهور پر حکومت باندې د لوی پرغل ترتیبات یې ونیول

او په ٥٨٢ هجري کال د پنجاب د نیولو او د هغه حکومت د له منځه وړلو په غرض هغې خواته روان شو ـ کله چه د سلطان شهاب الدین غوري لښکرې د لاهور ښار ته ورسیدې او د آل سبکتګین د دولت لمر غروب ته نژدې شوی او د غزنوي کورنۍ د تاریخي پاچاهۍ کار پای ته رسیدلی ؤ . او خسرو ملک چه د سلطان د مقابلې او مقاومت توان او طاقت نه درلود ، نو اول په کلا کښې متحصن شو ، خو ورځې یې لاس او پښې وغورزولې ، خو په پای کښې له سلطان شهاب الدین سره د ملاقات په غرض له ښار څخه راووت د هغه مرکز ته راغی . سلطان شهاب الدین غوري چه د پښې یو پښې یو (رقیب عاجز او له قدرت او زور څخه لویدلی ولید سمدستي یې د خسرو ملک د حبس امر صادر او بندي یې کړ .

د لاهور ښار او د هغه مربوطات ټول د سلطان شهاب الدین غوري په تصرف کښې راغلل .

سلطان شهاب الدین چه لاهور او پنجاب فتح کړ ، نو یې سپه سالار «علي کوماچ» چه د ملتان او اوچه والي ؤ ، د التیه په لاهور کښې د پنجاب د هیواد نائب الحکومه مقرر کړ . (٢)

د لاهور عسکري قاضي :

سلطان شهاب الدین چه د هند وستان د فتح کولو او په هغه پراخ هیواد کښې د اسلام د مقدس دین د انتشار او خپرولو عزم کړی ؤ ، نو د همدغه مقصد د سر ته رسولو

---

(١) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٦٧ مخ تاریخ فرشته اول جلد ٥٦ مخ .

(٢) طبقات ناصري د کابل چاپ ٤٦٨ مخ تاریخ فرشته اول جلد ٥٧ مخ

دپاره يې داډول اقدامات وکول چه په دغه باب کښې يې مهمې اغيزې لرلې چه له هغې جملې څخه په دغه وخت کښې داسلامي عساکرو دپاره يې داسلامي اود بنې تبليغاتو په غرض يومذهبي عالم دعسکري قاضي په نوم مقرر کې، چه اسلامي لښکروته به يې دجهاد اوغزا اوداعلاء کلمة الله اوداسلام دپرمخ بيولو اهميت او ثواب ونه بيانول .

څکه دغه وخت دهندوستان په وطن کښې داسلامي غذاګانو دپرمخ تګک دپاره دداډول تبليغاتو ضرورت محسوس اوزيات اهميت يې درلود :ـ

منهاج سراج جوزجاني وايي :

سلطان شهاب الدين زمانلار (مولانا اعجوبة الزمان افصح العجم ، سراج الدين وهاج عليه الرحمه) دهندوستان دلښکرو قاضي مقرر کې .

او نوموړی سلطان تشريف وراغوست . او دلښکرو په بارګاه کښې يې علمي او تبليغي مجلسونه تشکيل کې ، چه وخت په وخت به يې ضروري اود بنې او مخصوص دجهاد ، دفضيلت په باب تبليغات لښکروته کول .

او د دولس اوښان يې د نوموړي قاضي مولانا سراج الوهاج دکرسۍ او نورو لوازمو دحمل ونقل دپاره بارګير تعين کړل .

او وايي : له هغه وروسته سلطان شهاب الدين بيرته خپل هيواد ته راغی ، او خسرو ملک يې له ځان سره غزني ته راووست ، او له غزني څخه يې دسلطان غياث الدين محمد سام حضورته فيروز کوه ته واستاوه .

سلطان غياث الدين بيا خسرو ملک غرجستان ته واستاوه او د (بـلروان) په کلا کې يې بندي کې . (۱)

دغزنوي خوراناماداره اوستره تاريخي امپراتوري چه له ۳۵۶ هجري تاريخ څخه يې په غزني کښې اساس ايښود شوی ؤ ، په دغه تاريخ (۵۸۲ هـ) کال دغوري سلطان شهاب الدين په لاس له منځه ولاړه ، اوس يوازې دهغه حکايت دتاريخ په پاڼو کښې پاته دی .

دسلطان شهاب الدين دکاميابۍ علت :

دتاريخ هند دکتاب مؤلف وايي :

سلطان شهاب الدين غوري له اول څخه له سلطان محمود غزنوي سره ځان سيال بلاله

---

(۱) طبقات ناصري دکابل چاپ ۴٦۸ مخ .

او د هند فتح ته په خپل دماغ کښې ځای ورکړی ؤ . او په دی وخت چه نوموړی غوری سلطان د پنجاب فرمان روا شو او ده وکولای شو چه دا ځای د ځان د پاره مرکز مقرر کړی او له دغه ځای څخه پرهند باندې حملې شروع کړی په دغو وختو کښې د هندوستان په شمالی سیمو کښې (دراجپوتانو دوه مهم او قوی سره جلا دولتونه موجود وو.) او دغو دواړو دولتونو په خپل منځ کښې رقابت هم سره لاره . یو یې د « دقنوج» دولت ؤ چه . هغه پاچا رای «جیچاندرا (Jaychandra) ؤ .

او بل دولت دډیلی او اجمیر دولت ؤ چه د دغو دواړو ملکونو پاچا رای « پتورا ج» ؤ . او د دغو دواړو دولتو ترمنځ قوی رقابت موجود ؤ او د شمالی هند رئیسان هم دوې ډلې وو ، یوه ډله یې د جیچاندرا طرفداران وّ او بله ډله یې د(جاپتورای) پرخوا وّ .

او دوی نشو کولای چه په دغه وخت کښې چه د دوی قوی او زورغلیم پر دوی باندې حملې شروع کوی ، دا اختلاف یوې خوا ته وغورزوی . نو په دغه مهال کښې له مسلمانانو سره بخت یاری وکړه چه هندوستان یې داختلاف او نفاق په حال کښې پیدا کړ . نو په نتیجه کښې سلطان شهابالدین غوری کامیاب او خورا لوی یــه فتح بی په نصیب شوه . (۱)

خوسره له دغو علتونو چه مورخین یې وایی ، په خپله سلطان شهابالدین هم دخورا لوړ شجاعت او ممتاز تدبیرخاوند هم ؤ ، چه د دغو خپلو شخصی صفاتو له مخی په هند او نوروځایو کښې هم هروخت فاتح او بریالی ؤ !!!

د تبرهنده فتح او د تاینسو ار جګړه :

سلطان شهابالدین چه د قول هند فتح په نظر کښې نیولی او د دغه مهمه کار ته یې کلک عزم کړی ؤ نو نوموړی سلطان زیاتی لښکری تیاری کړې او په (۵۸۷» هجری کال یې د «تبرهند» (۱)

---

(۱) تاریخ هند ۹۲_۹۳ مخونه .

(۱) د تبرهنده ، نوم مورخینو ډول ډول لیکلی دی طبقات اکبری او خلاصة التواریخ اولب الالباب تبرهنده لیکلی دی او تاریخ الفی او بدقالتواریخ تبرهنده لیکلی دی تاریخ فرشته تپهنده لیکلی دی ، اوس یې هم تپهنده بولی . راوتی وایی : دا ځای څوسوه میله د تهاینسوار لمر پریواته خوا ته پروت دی ه تاریخ فرشته لیکلی دی چه د تبر هنده کلا د اجمیر دراجا پتوارای په قلمرو کښې او د هغه لمر بوطاتو څخه ده او د هغه عساکر پکښې وو ، ځکه نو داجمیر راجا پتورای دغه جنګ ته راغی او ستره جګړه یې جوړه کړه . فرشته ۵۷ مخ

د کلا د فتح کړلو د پاره له افغانستان څخه د هند په لوري ولېږل دولې او د نوموړې کلا په استقامت ئې مارش وکړې سلطان چه هلته ورسید هغه کلا یې فتح کړه . او ملك ضیاءالدین تولکی یې له یوې اندازې عسکرو سره د هغې کلا د محافظت او ساتنې د پاره مقرر کړه .

په دې وخت کښې د (جمیر راجا «پتوراي») چه ډېرې زیاتی لښکری ورسره وې د اسلام د لښکرو د بیرته ایستلو په غرض دغه ځای ته را نژدې شوي وُ سلطان شهاب الدین ته چه د راجا پتوراي د راتلو خبر راغی ده هم خپلی لښکری اماده کړی د (تاینسوار) (۱) په حدودو کښې د پتوراي مخې ته ورغی په همدغه ځای کښې د هندي او پښتني لښکرو ترمنځ خورا شدیده جګړه ونښته وايي : چه سلطان شهاب الدین په خپله د جګړې ډګر ته حاضر شوي وُ ، او له نورو جګړنو سره یو ځای جګړه کوله .

سلطان د جګړې په حال کښې سخت ټپی شو .

پښتني لښکري چه د سلطان له زخمی کېدو څخه خبرې شوې او له بلې خوا د هندي لښکرو قدرت او ډېرښت دوی بې زړه او وار خطا کړی نو یې ماتې وکړه .

او سلطان شهاب الدین چه ډېر سخت ټپی شوی وُ ، نژدې وُ چه له آس څخه ولوېږي په دغه حال کښې یو پښتون زلمی سلطان زخمی ولید چه خو راپه زړه ور دی او په ډېره چټکی د سلطان پر آس له شا پسې سپور شو سلطان یې کلك په غېږ کښې ونیو پر آس یې ناره کړه آس هم لکه مرغه په خیر د جګړی له ډګر څخه یې ځان را وایست په لښکر پسې را غلل سلطان لاهورته ولاړ کله چه یې ټپونه جوړ او ښه شو نو غزنی ته پسې ولاړ او د تبرهنده کلا چه د پښتني عسا کرو په لاس کښې وه هغه کلا هم د اجمیر راجا پتوراي، له پښتنو څخه واخیستله (۲)

---

(۱) د تاریخ هند مؤلف د ا ځای چه د شهاب الدین او پتوراي د لښکرو ترمنځ دوه واره لویې جګړې شوی دی د «تانیسوار» په نوم یاد کړی دی او طبقات ناصری او تاریخ فرشته د (تراین) په نوم راوړی دی او ف شته لیکی چه تراین د سرستی د سیند پر غاړه له تهانیسر څخه اوه کروه لیرې پروت دی او ډېلی او د دغه ځای ترمنځ څلوېښت کروه مسافه ده تاریخ فرشته ۵۷ مخ او اوه کروه زیاته مسافه نه ده نو ځکه چا تراین او چا تهانیسر لیکلی دی چه دواړو ځایو ته یې نسبت کیدای شی .

(۲) تاریخ هند ۹۳ مخ طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۷۰ مخ

د سلطان شهاب الدین غوری له خوا پر هند باندې د بیا حملې د پاره تیارې:

د تاریخ هند د کتاب مؤلف لیکي:

(سلطان شهاب الدین غوری تردې وخت اندې هم دا ډول ماتې او مغلوبیتونه لیدلي وو دی دا ډول سړی نه ؤ چه مرعوب او زړه واچوی او یاد ده په عزم کښې کوم فتور راشی او له خپل مقصود څخه بیرته پاته شی)

نوموړی سلطان له دغې ماتې څخه وروسته افغانستان ته ولاړ او دوه کاله یې د قواؤ (۱) په جمع کولو او د لوازمو او مهماتو په برابرولو کښې صرف کړل او له خپلو تازه دمو قواوو سره دوهم ځل هند ته راغی (۲)

منهاج سراج جوزجانی وایی:

سلطان شهاب الدین چه له هند څخه بیرته وطن ته راغی نو بیې پر هند باندې د بیا حملې په غرض ډیرې لښکرې راټولې کړې او د هندوستان پر لوری یې روانې کړې. او د دغو لښکرو شمیر یو لک او شل زره زغری پوښ سپاره نفر وو. (٤)

تاریخ فرشته د سلطان شهاب الدین غازی د عزم او قوی ارادې او عالی همت او لوړه غیرت او بې مثال غرور بیان مفصل راوړی دی او د دغه بیان اروېدنه او لوستنه د نوموړی سلطان له عالی صفاتو څخه نمایندګی کوی نو موږ هم عیناً هغه دلته رانقل کوو.

تاریخ فرشته لیکي:

کله چه د سلطان شهاب الدین لښکرو په هند کښې د (تراین تاینسوار) په جګړه کښې ماتې وکړه او دی بېرته خپل وطن ته ستون شو او له دې امله چه د پښتنی لښکرو د ماتې او تېښتې لامل یې له هغه سره راوړی ؤ، نو خو راڅه پر خپه او زیات غمجن و او غزنی ته له راستنېدو سره سم د خپل مشر ورور سلطان غیاث الدین حضور ته غور ته ورغی او د پښتنو د ماتې او د هغو جګړو ماجرا یې هغوی ته ووېله، او د پر هند باندې د بیا حملې په باب کښې خپل عزم ای د غور سلطان ته ښکاره کړ.

سلطان شهاب الدین د خپل مشر ورور په سلا او مشوره، د غور، غرجستان او غزنی او

---

(۱) د تاریخ هند له وینا څخه څرګندیږی چه سلطان شهاب الدین دوه کاله وروسته بیا پر هند حمله وکړه.

(۲) تاریخ هند ۹۳ مخ

(۳) طبقات ناصری ٤۷۱ مخ.

نور وخایو لښکرې راټولې کړې او په لږه موده کښې یې (یو لك او اوه زره او د جوزجاني په قول یو لك او شل زره) پیاده او سرتیر عساکر راغونډ کړه و

او په دا بل کال (۵۸۸) هجري ئې خپلې لښکرې د هند پر خوا روانې کړې کله چه سلطان پېښور ته ورسېدل په دغه وخت کښې د غور له مشرانو څخه یو شخص چه د سلطان شهاب الدین په حضور کښې د قرب خاوند ؤ، سلطان ته داسې عرض وکړ.

(مونږ نه پوهېږو او نه یو خبر چه سلطان چېرته ځي او څه اراده لري؟)

سلطان په ځواب کښې ورته وویل: «فلانیه! باور وکړه له هغې زمانې څخه چه د ترائي په جګړه کښې مونږ ماتې کړې ده له زیات غم او غصې څخه ما ارام نه دی کړی او له خپلې مېرمنې سره مې د خوشحالۍ مجلس نه دی کړی او د ځان جامې مې نه دي بدلې کړې او دا ټول کال مې په غم او غصه تېر کړی دی.

د غور او خراسان امراؤ سره له دې چه زما پخواني خدمتګاران دي خو چه زه ئې د جګړې په میدان کښې پرېښودم او ددوی وتښتېدل، په دغه ټوله موده کښې مې خپل حضور او سلام ته نه دي راپرېښي او ددوی مخ مې نه دی لیدلی اوس مې د پاك خدای (ج) پر لطف اعتماد کړی دی د هغې ماتې د تلافي کولو په قصد د هند هیواد ته روان یم.

نو موړي غوري سپین ږیري چه د سلطان شهاب الدین غوري دا ټکي واورېدل بیائې عرض ورته وکړ: (په دې وار به د سلطان ملازمان او بازان انشاء الله تعالی داسې سربازي او جانبازي وکړي چه د پخوانۍ فروګذاشت تدارك او تلافي به وکړي او د خپل توریالیتوب نیك نوم به د زمانې پر صحائفو ثبت کاندي.

زه هیله کوم چه سلطان د دوی جرائم وبخښي او خپل سلام ته ئې راپرېږدي او په خسروانه الطاف ئې سرفراز کړي چه له خپلو کړو پښېمانه او خپل سیئات په حسناتو بدل کړي.

سلطان شهاب الدین غازي هم د دغه هوښیار سپین ږیري خبره ومنله خپل ټول امراء ئې خپل حضور ته وغوښتل او ټول ئې په نصائحو او د پند په خبرو مخاطب کړل او د توري او جانبازي نتیجه او نیکنامي ئې ورته واوروله او د نوي جهاد په باره کښې ئې د کوښښ کولو سپارښتنه او امر وکړ، او هر یوه ته یې د هغو له مراتبو سره سم خلعتونه او مرصع کمربندونه ورکړل او سلطان په دغه وار په پېښور کښې خورا ستر جشن جوړ کړ او خوشحالي او ساماني (ماڼوړې) ئې وکړې (۱)

---

(۱) تاریخ فرشته اول جلد ۵۸ مخ

جګړې ته د تیارۍ په مهال کښې د سلطان شهاب الدین جشن کول :

اول په خپله د دې خبرې له اوریدلو څخه چه پښتانه امپراتور د جګړې په مهال کښې چه (د پښتنو سربازانو د قربانۍ ورکولو او ترسره کېدلو مهال دی چه د جګړې ډګر او قربانګاه ته ورځي) جشن او خوشحالي کول خورا ستر حقیقت د انسان په سترګو کښې مجسم کوي یعنې (چه پښتون ټبر د څومره لوړ عزم او لوی غرور او څومره فوق العاده شجاعت څښتن دی چه په داسې وخت کښې دوی خوشحالي کوي) او په پخوا زمانو کښې به پښتنو کښې همداسې دود ؤ : چه له غلیم سره د مقابلې او سربازۍ په مهال کښې به پښتنو جګړه ماړانو جشنونه جوړول ، اتڼونه به ئې کول او د تورې کوار او سربازۍ سندرې به یې ویلې ، خوشحالي به ئې کوله . بیا به نو د غلیم مقابلې ته ور وړاندې شول جګړه به ئې شروع کړه او داسې دود هم ؤ چه د جګړې په محاذ کښې به چه جګړه به روانه وه د جګړېنو له شا به پېغلو او مېرمنو اتڼونه کول او د ځلمیانو د زړه ور کولو او پر جګړه باندې د تودولو د تورې او سربازۍ او له غلیم څخه د میدان ګټلو او پر غلیم باندې د برې او فتح پیداکولو سندرې به یې ویلې .

او په دې باب کښې د پخوانیو پښتنو مېرمنو یوه سندره د نمونې په ډول دلته را وړو :

پر مخ ور واخلئ ده د مېړانې قدمونه — مه خورئ مړوندونه مه خورئ ده مړوندونه
پر غلیم وکړئ ده د تېرو تورو وارونه — مه خورئ ده مړوندونه مه خورئ ده مړوندونه

* * *

په پټه خزانه کښې راوړي :

ښکارندوی چه اصلا د غور د فیروزکوه ؤ او کله کله به په غزني او بست کښې هم اوسېدی او پلار ئې احمد نومېده او د غور د فیروزکوه کوټوال ؤ .

ښکارندوی د سلطان شهاب الدین والدین محمد سام شنسباني په پادشاهۍ کښې مخور ؤ او د درناوي خاوند ؤ او ښه شاعر او عالم ؤ .

او هغه وخت چه نوموړی سلطان پر هند یرغل کاوه ، ښکارندوی د هغه په لښکرو کښې ؤ او همسې وایي : چه ښکارندوی په مدح کښې د سلطان محمد سام او سلطان غیاث الدین غوري د ستاینې قصیدې لري چه بوللې ئې بولي .

محمد علي وایي :

چه په بست کښې ما د ده د بوللو فتح کتاب ولیدا او له هغه څخه مې دغه بولله چه

چه دمحمد سام علیه‌الرحمه ستاینه ده وکښلېده . (۱)
داقصیده په پټه خزانه کښې لیکلې ده خو موږ لههغې څخه یوا ځې دا یو بیت چه زموږ دمطلب دپاره شاهد دی دلته را نقل کوو .
د پښتو نخوا ښکلې ځلمي چه زغلي هند ته نو آغلي پیغلې کاندي اتڼونه

✲ ✲ ✲

دښکارندوی دا شعرهم ښیي چه پخوانو پښتنو داسې دود لاره چه د جګړې و په مهال کښې به خوشحالي کیدی او پیغلو به اتڼونه کول .
کله چه سلطان شهاب‌الدین په پېښور کښې دجشن له مراسمو څخه فارغ شو نو یې د ملتان خوا ته کوچ وکړ ملتان ته چه ورسید دملتان دسیمو مشران چه دسلطان له امراوو اولاهور دسیمې له سپه سالار سره ئې دهغه ددښمنانو په مدافعه کښې مرسته کړې وه ، ښه ونازول اودهغو دجلب خاطر په غرض یې هغوی ته ځینو خلعتو نه هم ورکړل .
اوهغوی هم دسلطان په لښکرو کښې شامل شول .
سلطان لههغه ځایه لاهورته ورغی ، لهدغه ځایه یی داجمیرله راجا «پتورای» سره اول مراسلې شروع کړې .

دسلطان شهاب الدین او رای پتورا ترمنځ پیغامونه :

دسلطان پیغام پتوراته
اول سلطان شهاب‌الدین ، قوام‌الملك رکن‌الدین حمزه چه دمملکت له اعیانو او د دولت له معروفو کسانو څخه ؤ دقاصداو نماینده په حیث داجمیر پاچا «رای پتورا» ته واستاوه او په دې مضمون پیغام یی هغه ته لیکلی ؤ : (اول د اسلام مقدس دین قبول کړه بیا زما تابعیت ومنه .) (۱)
خوچه رای پتورا ، دهندیو نامداره اودزور او قدرت خاوند پاچا ؤ ، او په تېر کال هم د مسلمانانو پر لښکر وباندې غالب شوی ؤ او په دې واریې هم د یرې لښکرې دمسلمانانو دمدافعې دپاره راغونډې کړې وی .

---

(۱) پټه خزانه ٤۹ مخ
(۲) لکه چه مورخینو ویلي دی چه دهند له فتح څخه دسلطان شهاب الدین منظور په هند کښې داسلام انتشار ؤ دپتورا دعوت اسلام ته هم دهغې تائید دی ،

او وایی چه د هندوستان دراجپوتو یوسل و پنځو سو نورو راجاګانو په دغو جګړو کښې ګډون کړی ؤ او دری لکه نفره عساکر او له دریوزرو څخه زیات جنګی پیلان د پتهورا، له خوا دغه جنګ ته راوستل شوی وو.

نو پتهورا په خپل زور مغرور ؤ، د سلطان شهاب الدین پیغام ته ئې زښت ځواب ورکړه او د هغه پیغام یې و نه مانه او په مقابل یې خپل پیغام هغه ته واستاوه.

درای پتهورا پیغام سلطان شهاب الدین ته:

(زموږ د سپاه زور او قوت تاسی ته لریږه او زموږ د لښکرو شمیر په تاسی ته معلوم شوی وی او پر له پسې د هندوستان له لیرې ځایو څخه هره ورځ موږ ته لښکری او نفر رارسیږی نو تاسې که پر خپل ځان رحم نه کویږه پر خپلو لښکر و خو رحم وکړی‌ږه او له خپل راتګ څخه پښېمانه شیږه بیرته وګرزیږه موږ به بتانو قسم کوو چه ستاسی د لښکر و تعاقب به نه کوو او ضرر او مزاحمت به نه درسو و او که بیرته و نه ګرزیږه نو ځانو نه تیار کړی‌ږه چه خپل له دریوزرو څخه زیات صف شکن او مست پیلان او تر حساب تیرو پښتونکی او پیاوړی جګړن عساکر سبا پر تاسی باندې درمارش کړ و چه په هې وخت کښې خپل حریف مات او له منځه یوسی).

دسلطان شهاب الدین له خوا د پتهورا ځواب:

د پښتنو سلطان چه د هند د مشر رای پتهورا پیغام و کوت نو د تدبیر له لیاری یې پیش آمدو کړ، په دې ډول یې بل پیغام پتهورا ته واستاوه:

(دې وطن ته زه د خپل مشر ورور سلطان غیاث الدین په امر راغلی یم تاسی ما ته مهلت راکړی‌ږه زه به خپل ورور ته خبر واستوم او د جنګ نه کولو په باب کښې به له هغه څخه اجازه حاصله کړم، بیا به له تاسی سره صلح وکړم په دې ډول (چه سرهند او پنجاب او ملتان به زموږ مربوطات او زموږ قلمرووی او نور هندوستان به ستاسی وی (۱)

د تاینسوار دوهمه جګړه:

دسلطان شهاب الدین دغه وروستنی پیغام رای پتهورا او د هند نورو راجاګانو د اسلام د لښکرو پر ضعف او زیاته زبونی حمل کړ او غافله شول.

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوک ۵۷ ـ ۵۸ مخونه.

او دوی یوه نښوول چه د اپیغام د پښتانه امپراتور له خوا یوه حربی خدعه وه چه د هندی افسرانو په مقابل کښې جوړه شوې وه او د هندی لښکر و مشران یې غافله کړل (۱)

د سلطان شهاب الدین لښکرې د هندوستان د (تاینسوار) سیمی ته رسیدلی وې او بیا وروسته هم خپلی لښکرې په دغه ځای کښې د پښتنی لښکرو سره د مقابلې د پاره راغونډی کړې وې د واړه اردوگان د یو بل په مقابل کښې خاموش او د یو بل مراقبت یې کاوه.

سلطان شهاب الدین چه د هندی لښکرو ډیر ښت او قوت ملاحظه کړ نو بیا خپلو افسرانو ته یې دې توګه ښوودنه وکړه چه له اول پرغل څخه وروسته به چه هندی سپاره او جنګی پیلان پر تاسی حمله راوړی تاسی به د (الحرب خدعة) په مقتضا د ماتې په څیر را پر شا کیږئ او خپل ثبات به په تیز لزل بد لوئ، کله چه ستاسی د ماتې په گمان دوی له خپل مرکز او میدان څخه را تیر شول بیا به بیرته مخ ور واړوئ او له څلورو خواوو به پرغل پرې کوئ؛

ناڅاپی حمله

یوه ورځ د سپیده داغ په مهال کښې مسلمانانو پر هندی لښکرو باندې ناڅاپی حمله وکړه او ډیره شدیده او خونړۍ جګړه ونښته او د سلطان له لارښوونې سره سم د مسلمانانو سر بازانو حرکات کول.

تمامه ورځ د دواړو خواوو له طرفه په زیات جلادت او میړانه جګړه جاری وه، خو مسلمانانو نور هم خپل ثبات او استقامت زیات وساته په شپه کښې د جنګ نتیجه څرګنده شوه راې بیا وروسته چه پخپله د جنګ په میدان کښې داخل ووژل شوه

هندی لښکرو چه خپل مشر له لاسه ورکړ، نو ډیر مرعوب او مات شول او سلطان شهاب الدین فاتح شوه

داجمیر او هانسی او سرستی او کهرام فتح :

سلطان شهاب الدین چه له دغې سترې فتح څخه فارغ شو نو د اجمیر مرکز ته چه د پیتورا دار الملک و، ورغی پر دغه ځای یې قبضه وکړه و ابی چه اجمیر یې د پیتورا زوی (کوله) ته پرېښوو او د دغه مربوطات (هانسی او سرستی) یې هم

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوک ۸۵ مخ.

وئیول له دغه وروسته د ډیلي خواته ولاړ او د (کهرام) کلاته چه د ډیلي په (۷۵) کروهی کښې پرته ده ورغی، د خپلو لښکرو د پاره ئې هغه یا یګاه وټاکله ۰ خپل لایق سپه سالار قطب الدین ایبك یې له یوې اندازې عسکرو سره په دغه ځای کښې پرېښود (۱)

په تاریخ فرشته کښې لیکي :

سلطان شهاب الدین چه د ډیلي تر ور سېد ، د ډیلي مشر د سلطان استقبال ته راغی او ډېر ډول هدیې یې د سلطان حضور ته تقدیم کړې او د سلطان اطاعت یې ومانه نو سلطان ډیلي هغه ته پرېښود (۲)

دا لویه فتح په (۵۸۸) هجري کښې د پښتنو په برخه شوه له همدغه تاریخ څخه د هندوستان مقدرات او سرنوشت تحول وکړ، په هند کښې پایدار او دائمي اسلامي حکومت جوړ شو او له دغه وخت څخه هندوستان د پښتنو د امپراتورۍ په قلمرو کښې داخل شو نوموړی سلطان شهاب الدین غازي څخه وروسته هم تر ډېرو پېړیو پورې په هند کښې پښتنو پاچها او پاچاهي وکوله .

خوشحال خان خټك د سلطان شهاب الدین غازي دا فتح په دې ډول وايي :

د اسلام پاچا اول معزالدین ؤ — چه یو کال ئې په ډیلي کښې اقامت ؤ
چه د ډیلي ئې رانیوه له (پتهورا) یه — په دا کار کښې ئې ډېر کړې مشقت ؤ
چه ئې سر د پتهورا پرې کړ له تنه — شپږ سوه دولس کم سن د هجرت ؤ
بیا له پس قطب الدین د ده مریی ؤ — چه پرې اېښی ئې هند په نیابت ؤ
بیا له پس شمس الدین د ده پالك ؤ — چه په خلکو ئې آواز د عدالت ؤ
بیا له پس فیروزشاه د شمس الدین ؤ — چه په هند کښې یې نظر په سخاوت ؤ (۳)

خوشحال خان په دغه وینا کښې څو شیونه یادوي:

اول دا چه سلطان شهاب الدین (معزالدین) د اسلام لومړنی پاچا دی چه هندوستان ئې فتح کړی او د هندوستان مرکز ډیلي ئې د اسلامي پاچاهانو مرکز کړی دی

---

(۱) تاریخ هند ۹٤ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ۵۸ مخ طبقات ناصري د کابل چاپ ٤۷۱ مخ
(۲) تاریخ فرشته ۵۸ مخ
(۳) د خوشال خان کلیات . . . مخ .

او د پښتنو د امپراتورۍ بیرغ ئې په دغه ځای کښې جګ کړ او دا افتخار ئې د پښتنا نه ته په برخه کړی دی او څرګند وی چه له ډیر ډیر ښې ګاللو

اوزیات کوشش څخه وروسته په دغه کار بریالی شوی دی او وائي چه سلطان شهاب الدین یو کال په ډیلی کښې اقامت کړی او بیا ته شوی دی ځکه چه د هندوستان د نوی اداری قائمولو او دهغه ځای د انتظام جوړولو د پاره یو کال د نوموړی سلطان پاته کېدل لازم ؤ .

او وایی چه دولس کاله کم شپږ سوه یعنی (۵۸۸ ه) کال ؤ چه دا فتح د نوموړی سلطان په برخه شوه او وایی چه سلطان شهاب الدین په ډیلی کښې قطب الدین چه دده مریی او بیاوړی سپه سالار ؤ خپل نایب پرېښود چه د سلطان له وفات څخه وروسته بیا دی د هندوستان پاچا شوی دی .

او وایی چه له سلطان څخه وروسته نور اسلامی پاچهان هم په ډیلی کې تیر شوی دی او دهغو نوموته یې یاد کړی دی .

د سوالك فتح :

سلطان شهاب الدین چه د تاینسوار جګړه فتح کړه او داجمیر او ډیلی له فتح او انتظام څخه فارغ شو ، نو د هندوستان په شمالی سیمو کښې د «سوالك» (۱) دغر نیو سیمو د فتح کولو په عزم ئې ، هغې خوا ته خپلې لښکرې روانې کړې په هم دغه (۵۸۸ ه) هجری کال ئې د سوالك غرنۍ سیمې هم فتح کړې له دغې فتح څخه وروسته سلطان شهاب الدین غزنی ته ولاړ (۲)

په تاریخ هند کښې لیکې :

غوری سلطان شهاب الدین د دې منظور له مخې چه بر او د هند باندې د نوې حملې د پاره ځان تیار او مجهز کړی غزنی ته ولاړ او په ډیلی کښې ئې قطب الدین ایبك خپل نایب مقرر کړ (۳)

د قنوج او بنارس فتح :

په (۵۹۰) هجری کال سلطان شهاب الدین بیا له نویو قواوو سره له غزنی څخه د هند

---

(۱) د سوالك غرنی سیمې د پنجاب شمالی خوا کښې دی (۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۷۱ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ۵۸ مخ (۳) تاریخ هند ۹۴ مخ

بر لوری روان شو او د قنوج او بنارس د ولایت د فتح کولو په هڅه د نوموړی ولایت سیمې ته ورسیدل او د ډیلي والي قطب الدین ایبك هم له خپلو لښکرو سره د چندوار او اټاوه (۱) په سیمه کښې چه د قنوج له مربوطاتو څخه دی، د سلطان له لښکرو سره یوځای شو په طبقات ناصري کښې لیکي چه په دغو جګړو کښې د سلطان د لښکرو لوړ قوماندانان چه د لښکرو په مخه کښې به وو، قطب الدین او سپه سالار عزالدین حسین خرمیل وو (۲)
د قنوج او بنارس پاچا (رای جیچاندرا) هم له خپلو قوي لښکرو سره چه له دریو سوو څخه زیات جنګي پیلان ورسره وو، د چندوار په سیمه کښې د پښتني لښکرو مقابلې ته راورسیدل او د دواړو خواوو تر منځ کلکه جګړه شروع شوه، خو چه پښتانه د هند په نورو فتوحاتو کښې فاتح او بریالي شوي وو، نو روحیه یې قوي وه او په مقابل کښې هندي عسکر هم چه په نورو ځایو کښې ئې د پښتنو بری اوریدلی وو، رعب او ویرې یې په روح کښې ځای نیولی وو - په نتیجه کښې د شهاب الدین لښکري غالبه او د جیچاند رای لښکر و ماتې وکړه. سلطان شهاب الدین د قنوج او بنارس مملکت فتح کړ.

وایي : چه په دغه مملکت کښې مسلمانانو ته ډیر غنیمتونه په لاس ورغلل چه له هغې جملې څخه له دریو سوو څخه زیات جنګي پیلان په لاس ورغلل. له دغې فتح څخه وروسته سلطان شهاب الدین ډیلي ته ولاړ (ډیلي یې د هندوستان دارالملك او مرکز وټاکه) او قطب الدین ایبك یې په ډیلي کښې د ټول هندوستان والي مقرر کړ، د هند ټول کارونه یې ده ته وسپارل او په هند کښې د نورو فتوحاتو امر یې هم ده ته ورکړ. له دغو فتوحاتو څخه وروسته سلطان شهاب الدین بیرته خپل هیواد پښتونخوا ته راستون شو غزني ته راغی. (۳)

په تاریخ هند کښې لیکي :

سلطان شهاب الدین غوري چه قنوج فتح کړ نو یې خپل څښتلي او نامتو سپه سالار محمد بختیار خلجي د قنوج حاکم مقرر او د هغه ځای د انتظام او اداري د پاره یې (ساخلو، یوه اندازه عسکر) پرېښودل په خپله سلطان بیرته افغانستان ته ستون شو (۴)

---

(۱) چند وار او اټاوه...

(۲) طبقات ناصري ۴۸۹ مخ.

(۳) طبقات ناصري ۴۷۱ مخ، تاریخ فرشته اول ټوك ۵۸ مخ، تاریخ هند ۹۴ مخ.

(۴) تاریخ هند ۹۴ مخ.

ډیلي د هندوستان د پښتني اسلامي

حکومت مرکز وټاکل شو:

سلطان شهاب الدین چه د قنوج او بنارس له فتح څخه خلاص شو، نو ډیلي ته راغی او ودي امله چه تر ډیرې اندازې په خپل مطلب او خپلو آرزوګانو بریالی شوی وُ او د هندوستان دوه ستر او مهم حکومتونه چه بود پښورا حکومت وُ او بل د قنوج او بنارس حکومت وُ، له منځه ووتل. او سلطان د هندوستان حکومت د ځان و باله، نو یې ډیلي د ټول هندوستان (د پښتني اسلامي حکومت مرکز) وټاکه او خپل پیاوړی سپه سالار قطب الدین ایبک یې په هغه ځای کښې د ځان نایب مقرر کړ او د ټول د هند چارې یې ده ته وسپارلې.

نو موړی قطب الدین ته یې په هند کښې د نورو پاتې و لایتونو د فتح کولو امر هم ورکړ او د سلطان له امر سره سم قطب الدین هم په نورو فتوحاتو پیل وکړ، ډیر ځایونه یې فتح کړل. او د هغو فتوحاتو بیان به د قطب الدین ایبک په مضمون کښې راشي.

له سلطان شهاب الدین څخه وروسته هم ډیلي د پښتني اسلامي حکومتو او پای تخت او مرکز وُ.

د تهنګر فتح:

په (۵۹۲) هجری کال سلطان شهاب الدین غازي بیا هندوستان ته د تللو عزم وکړ او د (تهنګر) (۱) د کلا د فتح کولو د پاره یې لښکرې تیارې کړې، هندوستان ته روان شو.

له زیاتو منزلونو کولو او اوږده سفر څخه وروسته تهنګر ته ورسید، هغه کلا او هغه سیمه یې په لاس راوسته. او بهاء الدین طغرل (۲) یې د هغه ولایت حاکم مقرر کړ

---

(۱) په تاریخ فرشته لیکي چه اوس تهنګر په (بیانه) مشهور دی.

(۲) بهاء الدین طغرل د سلطان شهاب الدین سپه سالار ز...

او نوموړی طغرل ته یې د «کالیور» د کلا د نیولو امر وکړ سلطان شهاب الدین بختچله بیرته خپل دارالملك غزني ته راستون شو . (۱)

د سلطان غیاث الدین مړینه :

په (۵۹۸) هجری کال د سلطان شهاب الدین مشر ورور سلطان غیاث الدین په هرات کښې وفات شو . په دغه وخت کښې سلطان شهاب الدین په (طوس او سرخس) (۲) کښې و ، له دې پیښې څخه چه شهاب الدین خبر شو نو د خپل مشر ورور د فاتحې اخستلو په غرض هرات ته راغی څو ورځې یې د سلطان غیاث الدین عزا داری وکړه او فاتحه یې واخسته (۳)

د غور دولایاتو ویشنه :

سلطان شهاب الدین چه د سلطان غیاث الدین له عزدارۍ څخه فارغ شو نو فیروزکوه ته راغی اودغور ولایتونه یې په لاندې ډول دغور پر امراوو وویشل :
۱- د بست او فراه اواسفراز ولایتونه یې خپل وراره د سلطان غیاث الدین زوی غیاث الدین محمود ته وسپارل .
۲- دغور او فیروز کوه اوګرم سیر اومرو رود اوزمین داور ولایتو نه یې د خپل کاکازوی ملك ضیاء الدین «د ژغوری ته چه د سلطان غیاث الدین زوم هم و» وسپارل .
۳- د هرات ولایت یې ملك ناصرالدین (الپ) بن قره ارسلان سلجوقی ته چه د دوی د خور زوی و ورکړ له دغه وروسته سلطان شهاب الدین بیرته خپل دارالسلطنه غزني ته راغی او دغور ځینې مخور اومشران یې هم له ځان سره غزنی ته راوستل (٤)

له خوارزمشاه سره د سلطان شهاب الدین جګړه :

په روضة الصفا کښې لیکی : پر خوارزم باندی د سلطان شهاب الدین د یرغل کولو علت داوچه :

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ .

(۲) طوس اوسرخس د خراسان ښارونه دی او په دغه عصر کښې دافغانستان و .

(۳) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤۷۲ مخ ، تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ طبقات اکبری ۱۹ مخ .

(٤) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤۷۲ تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ - طبقات اکبری ۱۹ مخ .

دمروی پرښاور باندی چه د غوری شاهانو پوولایت ؤدخو از رم پاچا حمله وکړه اوله یوې اندازې جګړې څخه وروسته خو ازرم شاه غالب شو ، د مروې ښارېې قبضه کړه اودهغه ولایت والی چه (محمدچریك) نومید اودغو ری حکومت یوتوریالی اونامتو شخص ؤوواژه .
سلطان شهاب الدین ته چه ددغی پېښې خبر راورسید ډیر متأثرشو اوپه بیړه یې قوی لښکر تیار کړ ، دخوا رزم خواته وخو ځید (۶۰۰ﻫ) کله چه دسلطان شهاب الدین پښتنی لښکرې دخوارزم سیمی ته ورسیدې له هغی خوا خوارزم پاچا خپلې لښکرې (چه داو یازرو) په حدود وکښی وې د پښتنی لښکر ومقابلې ته راوستې ددوا ړو خوا وو تر منځ شدیده جګړه ونښته په نتیجه کښی دخو ارزم لښکر ماتې وکړه پرشا ولاړې د (قراسواست) دخلیج پر هغې غاړې یې مورچې ونیولې او افغانی لښکرو ددغه خلیج پر دې خوا غاړه محاپونه ونیول ، اوددواړو خوا و تر منځ بیا جګړه جاری شوه اوزیاته موده یې دوام وکړه وایې چه په دغه و خت کښی دخو ارزم پاچا د خطأ له پاچا «کوزخان » څخه اودسمر قندله پا چـا سلطـان «عثمان» څخه مرسته وغو ښته د خوارزم دپاچا له غوښتنې سره سم دخطأ پاچا دخپل نامتو سپه سالار «نیکو طراز» په قوماندانی زیات لښکر د خوارزم دپا چا کومك ته را واستاوه اودسمر قند سلطان عثمان هم له زیاتو لښکرو سره دخوارزم دپاچا مرستې ته راوخو ځید .

د پښتونخوا پا چا سلطان شهاب الدین غوری چه ددغو دوو پاچا هانو در اتلو خبر واورید اوسر بیره پردې په خوارزم کښې ددوی جګړو ډیر دوام کړی اوزیـان ور اوښتی او ښه ستومانه شوی وو نوسمد ستی یې داجګړه پر ښېتو ده دخپل وطن خواته یې لښکرې را ولیږدولې اند خوی ته یې ځان را ور ساوه

دخطاء لښکرو سره دسلطان شهاب الدین جګړه :-

دخطاء دپاچا لښکری چه دخوارزم له پاچا سره دمرستې او له افغانی لښکر و دمقابلې په غرض راروانې شوې وې دامودسیند غاړی ته راو رسېدې د اند خوی په برخه کښې دافغانی لښکرو مخی ته راغلې داسلام لښکر و اودخطأ دلښکر و ترمنځ خورا سخته جګړه وشوه

وایې : چه پخپله سلطان شهاب الدین هم ددغې جګړې په میدان کښې حاضر ؤ

(۱) روضة الصفا ٤ ټوك ۱۳۷ مخ

اوزیاته مردانگی یې ښکاره اوخورا ښه جنګ یې و کړ خو چه افغا نی لښکري دخوارزم په جګړ و کښې ستوما نه شوې وې نو سلطان داند خوی کلا ته ننو وت ځان یې متحصن کړ .

سوله او متارکه:

بله ورځ دسمرقند پا چا سلطان عثمان چه دهغه لښکري همدلته وار سیدلې وې سلطان شهاب الدین ته داډول پیغام واستاوه:

(زه داسلام اوددینی حمیت له مخې نه غو اړم چه دکفارو دلښکرو له خوا داسلام پاچانه نوره صدمه ورسیږی نوزه به سوله وکړم دخطا ئیانو شر به د فع کړ م سلطان شهاب الدین هم داخبره ومنله نو سلطان عثمان د دوی تر منځ متار که وکړه جګړه بس شوه، دخطا لښکري له افغانستان څخه ووتلې بیر ته خپل وطن خطا ته ولاړې .

سلطان شهاب الدین دخوارزم له پا چا سره هم سوله و کړه په دې تر تیب: چه خوارزم شاه سلطان شهاب الدین ته خپل تعهد را واستاوه چه نور به دافغانستان پر حدودو باندې تعرض اوتیری نه کوی سلطان شهاب الدین خپل مر کز غز نی ته راستون شو (۶۰۰هـ) (۱).

پر خطا (۲) باندې دیرغل دپاره دسلطان شهاب الدین تیا ری :

لکه چه مورخینو لیکلی دي سلطان شهاب الدین غوری زیات شجـا ع او دفوق العاده او بی نظیره غیرت او حمیت خاوند ؤ .

چه په هیڅ وخت کښې ده دنورو تیری پر ځان نه دي منلی لکه چه دده په حیاتی پېښو کښې ځای پر ځای دده دشجاعت او عالی همت شاهدې ورکوي .

هغه وخت چه دخطا پاچا بی موجبه او په ناحقه پر افغانی لښکر و باندې یرغل راووړ اود افغانی لښکرو مخه یې په اندخوې کښې و نیوله .

دخطا دپاچا دغه بی موجبه تعرض اوتیری په سلطان شهاب الدین باندې ډیره

---

(۱) طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۷۴ مخ ـ روضة الصفا ۴ ټوك ۱۳۶ مخ تاریخ فرشته اول جلد ۵۹ مخ طبقات اکبری ۱۹ مخ

(۲) خطا دافغانستان په شمال شرق کښې یو مملکت ؤ چه دخوارزم پاچا ورڅخه مرسته غوښتې وه .

ناوله ، اغیزه کړي وه اودده پښتنی اواسلامی حمیت یی زبات تحریك کړی ؤ .
نوسلطان چه خپل هیواد ته راغی عزم یی وکړ چه ددغه ناحقه تعرض ځواب پخپله پښتنی توره ورکړي او پرخطاه باندې دلوبی حملي دپاره یی دلوي لښکر د تهيې ترتيبات ونيول .
سلطان فرمان وکړچه تردریو کالو پورې دې د لښکرو او دجګړې دلوازمو او ضروریاتو برابری او تیاری وکړی چه پر خطا باندې سترېرغل وکړو .
خو په دغو وختو نوکښی چه نوموړی سلطان په لوړو ترتیباتو نیولو بوخت ؤ داسی اطلاع ورته را و رسیده چه دکوه جود (۱) دکهو کرانو قبائلو عصیان او بغاوت کړی دی .
سلطان شهاب الدین ددغی پېښی دفع ته اهمیت ورکړ فعلا دخطا خواته له عزم او تصمیم څخه منصرف شو دکهو کرانو دقوم دایلولو دپاره یی هغی خواته مخه واړه وله .

دکوه جود دکهو کرانو بغاوت :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین د خوارزم په جګړه مصروف ؤ د پنجاب د کوه جود په سیمو کښی د سلطان شهاب الدین د مرګ اوازه خپره شوی وه او دکهوکرانو دقوم سردار چه ـسرکهـ نومید یقین کړی ؤ ، چه رښتیا سلطان مړ شوی دی . نوموړی سرکه دخپلی پادشاهی اعلان خپورکړاو سربیره پردې دلاهور د نیولو عزم یی هم کړی وه د سورده او جیلم (۲) دسیند ترمنځ سیمو کښی یې جګړه اوفتنه انګیزی جوړی کړی وې .
سلطان شهاب الدین چه د هغوله دغه شورش اوانقلاب څخه خبرشونو بې دهمدغی پېښې دکراره ولو خواته مخه کړه د پنجاب خواته وخوځید . (۳)

دکهوکرانو طایفه :-

سلطان شهاب الدین غوري چه دخطا له خوا څخه مخه واړوله او دکهوکرانو دطایفې بغاوت ته یی اهمیت ورکړه اوس له هغو سره ددوي دجګړو اودهغه له اسلام راوړلو

---

(۱) کوه جود د پنجاب شمالی خوا کښی دی او دکهوکرانو قوم هلته استوګنه لرله.
(۲) د جلیم سیند
(۳) تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ .

ځخه بحث کوو ، اول باید دکهوکرانو طایفه اودهغو وطن اودهغو رسومات او مسلك و پیژنو .

کهوکران یوه طایفه وه چه دلاهور شمالی خوا ته د نیلاب (اباسین) له شرقی خوا غاړې ځخه د سوالك ترغرو پورې ددوې وطن اود اوسیدنې ځای دی اودکهوکرانو قوم خورا غشتلی او توریالی خلك وو .

وایی : دکهوکرانو قوم داسی دودلاره چه لور به یې وزیږیده هغه به یې له کور ځخه ایستله کوم چاته به یې ورکوله که به چا هغه نجلی قبوله کړه نو به دهغه شوه اوکه به چا قبوله نکړه بیا به یې وژله .

بل یې داسی دود وه چه په څو نفرو به یې یوه ښځه لرله او هرمیړه چه به له هغې سره ؤ ، بل میړه به یې نه ورته څو به هغه ولاړه بیا به هغه بل ورته . بل دا چه د مسلمانانو از اول او ذیت ددوې په اعتقاد ښه کار ګڼل کیده . (۱)

دګهوکرانو دتابع کولو په غرض دسلطان شهاب الدین لښکر کښي :

د ۶۰۱ - هجری کال په ژمی سلطان شهاب الدین دکهوکرانو او دکوه جود د قبائلو د بغاوت او سرکشی د دفع کولو په غرض لښکرې تیارې کړې او د هندوستان خواته وخوځید دسلطان د امر په اثر قطب الدین ایبك هم له خپلو لښکرو سره له ډیلی ځخه دجګړی محاذته ځان را ورساوه .

دسلطان لښکری چه دکهوکرانو سیمی ته ورسیدې اول یې په نرمی کهوکران ایلولوته دعوت کړل خو هغو زیاته سرکښې وکړه تابع نشول نو سلطان پر هغو باندی حمله وکړه اودسختو جګړو په نتیجه کښی کهوکران تابع او له خپل تمرد او سرکشی ځخه تو بګار او تسلیم شول (۲)

دکهوکرانو له خوا داسلام دمقدس دین منل .

وایي په دی مهال کښې چه سلطان شهاب الدین غازی دکهوکرانو دخلکو په ترټنه بوخت ؤ په دغه وخت کښی نوموړی سلطان دیو یوه اوعالم سړی په لاس یو پیغام دکهوکرانو رئیس ته واستاوه او داسلام دمقدس دین فضائل یې هغه ته کښلي وو

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ طبقات اکبری ۱۹ مخ -

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۷۴ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ۵۹ مخ طبقات اکبری ۲۰ مخ -

او داسلام مقدس دین ته یی دعوت کړی .

د کهوکرانو رئیس له دغه مسلمان استازی څخه داسلام دمسلك او مقرراتو په باب پو ښتنی وکړی دغه شخص ده ته داسلام دمسلك او قوانینو پوره تفصیل ورکړ د دغه رئیس د اسلام مقرارات ازقوانین خوښ شول نو یی دغه استازی ته وویل : که زه داسلام پاچاته ورشم اوداسلام دین قبول کړم نوسلطان به له ماسره څه وکړی دغه سړی ورته وویل زه تعهد کوم چه د اسلام پاچا به له تا سره زیات ښه و ضعیت وکوی او خپل حکومت به دې هم بیر ته تا ته د رکړی ، دارئیس هم دسطان حضورته راغی اوداسلام دین یی قبول کړ سلطان شهاب الدین ډیر خوشحاله شو او فاخره خلعتونه اوزرین مرصع کمربندی ئی دغه ته ورکړل او نوری یی هم خسروانه لطف ورسره وکړ او دهغو غرنیو سیمو د حکومت فرمان یې هم وده ته ورکړ .

د کهوکرانو رئیس چه بیرته خپل وطن ته ولاړ نو یې په خپل قوم کښې اسلامی تبلیغات شروع کړل اوټول قوم یی د اسلام دین ته دعوت اوترغیب کړل د دغه دکوشش په نتیجه کښې ټول کهوکران مسلمانان اوداسلام په دین شول مګر کوم شخص که په کومه ګوښه کښې پاته شوی وی نور د هغو سیمو ټول خلك د سلطان شهاب الدین غازی د توجه او کوشش په اثر مسلمانان شول (۱)

دتراهیه قوم هم مسلمانان شول :

د پنجاب او د پیښور ترمنځ سیمو کښې (تراهیه) نومی قوم اوسیدل دغوخلکو داسی اعتقاد لاره چه د مسلمانانو وژل به یی ثواب او ښه کار ګا نه په دغه کال (۶۰۱ ه)چه سلطان شهاب الدین غوری دکهوکرانو دبغاوت ددفع له امله پنجاب ته تللی ؤاو د دغو شخړو له فیصلی څخه وروسته دغوسیمو ته راغی د (تراهیه) قومی ډیرد نصیحت او تبلیغ له لیاری داسلام په مقدس دین کښې شامل کړل اوقر یباله در یولکو څخه ترځلورولکو پوری داخلك د محمدی (ص) دین پیروان شول .

د تاریخ فرشته مؤلف وائی : اوس چه هجری تاریخ (۱۰۱۸) دی د کهوکرانو او تراهیه دواړه قومونه د اسلام په مقدس دین ثابت قدم اوراسخ العقیده دی (۱)

لکه چه مورخین د سلطان شهاب الدین غوری اسلام دوستی او اسلام پرستی وایی له پورتني بیان څخه هم ښکاره او څرګندیږی چه د هندوستان له فتح څخه

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۶۰ مخ

(۲) تاریخ فرشته اول ټوك (۶۰) مخ

د نوموړي سلطان منظور او لوی مقصود د هندوستان په مملکت کښې د اسلام د مقدس دین خپرو نه او انتشار ؤ

د باميانو والي ته د سلطان شهاب الدين پيغام :

سلطان شهاب الدين چه د کهوکرانو له فتنې او شخړې څخه فارغ شو او د غزنې خواته يې د تګ او سفر تياري وکړه ، په دغه وخت کښې يې د باميانو والي شهاب الدين محمد (سام) ته په دې ډول پيغام واستاوه :

زما په خاطر و کښې د خطا له خلکو سره غزا کول ځای نيولى دی .

نو زما د فرمان له رسيدو سره سمدستي د هغو سيمو لښکری راټولې کړه او د جيحون (اموسيند غاړی ته ځان ورسوه او د اسلام د لښکرو د پوريوتلو د پاره پيړی تياری کړه او نورو سائل برابر کړه (۱)

لکه چه وړاندې وليکل شوی د نوموړي سلطان د دغه عزم علت داؤ :

هغه وخت چه د پښتنو امپراتور سلطان شهاب الدين له خوارزمشاه سره په جګړه واخته ؤ د خطا د پاچا لښکری اندخوی ته راغلې او په ناحقه او بې موجبه يې د پښتنو پر خاوره تيری وکړ له پښتنې لښکرو سره يې جګړه وکړه . سلطان چه غزنی ته راورسيد له خطائيانو څخه د انتقام اخستلو په غرض يې د ډير لوی لښکر په راغونډولو شروع وکړه . خو بيا د پنجاب د شمالي سيمو د کهوکرانو د غاوت له امله دا کار وروسته پاته شو .

د کهوکرانو له شخړو څخه چه خلاص شو نو يې بيا هغه عزم نوی کړ د خطائيانو د وهلو په عزم يې دا فرمان ورکړ .

د سلطان شهاب الدين شهادت :

کوم وخت چه سلطان شهاب الدين د کهوکرانو بغاوت دفع کړ او د هغو له شخړو څخه فارغ شو د (۶۰۲) هجری کال د رجب المرجب د مياشتې په شپاړسم تاريخ د لاهور له ښار څخه د غزنې پر لوري راروان شو او د شعبان د مياشتې په دوهمه نيټه د نيلاب (اټک) د سند غاړې ته ورسيد .

او په «دميک» نومي ځای کښې تښته شو ، د سلطان خاصه خيمه او سراپرده يې ود رول قضا وقدر داسې ؤ د کهوکرانو د طايفې شلو تنو فدائيانو چه د کهوکرانو

(۱) تاريخ فرشته ۶۰ مخ

په جګړه کښې د دوی پهلوان وژل شوی وو. پخپله منځ کښې سره اتفاق کړی او د سلطان د وژلو په باره کښې تدبیر کړی او عهد و قسم یې سره کړی وو چه سلطان به وژنو. په دغه وخت کښې چه سلطان په دغه ځای کښې کښېناست شو نو موړو اشرارو د سلطان ځای او خیمه ځانته معلومه او په نښه کړه.

چه شپه شوه له دغو اشخاصو څخه یو په بیړه راغی د سلطان د خیمې دروازه وان یې په چاړه ووهه زخمي یې کړ، وتښتېد یو ځل غوغا او شور شو پېره داران او نور خدمتګاران پر دغه زخمي راټول شول په دې حال کښې نوموړو اشرارو فرصت وموند د شپې په تیاره کښې د سلطان خیمې ته ننوتل پر سلطان یې حمله وکړه د دوی پښت چړو یې سلطان ووامه شهید یې کړ (رحمة الله علیه).

د نوموړي سلطان د شهادت په مورد کښې مورخینو د الاندې دوه بیتونه راوړي دي. چه د نوموړي سلطان د شهادت تاریخ او ځای او د دوی عظمت او عالي شان یې ذکر کړی دی:

شهادت ملك بحر و بر معز الدین	کز ابتدای جهان شه چو او نیامد یك
سوم ز غره شعبان بسال ششصد و دو	فتاده در ره غزنین بمنزل (دمیك) «۱» .

د شهید سلطان جنازه غزني ته یووړه :-

له دې ستري پېښې څخه وروسته د سلطان شهاب الدین وزیر خواجه مؤید الملك سجستاني هغه اشرار چه د دغې پېښې مرتکب شوي وو، په لاس راوستل او په ډېر زحمت او سخت عذاب یې ووژل او د سلطان جنازه یې په خورا زیات حشمت او شوکت د غزني خواته روانه کړه.

کله چه کرمان (کرمې) ته ورسېدل د کرمان والي تاج الدین یلدوز د دوی مخې ته راغی چه پر تابوت او جنازه یې سترګې ولګېدې له اس څخه کښېناست شو او د ادب او تعظیم سر یې ورته ټیټ کړه تاج الدین چه د تابوت پوښ پورته کړ او د شهید سلطان وجود یې په وینو لړلی ولید پګړۍ یې پر ځمکه وویشته خپل ګریوان یې څیري کړ په ژړا او کوکارو یې شروع وکړه غم او ماتم یې تازه کړ.

له دغه ځایه څخه نوموړي تاج الدین یلدوز هم ورسره ملګری شو د شعبان په ۲۲ تاریخ (۶۰۲ هـ) د شهید سلطان شهاب الدین جنازه غزني ته ورسېده او په هغه

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۷۴ مخ ـ تاریخ فرشته اول ټوك ۶۶ مخ

هدیره کښې چه سلطان د خپلی اور د پاره تیاره کړې وه د سلطان تابوت یې هم په دغه هدیره کې خاور وته وسپار ه «۶۰۲» «۱» .

او دا ځای چه د نوموړی سلطان مزار هلته جوړ شوی دی دغزنی او گرديز ترمنځ لیاره کښې دی او تقریباً پنځه پاشپېن کروه له غزني څخه لیری پروت دی «دهلک» نومیږي .

په دغه ځای کښې اوس علاقه داري ده او دغزنی پوری مربوط دی .

دسلطان شهاب الدین دسلطنت دوره او دده دامپراطوری حدود :

په ۵۶۹ هجری کال کښې سلطان شهاب الدین غوری غزنی فتح کړ او په همدغه تاریخ نوموړی په غزنی کښې دسلطنت تاج پرسر او پر تخت کښېناست .

او په «۶۰۲» هجری کال وفات شو نو دده دسلطنت دوره «۳۳» کاله وه لکه چه ولیکل شول نو موړی سلطان د خپل سلطنت په دوره کښې مهمی کارنامی لري او دلته یوا ځې د هند فتوحاتو ته اشاره کیږي .

طبقات اکبری لیکی :

سلطان شهاب الدین غوری یو ولس پلا هندوستان ته سفر کړی دی او دهغو له جملی څخه یې د وې پلای ماتې کړې ده ، او له ماتې به گجرات کښې داهرو وا له دراجا «بهیم دیو» په مقابل کښې او بله پلایې د تانیسوار په لو مړی جگړه کښې چه دا جمیر له راجا «پتورا» سره یې مقابله راغله ماتې وکړه په نورو ټولو هجومونو کښې فاتح او کامیاب شوی دی . «۲»

په تاریخ هند کښې راوړي .

سلطان شهاب الدین غوری په هند کښې څرگند فتوحات وکړل او د فتوحاتو لمن ئې اوږده کړه او به هند کښې دده دفتوحاتو ښکاره او دائمی آثار باقی پاته شول او یو اسلامی پایدار دائمی حکومت یې په هند کښې تشکیل کړ چه تر آوسه پوری باقی دي . «۳»

او نوموړی سلطان د پښتنانه قبر دپاره یوه ډیره ستره امپراتوري تشکیله

«۱» طبقات ناصری ۴۷۹ مخ تاریخ فرشته او ټوک ۶۰ مخ .

«۲» طبقات اکبری ۲۰ مخ .

«۳» تاریخ هند ۹۵ مخ .

کړه چه دده ترعصر پوری نور پښتانه افغانی سلاطینو دغو حدودو ته نه وو رسیدلي.
او نه ئي دا پول شوکت او شان پښتانه قوم ته ور په برخه کړی دی

دسلطان شهاب الدین دامپراطوری حدودداوو :

شمالی خوا ته دامو ترسیند پوری اوغربی خوا ته ترمرو ، طوس اوسرخس پوری اود جنوب خوا ته تر بحر هند پوری او د شرق خوا ته د هندوستان تر اخرنی شرقی کرښې پوری وو ۰

لنډه داچه سلطان شهاب الدین غازی پښتانه قوم ته په تاریخ کښی دخورا لوړه افتخار او مباهات وړ نوم پری ایښی دی اوخورا ستر شانه بی ور په برخه کړی دی چه د پښتنو د پاره هر کله او په هرعصر کښی دسر لوړی تاریخی یادګار ګڼل کیږی ۰

دسلطان شهاب الدین عدالت اودین پروری اوعلم دوستی:

په طبقات ناصری کښي لیکلی دی:

سلطان شهاب الدین پخپلو چارو کښي دومره عادل باچاؤ چه دده دعدالت بیان په تحریر کښي نشی راتلای او خورا زړه ور او یو ستر غازی ؤ اودده قولی غزاګانی دمسلمانی پرجاده برابری وی (۱) داسی چه بل باچا داخواص نه لرل او په دغه باب کښی بی دمحمدی (ص) دسنتو مراعات په کامله درجه کاوه اود اسلام دترقی دپاره بی تحان وقف کړی ؤ ، په همدغه اثر دخپل عمر تر پایه پوری داسلام په خدمت بوخت ؤ چه قول عمر بی د اسلام دخپرولو دپاره تیر کړ چه څو په دغه لیاره کښی په شهادت ورسید (۲)

په تاریخ فرشته کښی لیکی :

سلطان شهاب الدین غوری یو عادل اوخدای ترس او پرخلکو مهربان او مشفق باچا ؤ دعلماوؤ اوصلحاوؤ عزت اوحرمت به یی ځای پر ساته او د هغو خدمت بی کاوه او لیکلی ئی دی : په هغه عصر کښي یعنی دمغلو تر دوری لومړی چه به هر څوك به هندوستان کښي دغوری سلاطینو ودمان څخه و ، هغوته به عزاراً او احتراماً (دخداوند زاده خطاب او لقب ورکیده) (۳) داخبره هم ددی نخښه ده چه په هندوستان کښی سلطان شهاب الدین ښه عدالت چلولی او په انصاف یی له خلکو سره ګذاره کړي وه بیاد بوه لوی

---

(۱) دمسلمانی پرجاده برابری غزاګانی هغه ډول دی چه له اسلامی دینی مقرراتو سره سم رفتار کوی او له هغو شرایطو سره سمی وی چه په مذهبی قانون کښي یی بیان راغلی دی چه د هغو تفصیل په اسلامی فقه کښي شته او دلته نه محاییږی .

(۲) طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۷۵ ـ ۴۸۲ مخونه

(۳) تاریخ فرشته اول ټوك ۱۴۵ مخ.

سلطان پسمانده‌ګان چه له دغه وروسته یې په هندوستان کښې حکومت کړی دی هغوی هم د ښو اخلاقو او ښې روېې او عدل او انصاف خاوندان وو نو ځکه د هندوستان خلکو په غوری کورنۍ پورې منسوبو اشخاصو ته اعزازاً او احتراماً د القاب ورکاوه او د عزت په سترګو به یې ورته کتل او خرګند یې چه د هند په وسیع او د زیاتو نفوسو لرونکی هواد کښې د سلطان شهاب الدین فتوحات او د هغه لوی هیواد اشغال یوازې د زور او قدرت له لاری نه دی شوی بلکه لوی عامل به د هغو عدالت او ښه اخلاق او منصفانه رویه وه چه له دی لاری هغو خلکو دده اطاعت منلی دی، لکه چه وړاندی ذکر و شو چه د کهوکرانو مشرته یې د خپل قوم او دده د هیواد پاچاهي ورکړه او د هغه حکومت یې په رسمیت وپېژاند

په تاریخي کتابو کښې لیکلي دي چه د سلطان شهاب الدین غوری څخه وروسته دده پرځای ناستو پښتنو پاچاهانو څخه سلطان ناصرالدین د سلطان التمش زوی ډیر عادل او منصف پاچاؤ چه دده د عدالت او انصاف یوه نخښه په دې ډول وایي :

چه دده میرمنې به ډوډۍ په خپله پخوله او د کور کار به یې په خپله کاوه خو یوه ورځ د پخلي کولو په حال کښې د دې میرمنې لاس و نه سول نو دې خپل څښتن یعنې سلطان ناصرالدین ته وویل: که نور څه نه کوی یوه مزدوره خو وساته ځکه هر ورځ مې نغری ته کښېناستل له لاسه نه کېږي سلطان په ځواب کښې ورته وویل :

(زما ګرانې بیګمې دا رښتیا خبره ده چه زه په ظاهر کښې پاچا یم لیکن حقیقت دا دی چه زه یو ډیر غریب سړی یم او زه د سلطنت او بیت المال د روپیو ته ځکه ګوتې ور وړلای نه شم چه دا روپۍ یوازې د خلکو حق دی او ددوی د فلاح او نورو چارو د پاره دي او د هغو په چارو کښې باید ولګېږي او زما خپله ګټه خو تا ته معلومه ده چه په هغوی کښې د مزدورۍ د پاتلو ګنجایش نشته نو لکه چه زه خپل کارونه په خپله کوم او خوارې نه باسم ته هم باید خپل د کور کار په خپله وکړې ځکه چه د غریبو خلکو میرمنې خپل کارونه په خپله کوی په دنیا کښې څو ورځې زیار او تکلیف وګاله د دغه زیار او تکلیف په بدل به خدای تعالی ښه بدل او اجر درکړي)

او دده کار او کسب داؤ چه قرآن شریف به یې لیکه او د هغه په اجوره به ئې خپله ګذاره کوله. (۱) طبیعی ده چه دا ډول پاك نفسي او دغه ډول پاك انصاف په اثر خلك د پاچهانو څخه ډیر خوښ او د هغه د حمایې په مقابل کښې ځانونه فدا کوی او په دغه اثر د اطاعت سرونه ورته ټیټوي همدا وجه وه چه له غوری سلطان څخه وروسته هم د غوری کورنۍ ته منسوبو اشخاصو احترام او اکرام د هندوستان خلکو ساته.

(۱) ډیلی د پښتنو په وخت کښې ۱۳ مخ.

له سلطان شهاب الدین څخه وروسته

په هندوستان کښې پښتنې اسلامي حکومتونه

سلطان شهاب الدین غوری په هندوستان کښې د پښتنې اسلامی حکومت اساس کېښود او دغه بانی دی چه دهغوی له وفات (۶۰۲) هجری څخه د لسمی هجری پېړۍ تر اخیره وختو پورې په ټول هندوستان کښې د پښتنو حکومتونو دوام کړی دی.

په اول کښې نوموړی سلطان ډیلی د دغه پښتنې اسلامی هندی حکومت د پاره پایتخت او مرکز وټاکه او خپل ښاغلی سپه سالار قطب الدین ایبک یې دهغه هیوا د نائب الحکومه مقرر کړ

د سلطان له وفات (۶۰۲) څخه وروسته نوموړی ایبک په ډیلی کښې هندوستان پاچا شو او په ملتان کښې دهغه بل نائب الحکومه ناصر الدین قباچه پاچا شو،

د سلطان قطب الدین ایبک له مړینې څخه وروسته په ترتیب سره یو بل پسې اسلامی حکومتونه په هندوستان کښې تشکیل او ړاغلی دی

په هندوستان کښې پښتنې اسلامی حکومتونه په دې ترتیب وو.

قطبیه دوره (۶۰۲-۶۰۷ه) شمسیه دوره ۶۰۷-۶۶۴ه) غیاثیه دوره (۶۶۴-۶۸۹ه) خلجی پاچهان (۶۸۹-۷۱۷ه) تغلقشاهان (۷۱۷-۸۱۶ه) خضرخانیان (۸۱۶-۸۵۵ه) لودیان (۸۵۵-۹۳۲ه) سوریان (۹۴۷-۹۷۳ه) بنګریه پاچهان - کرانیان - بهمنیان فاروقیان پاچهان او نور پښتانه پاچهان - چه څلور پېړۍ یې په هندوستان کښې حکومت کړی دی د دغو پښتنې حکومتونو بیان نورخینو مفصل کړی دی خو دلته په اجمالی ډول دهغو د کورنیو د نوم یادونه وشوه.

د سلطان شهاب الدین غوری له وخت څخه چه په هندوستان کښې یې پښتنې اسلامی حکومت تشکیل کړ د افغانستان اسلامی افغانی تمدن، تهذیب، علم ادب او د صنعت فن هند ته راغلل او د هند په پراخ هیواد کښې نشر شول او زیاته ترقی یې هم وکړه لکه چه د هند پښتنو پاچهانو هریوه پخپل وار د علم او فن او تمدن د ترقی په لیار کښې زیات زیات کوششونه کړی دی (۱) د دغه مختصر بیان له ذکر څخه مطلب دادی چه د پښتنې اسلامی حکومتونو موسس په هندوستان کښې همدا پښتون سلطان شهاب الدین غوری دی.

---

(۱) افغانستان ۴۵ مخ

د سلطان شهاب الدین له وفات څخه وروسته پېښې :

د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني لیکي .

(د سلطان شهاب الدین له مرګ سره قیامت جوړ شو ځکه د دې له مرګ څخه وروسته د قیامت او له پخوا نه شر ګنده شوه چه د مغلو تاتارانو تاراک راغلل وطنونه یې تباه کړل نو معلومه شوه چه دغه پاچا د اسلام یو محکم بند و چه نوموړی پاچا شهید شو د قیامت دروازه خلاصه شوه (۱) لکه چه مورخین لیکي اوومه هجري پېړۍ نه یوازې د افغانستان او نورو اسلامي ممالکو په تاریخ کښې بلکه د بشریت په تاریخ کښې یو تور داستان دی .

چه د هغه هېرول محال دی لکه چه په پخوانیو پېړیو کښې د روم پخوانۍ مدنیت د ژرمن او اسلاو د بربرانو د تجاوز له امله او د اسیا نژاده یونانو له خوا محو او نابود شوه د مغلو بربرانو هم د چنګیز تر بیرغ لاندې د اسلام او شرقي ممالکو ځلانده تمدن محو کړ او بې نظیره تباهکاري یې وکړې او بې شماره انسانان تلف او تباه کړل او ښکولي ښارونه یې له خاورو سره برابر کړل .(۲)

یعنې جوزجاني وایي د مغولو دا اعمال د بشریت د پاره قیامت ؤ او که سلطان شهاب الدین غازي د بې نظیره شجاعت او ممتاز او لوړ همت خاوند ژوندی وای د مغلو د دغه تباه کوونکي هجوم مخه به یې نیولې وه او دا قیامت به نه وای جوړ شوی او د نوموړي سلطان له مړینې سره بله پېښه دا وه .

کوم وخت چه سلطان شهاب الدین غوري وفات شو نو هغه ستره امپراتوري چه د افغانستان ملت د پاره ده جوړه کړې وه دده له مړینې سره سم ټوټه ټوټه او وویشله شوه ځکه دده پښتانه سپه سالاران چه په هند کښې په فتوحاتو مصروف وؤ هلته په هندوستان کښې پاته شول بیا یې خپل وطن یاد نکړ په هندوستان کښې یې مستقل حکومتونه جوړ کړل او هندوستان یې له افغانستان څخه جلا کړ .

په افغانستان کښې هم په بامیانو، تخارستان غزني کښې او په ملتان او سیند کښې جلاجلا مستقل حکومتونه جوړ شول او په غور فیروز کوه کښې ځانګړې حکومت جوړ شو او دا نور حکومتونه د افغانستان د شاهنشاهۍ له مرکز غور څخه جلا شول

نو کوم قدرت او قوت چه د سلطان شهاب الدین په عصر کښې افغانستان درلود هغه د دوی د ویشلو په وجه له منځه ولاړ .

نو د خوارزم مقتدر او زورور خوارزمي پاچا د افغانستان په علیه نظامي فعالیت شروع کړ یو په بل پسې یې دا نوي افغاني حکومتونه له منځه یووړل ټول افغانستان د خوارزم د مقتدر پاچا په لاس کښې ولوید .

---

(۱) طبقات ناصري ٤٧٤ مخ د کابل چاپ . (۲) افغانستان ٤٦ مخ .

دسلطان شهاب الدین نوم او لقبونه:

سلطان شهاب الدین غوری ، مورخینو په ډول ډول نومونو یاد کړی دی او س دلته په تفصیل سره دهغو بیان کوؤ :

دنوموړی سلطان اصلی اوهغه نوم چه په اول کښی دمور او پلار له خوا وربانددی اېښود شوی دی (محمد) دی ددههغه لقب په کوچنوالی کښی ده د خپلی مور له خوا ورباندې اېښود شوی ی د(زنگی) نوم او لقب ی ، چه مور به یې په کوچنوالی کښی ورته (زنگی) ویل :

دنوموړی سلطان مذهبی اودینی لقبونه:

شهاب الدین اومعزالدین ، دسلطان شهاب الدین مذهبی اودینی لقبونه دی وایی تر پاچاهی ړومبی ده ته د(شهاب الدین) لقب ورکړ شو اودخراسان له فتح کولو څخه وروسته ورته (معزالدین) لقب ورکړ شو .

شهاب الدین یعنی ددین ځلاند ستوری اومعزالدین ، ددین عزت کوونکی اودین ته ترقی ورکوونکی معنا لری .

اود(سام) اوغوری ، لقبونه دده نسبی او نسبتی لقبونه وو لکه چه دمحمد سام غوری اومعزالدین سام غوری اوشهاب الدین غوری په نومونو مورخینو یاد کړی دی

سام : دده نسبی نوم دی لکه چه وړاندی و لیکل شو سام سور د غوری پاچاهانو دوه نیکه گان وو چه له لوی (سهاك پاچا) څخه وروسته یې په غور کښی ځای نیولی و او غورشاهان به هر یو له دغو دوؤ نومو څخه په یو نوم ملقب او موسوم وؤ چه یا سام او یا سوری به ورته ویل کیده سلطان شهاب الدین د«سام» لقب لاره او دده پلار هم دسام لقب لاره بهاؤ الدین سام به یې باله .

دغوری لقب:

دغور دټولو پاچاهانو له نومونو سره ذکر کېدوا وسلطان شهاب الدین هم غوری

باله کیدو محکه چه‌غور ددوی‌د پلرونو او نیکه‌گانو وطن دی نوغورته‌منسوب دی (۱)

دقسیم امیرالمومنین لقب :

طبقات ناصری لیکلی :-

دغور پاچا امیر بنجی بن نهاران دهارون‌رشید عباسی په‌عصر کښی دارالخلافه ته ورغی له خلیفه‌سره یی لیدنه کتنه وکړه . دراخصت کیدو په‌وخت کښی خلیفه‌هارون رشید نوموړی امیر بنجی غوری ته‌د (قسیم امیرالمومنین) لقب ورکړ له هغه‌تاریخ څخه وروسته د (قسیم امیرالمومنین) نوم دغوری پاچاهانو لقب ؤ اودهر یو له‌نوم سره به دالقب لیکل کیده. (۲)

دسلطان شهاب الدین بیرغونه او توقیع :

سلطان شهاب‌الدین دوه ډوله بیرغونه لرل ښی خواته‌به‌یې تور بیرغ ؤ اودغور مشران به ورسره وو

کینڼی خواته به‌یې سور بیرغ ؤ اودترکانو مشران به‌ورسره وو .

اود سلطان شهاب‌الدین توقیع (۳) «نصرمن‌الله» وه

دسلطان شهاب‌الدین وزیران :

ضیاء الملک درمشی، دوهم مؤیدالملک محمد عبدالله سنجری، دریم شمس الملک عبدالجبار کیدانی «۴» وو «۵»

---

(۱) طبقات ناصری دکابل چاپ ۳۵۸ ـ ۴۱۶ـ۴۱۷ـ مخونه تاریخ فرشته اول ټوك ۵۶ مخ تاریخ‌هند ۹۲ مخ

(۲) طبقات ناصری ۳۸۵ مخ

(۳) توقیع دمهر اومسکوکاتو نوشته المنجد ۱۰۱۴ مخ یعنی دده مهر چه‌منشور او فرمانونه به‌یې مهر کول او ده پرمسکوکاتو باندی د نصرمن‌الله جمله‌وه .

(۴) کیدان دبامیانو اوغزنی ترمنځ کومه‌منطقه وه‌چه اوس دغه‌نوم نشته .

«۵» طبقات ناصری ۱۲۷ مخ .

د سلطان شهاب الدین ځینی مشهور سپه سالاران .

سلطان شهاب الدین غازي ډیر سپه سالاران او عسکري قوماندان لرل چه دده په فتوحاتو کښې لهده سره ملګري وو ، هاووده په لاربښوونه په هرځای او هرډ مقابله کښې بریالی او سوبه‌یې کړې ده . خو دلته‌د دوی‌د هغو ځینو سپه سالارانو بیان کوو چه تاریخي شهرت لري او ځینې یې د نوموړي سلطان له‌وفات څخه وروسته‌د سلطنت مقام ته هم رسیدلی دی

وایي : سلطان شهاب الدین غوري نارینه اولاد، نه‌درلود ، یوازې یوه لور یې لرله او دده دغه لور په کوچنوالي مړه شوه په‌غزني کښې به «دهك» کښې چه‌د سلطان د پاچاهۍ مرکز ؤ دهغې هدیره جوړه شوې ده او د سلطان شهاب الدین مزارهم په دغې هدیره کښې جوړ شوی دی .

وایي چه سلطان شهاب الدین دمریانو له تربیې او ښې روزنې سره ډیر مینه لرله او لکه د شاه‌زادګانو په شان به‌یې دهغو روزنه کوله ، چه دسروري مقام ته ورسیږي لکه چه‌دده له‌مریانو څخه تاج الدین یلدوز - او قطب الدین ایبك او ناصر الدین قباچه او شمس الدین التمش نامداره پاچهان شول (۱)

او وایي چه سلطان شهاب الدین خپل مریان دهان وارثان ګڼل او هغوته‌یې دهان دمیراث‌ویډ لواو دده پرهای باندې دسلطنت پرتخت باندې کښېناستلو وصیت کړی ؤ او ویلی یې دي چه (زما له مړینې څخه وروسته به زما پاچاهي زما دمریانو وي ، دوی زما زامن دي او زما نوم به‌په خطبه کښې جاري ساتي .)

وایي : کوم‌وخت دسلطان شهاب الدین له درباریانو څخه یو شخص چه دسلطان په حضور کښې یې قرب لاره ددوی په حضور کښې داسې عرض وکړ :

(په‌اسلامي دنیا کښې‌ستاسې په شان‌ستر او عالي‌شان پاچا نشته ، ډیر به ښه وو ، که ستاسې‌زامن درلودای چه‌له‌تاسې څخه وروسته ستاسې دسلطنت وارثان وای ، او ستاسې له عهدې‌څخه وروسته به دې‌عالي‌شانه کورنۍ کښې سلطنت باقي باتي‌وای .)

دغه پاچا یعنې‌سلطان شهاب الدین‌غازي دهغه سړي به ځواب کښې داسې وویل :
(نور پاچاهان یو یا دوه زامن لري او زه څوزره زامن لرم یعنې ترکي مریان چه زما

---

(۱) ترکتازان هند اول جلد ۲۲۵ مخ

له مرګ څخه وروسته به زما پاچاهۍ د هغو د پاره میراث او هغو به وي ، او له ما څخه وروسته به زما نوم په خطبه کښې محفوظ وساتی م) (۱)

د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني لیکي :

(لکه چه مرحوم سلطان معزالدین محمد سام غازي ویلي وو چه په خطبه کې به زما نوم یادوي . کله چه په ۶۵۸ هجري کال په هندوستان کښې ما دا کتاب لیکه د هندوستان په ټولو ولایتو کښې د نوموړي سلطان د جانشینانو له خوا په خطبه کښې د هغه غازي سلطان نوم جاري یادیدو .) (۲)

د سلطان شهاب الدین له دغو خبرو څخه واضح څرګندیږي چه نوموړي خپل مریان ولیعهدان کړي وو ، یعني دده له وفات څخه وروسته به د دوي د سلطنت جانشینان همدا د دوي مریان وي . لکه چه د سلطان شهاب الدین له شهادت څخه وروسته همداسې وشول چه دده وارث دده وراره سلطان محمود د سلطان غیاث الدین غوري زوی هم د هغه مرحوم له وینا سره سم تاج الدین یلدوز ته په غزني کښې او قطب الدین ایبک ته په هندوستان کښې او ناصرالدین قباچه په ملتان کښې د هغوی د آزادۍ خطونه واستول او هم یې هغو هریوه ته د سلطنت منشورونه واستول او دوي سره یې پخپلو مملکتو کښې پاچهان مقرر کړل .

ګواکي غوري سلطان غیاث الدین محمود ، دوی د خپل کاکا سلطان شهاب الدین زامن او خپل نسب او له ځان سره د سلطنت شریک وګڼل .

چه د سلطان شهاب الدین غوري یو نوم « معزالدین » ؤ او دغه اشخاص نوموړي سلطان ته منسوب وو ، نو ځکه مورخینو دا پاچهان د «معزي» په نسبتي لقب ملقب کړي دي تاج الدین یلدوز «معزي» قطب الدین ایبک «معزي» ناصرالدین قباچه «معزي» او شمس الدین التمش «معزي» او بهاء الدین تغرل «معزي» یې بللي او لیکلي دي .

د دې او س د سلطان شهاب الدین د هغو وارثانو احوال بیانوو ، چه په اول کې د سلطان مریان وو ، بیا یې جنګي سپه سالاران وو ، بیا دده له خوا نائب الحکومه ګان وو بیا د نوموړي سلطان د توصیې له مخې دده له وفات څخه وروسته د سلطنت مقام ته ورسیدلي دي

---

(۱) د نوموړي سلطان دغې وینا ثابته کړه چه پښتانه مریان پري نه ګڼي او نه هغو ته د مال ومتاع او حقارت په سترګه ګوري بلکه خپل نسبت یې ګڼي لکه چه نوموړي سلطان په حیات کښې خپل مریان سپه سپالاران او نائب الحکومه کان مقرر کړي وو او له وفات څخه وروسته یې هم د پاچاګیدو وصیت ورته وکړ

۲ طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۸۳ مخ

تاج الدین یلدوز «معزی» :

د سلطان شهاب الدین د معروفو نائب الحکومه گانو له جملې څخه یو تاج الدین یلدوز، دی اوس به له کوچنیتوب څخه دده احوال بیان کړو : تاج الدین یلدوز د کوچنیتوب په حال کښې مریی ؤ او سلطان شهاب الدین وپیرود، او دده په دربار کښې خوراښه وروزل شو، دعلم او لیاقت خاوند شو .

له دې امله چه تاج الدین یلدوز د کوچنیوالی په مهال کښې د سلطان له خوا ښه تربیه شوی او پولایق سړی ور څخه جوړ شوی ؤ نو سلطان دی پر نورو مریانو باندې آمر مقرر او د نورو مریانو د کارو او اداری چارې یې ده ته وسپارلې .

د تاج الدین یلدوز د نائب الحکومگۍ دوره :

په (۵۷۲) هجری کال چه سلطان شهاب الدین دوهم ځل د سنقران خلک ایل کړل او په همدغه واری «کرمان» هم فتح کړ په همدغه کال یې تاج الدین یلدوز د کرمان او سنقران نائب الحکومه مقرر کړ .

او ددغه ولایت (کرمان) او دغو سیمو نائب الحکومگي او امارت د سلطان شهاب الدین غازی د وفات کیدو تر وخته پورې د نوموړی یلدوز په لاس کښې ؤ (۱)

کرمان د «اوسنۍ کرمې سیمه» :

دغوری پاچاهانو مخصوصاً د سلطان شهاب الدین په دوره کښې د (کرمان) زیات یادونه شوې ده په اوهغه عصر کښې ددغه حکومت یو معروف ولایت ؤ او د سلطان شهاب الدین له خوا په دغه ولایت کښې دده یو ستر او اعتمادی شخص (تاج الدین یلدوز) والی مقرر ؤ هر وخت چه به سلطان هندوستان ته سفر کاوه د کرمان په لاره به تلو او د هغه ولایت په مرکز کښې د تاج الدین یلدوز په ځای کښې به یې توقف کاوه او نوموړی والی به ور ته ستره میلمستیا کوله، او سوغاتونه به یې سلطان او د سلطان امراؤ ته ورکول د همدغه تاریخی شهرت له امله د دغه کرمان پیژندنه چه په اوس وخت کښې د هغه دا نوم نشته، مناسبه ده .

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۸۳ مخ طبقات اکبری ۲۱ مخ .

تاریخ فرشته لیکي :

(دا کرمان، هغه د بلوچستان د حدودو مشهور کرمان نه دی، بلکه دا کرمان یو ښار دی چه د غزني او هندوستان په منځ کښې پروت دی)

او وایي : دا ولایت د لویو لویو غرو په منځ کښې دی چه سپاره خلك په هغو غرو کښې په عسرت او تکلیف گرځي او تردد کولای شي او هغه ولایت افغانانو ونیو . (۱)

او په دې موضوع کښې د ښاغلي عبدالحی حبیبي څیړنه په دې ډول ده :

د منهاج سراج او ابن اثیر له بیان څخه چه د «کرمان» په باره کښې یې لیکلي او بیان کړی دی، دې نتیجې ته رسیږو، چه (کرمان) د کابل د موجوده سمت جنوبي د ولایت (پکتیا) ختیځې خوا ته له هغو سیمو څخه چه د ځاځیو او منګلو قومونه پکښې استوګنه لري، وروسته واقع دی .

او د سپین غره جنوبي لمنې او د کرمې تول دره دا باسین د رود ترمجرا پورې ټول ځمکې په هغه کښې شاملې دي .

او ما صوف علیه مستر داورتي، چه ئیالیا یې دا حدود لیکلي وو، په دې باره کښې پوره شرح لیکلې ده او د (کرمان) موقع یې چه ان ورځ د اول حرف په فتحه او په مثقله پښتو (ړ) (کړمان) ویل کیږي تعین کړې ده .

او د دوی د شرح ماته په نظر چه راغله نو د دغه مبحث په پای کښې را اوړه شوه . اهغه سیمه چه تاج الدین یلدوز، پکښې والي وُ ، له هغو درو او هغو ناوو څخه عبارت ده د هغو دوا لو خواوو ته غرونه پراته او رودونه جاري دي چه د سپین غره له جنوب څخه شروع شوي دي ، او د جنوب غرب خواته د گوملي د درې تر جنوبي سیمې پورې او بیده پرته ده ، او د غرب لوري ته د گردیز د غرو تر منځ سلسلې پورې رسیږي او د لمر خاته خواته د سند سا کر) د رود په مجرا پورې متصله ده ، او د دغې سیمې لویه برخه د «کرمې» له سین څخه او به کیږي چه پورتنۍ سیمې یې د کرمې دره او کښتنۍ خواته یې دا باسین په محاذات بنون او مروت وایي .

د کرمې دره، څلویښت کروه اوږده ده او د شلوزان د تیمور ي وا قعا تو د ضبط په قرار د (شنوزان) دره (۷) کروه اوږده د سپین غره له لمنو څخه د پیواړ تر ناوی پورې پرته ده ، او د تور یو پښتنو اقوام او یوه اندازه جاجان په هغې کښې استوګنه او سکونت لري او کرمان ، یوه کوچنۍ دره ده چه او به یې د شلوزان

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۵۱ مخ

او کرمې په سپین کښې تویږي ، او په دغې درې کښې کوم ښار ، د کوم مؤلف په په لیکنو کښې مونږ نه دی لیدلی .

او د حیات افغاني د لیکنې په قرار د دغې سیمې بله لویه دره د ایریاب (ایریوب) دره ده چه له سپین غره څخه جنوبي خواته جلا شوې او د وولس کروه او بده ده او دغې غرونه ښې میوې لري او د بغزن په لمر خاته کښې چه د محالیو مرکزي قصبه ده یو نهر له دغې درې څخه راوتلی جاري دی چه د کرمې په او بو کښې گډیږي .

بله دره پیواړ ، نومیږي دا دره هم رود لري چه د جنوب په انتها کښې له نورو او بو سره یو ځای کیږي .

او د دغې درې معروف کلي : (اشتیا - پیواړ ، بلوت، زو مشت، بهید او چې خېل بلند خېل ، ایریاب - بغزن او نور دی .

او د نورو هغو درو او به چه د کرمې جنوب غرب ته پرتې دی لکه خوست او دور او میدان ، او بکر خیل هم د کورې په رود گډیږي (۱)

په دغه پورتني تفصیل سره د سپین غره د جنوبي خوا درو او سیمو پخوانی تاریخي نوم چه « کرمان » ؤ ، په اوس وخت کښې په یوې کوچنۍ درې پورې محصور دی ، او ښایي چه په هغو وختو کښې دا ټولې سمسورې درې په « کرمان » پورې مربوطې وې چه شمالا د سپین غره په سلسله او په تیرا پورې نښتې دی او غرباً د گردیز په درو پورې او شرقاً دا باسین په غاړه او جنوباً په کوه سلیمان (کسې غر) محدودې دی .

اوس چه «کرمان شرح في الجملة معلومه شوه نو د ابن اثیر اقوال به هم د هغه له مخې سره تطبیق کړو ، دی وایي :

(مدینة کرمان ، وهي مدینة بین غزنة والهند ، وسکانها قوم یقال لهم ابغان (افغان) ولیست هذه بالولایت المعروفة بکرمان (۲) او د سلطان شهاب الدین غوري په باب کښې وایي : (وافاض العدل وسار من غزنة الی کرمان وشنوزان فملکها ثم تعدی الی ماء السند فمنعه من العبور .

فرجع عنه و قصد فرشابور (پېښاور) فملکها ویلیها من جبال الهند و اعمال الابغان «۳» .

---

(۱) حیات افغاني ٤۹۳ مخ .

(۲) معروف کرمان د بلوچستان په حدود و کښې دی

(۳) تاریخ کامل ۱۱ جلد ٦۳ مخ

که څه هم د ابن اثیر په مطبوع نسخه کښې « شنو ن » په «ر» قرشت لیکلی دی خو اصلاً شلوزان یاشنوزان موجوده دی «۱» .

او په اوس وخت کښې د پخوانی تاریخی کرمان په عوض « کورمه » مشهوره ده او ددغو سیمو مرکز همدا اوسنی کورمه ده .

تاج الدین یلدوز دو لیعهدی نخښه :

وایی : په آخرنی کال چه سلطان شهاب الدین هندوستان ته سفر کاوه اود پنجاب په شمالی غرونو کښې د کهوکرانود قوم دایلولو د پاره هغې خواته روان ؤ ،او په پخوانی عادت یې په کرمان کښې د « تاج الدین یلدوز » پرځای شپه شوه یلدوز هم د پخوانی عادت په شان او یه اوشان دا ره میلمستیا سلطان ته وکړه او یوزر قیباگانی او یوزر دانې خولی یې د تحفی په ډول د سلطان حضورته راوړې ،سلطان دهغو له جملې څخه یوه قبااو یوه خولی ځان ته وا خستې او نو رې یې پر خپلو امراوو ، وویشلې ؛

او په دغه وخت کښې سلطان شهاب الدین تاج الدین یلدوزته « یوه توره نخښه» ورکړه . یلدوز ته د سلطان له خوا ددغې نخښې ور کول دې تماشا ره وه چه له سلطان څخه وروسته به د غزنی د سلطنت (ولیعهد) تاج الدین یلدوزوی . «۲»

تاریخ فرشته لیکی :

په اخرنی وارچه سلطان شهاب الدین غوری کرمان ته راغی تاج الدین یلدوزته یې (یوه مخصوصه جامه اویوه توره نخښه) ورکړه اودا ددې نخښه وه چه د سلطا ن له مرگ څخه وروسته به دی دغزنی پا چاوی «۳» .

د تاج الدین یلدوز پاچاهی :

سلطان شهاب الدین چه له پنجاب څخه د بیرته راگرزید و په وخت کښې په لیاره کښې د کهوکرانو دطایفی دځینو فدائیانو له خوا شهید شوا و د د ه جنا زه له مشهد څخه غزنی ته یوړله شوه هلته خاوروته وسپارله شوه اوددعا او فاتحې مراسم

---

(۱) تعلیقات بر طبقات ناصری ۸۱۷ مخ .

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤٨٤ مخ .

(۳) تاریخ فرشته اول ټوک ٦٤ مخ .

لې تیرشول ، له هغه وروسته د شهید سلطان امراو و دده ورازه سلطان غیاث الدین محمود (۱) ته فیروز کوه ته استازی ورلیك واستول پهدې مضمون چه :

« د شهید سلطان وارث ته یې ، باید تهغزنی ته راشې او د خپل کاکا پر تخت کښېنې ! » خو سلطان غیاث الدین محمود دد وی د لیك پهجواب کښې د ا سې جواب ولیك : « زه یواځې دخپل پلار سلطان غیاث الدین پهتخت او مرکز فیروز کوه اودغور په مملکت خوښ یم اوتاج الدین یلدوز ته ئې د آزادی خطاوغزنی د سلطنت منشور راوا ستول چه دغزنی پاچاهی د تاج الدین یلدوزده او نو رامراء هم پرده اتفاق شول ، نوموړی یلدوزئې دغزنی پاچا کې ۰ (۳)

د سلطان غیاث الدین محمود غوری دآزادی خط اودسلطنت فرمان دسلطان شهاب الدین غازی دهغې وینا له مخې ووچه « زمامریان زما ز امن دی او ز ما له مرگه خخه ورو سته بهځمدوی زما پرځای ناست وی او پاچاهی به کوی او زمانوم به په خطبه کښې ساتی » ۰

نو له (۶۰۲) هجری کال څخه سلطان « تاج الدین یلدوز» پهغزنی کښې پاچا شواو دکرمان او سنقران ولایت هم په ده پورې مربوط ؤ (۳)۰

دسلطان شهاب الدین څخه وروسته د افغانستان تشکیل :

دسلطان شهاب الدین لهوفات څخه وروسته افغانستان پهدریو حکومت وویشل شو: یو حکومت پهغور کښې چوړ شوچه مرکز یې فیروز کوه او پاچایې سلطان غیاث الدین محمود د سلطان غیاث الدین محمد سام زوی ؤ او دوهم د غزنی حکومت وچه پاچایې تاج الدین یلدوز ؤ او د غزنی دغه حکومت یو کوچنی معمولی حکومت ؤ

دریم : د بامیان او تخارستان حکومت چهمرکز ئې د بامیا نو ښار ؤ پا چا ئې سلطان علاؤ الدین ؤ

(۱ سلطان غیاث الدین محمود دسلطان غیاث الدین محمد غوری زوی او دسلطان شهاب الدین سکه وراره ؤ ، پهدغه وخت کښې پهغورکښې پاچاؤ

(۲) طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۸۴ مخ ۰

(۳) تاریخ فرشته اول ټوك ۶۴ مخ ـ طبقات اکبری ۲۱ مخ ۰

د تاج الدین یلدوز او سلطان علاءالدین ترمنځ شخړې :

کله چه د سلطان شهاب الدین له وفات څخه وروسته دده سکه وارث دده دورور زوی غیاث الدین محمود غوري ؤ، او دی مستحق ؤ چه په غزني کښې د نوموړی سلطان پرځای کښېني، خو دی له خپل حق څخه تیر شو په غزني کښې ئې د سلطان د کرمان نائب الحکومه یلدوز باچا کړ او دهغه پاچاهي ئې په رسمیت و پیژندله نو تاج الدین یلدوز په غزني کښې پاچا شو،

او له غیاث الدین محمود غوری څخه وروسته د بامیانو او تخارستان پاچا سلطان علاء الدین بن بهاء الدین سام ځان د سلطان شهاب الدین د تخت وارث ګاڼه ځکه علاء الدین د سلطان شهاب الدین د کاکا ملك فخرالدین بامیانی لمسی ؤ او په غزني کښې ئې د تاج الدین یلدوز سلطنت نه مانه، نو په دغه اثر سلطان علاء الدین بامیانی پر غزني یرغل وکړ او غزني ئې ونیو خو وروسته تاج الدین یلدوز ځان تیار کړ بیا ئې پر غزني حمله وکړه او غالب شو، له علاء الدین څخه ئې بیرته غزني ونیو او علاء الدین خپل مرکز بامیانو ته ولاړ،

نو یلدوز بیرته په غزني کښې مستقل پاچا شو. (۱)

له سلطان قطب الدین ایبك سره د سلطان تاج الدین یلدوز منازعه او شخړه :

سلطان قطب الدین ایبك چه په ډیلي کښې پاچا ؤ لاهور هم دده په قبضه او مربوطاتو کښې ؤ تاریخ فرشته د سلطان تاج الدین یلدوز او قطب الدین ایبك ترمنځ د جګړو او منازعو علت او سبب په دې توګه وایی: تاج الدین یلدوز چه د غزني مستقل پاچا شو او د بامیانو د پاچا علاء الدین له نور تعرض څخه یې هم ځان خلاص او بې غمه کړ نو د غزني د حکومت د توسعې او د غزني د پخوانیو حکومتونو په شان حکومت جوړولو په فکر کښې شو چه لکه د غزنویانو او سلطان شهاب الدین غازی د وختو پخوانی برم بیا را وګرزوی، او چه لاهور هغه وخت د غزني په قلمرو کښې ؤ، نو د لاهور د نیولو په قصد ئې د پنجاب خواته لښکر کشي وکړه، د لاهور په حد و دو کښې د یلدوز او قطب الدین ایبك د لښکرو ترمنځ جګړه ونښته، خو له لږو جګړو څخه وروسته د هندوستان پاچا قطب الدین غالب شو د تاج الدین لښکر و ته ئې

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۸۱ مخ

ماتې ورکړه ، تاج الدین بیرته خپل مرکز غزنی ته راغی او قطب الدین ایبک غزنی ته ورپسې راغې دغزنی ښار یې هم له سلطان تاج الدین یلدوز څخه و نیو یلدوز خپل پخوانی ده د نائب الحکومګۍ دوخت مرکز کرمان ته ولاړ
سلطان قطب الدین څلو ینښت ورځی په غزنی کښې تیرې کړې:
تاج الدین یلدوز بیالویه حمله پرغزنی راوړه ، بیرته ئې له قطب الدین څخه غزنی و نیو قطب الدین له غزنی څخه دهند خواته په تیښته و لاړ او د (سودې ۾ برې) له لیارې بیرته لاهور ته ستون شو (۶۰۳ هـ) (۱)

سیستان ته د سلطان تاج الدین یلدوز لښکر کښې :

تاج الدین یلدوز چه دغزنی د پخوانیو حکومتو د برم د بیارا گرزو لو په فکر کښې شوی ؤ نو په همدغه اساس یې د سیستان خواته لښکر کښې و کړه د تاج الدین یلدوز لښکرې چه سیستان ته ورسیدې د سیستان مرکز ئې محاصره کړ خو په پای کښې د ده او د سیستان د پاچا تر منځ سوله وشوه نو تاج الدین یلدوز بیر ته خپل مرکز غزنی ته راستون شو .
او سلطان تاج الدین یلدوز څو ځلې د سلطان غیاث الدین محمود غوری سره د مرستې او کومک کولو په غرض دغزنی لښکری غور ته ورو ستې او دغور د پاچا له مخالفینو سره ئې جګړې وکړې ی لکه د هرات حاکم حسین خرمیل چه د سلطان محمد خوارزمشاه په لمسون ئې دغور له پاچا څخه تمرد کړی ؤ له هغه سره یې جګړه وکړه او هغه یې مات کړ او هرات ئې بیرته غوری سلطان ته په لاس ورکړ. (۲)

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوک ٦٤ مخ طبقات ناصری د کابل چاپ ٤٨٥ مخ .
(۱) طبقات ناصری ٤٨ مخ .

پر غزني باندې د سلطان محمد خوارزمشاه

حمله

زمونږ د ستر امپراتور سلطان شهاب الدین غوري له مرګ څخه وروسته د پښتو نخوا هیوا د ټوټه ټوټه او وویشل شو او دري جلا جلا حکومتونه پکښې تشکیل شول د هیواد په غربي خوا کښې د غور او فیروز کوه حکومت او د هیواد په شمال شرقي برخو کښې د بامیانو او تخارستان حکومت او د هیواد په پخواني مرکز غزني او کرمان کښې بل حکومت جوړ شو چه مرکز ئې غزني او پاچا ئې سلطان تاج الدین یلدوز و. او هندوستان هم له پښتو نخوا څخه جلا او مستقل حکومتونه پکښې جوړ شوی وو.

او په دغه وخت کښې د پښتو نخوا په شمال غرب کښې د خوارزمشاهانو حکومت چه له پخوا څخه هم د پښتو نخوا د حکومت قوي او زور ور رقیبو ډېره ترقي کړې او د پوره او ډېر زیات اقتدار خاوند شوی و.

او د دغه حکومت پاچا سلطان محمد خوارزمشاه (۱) و. نوموړی خوارزمشاه دومره مقتدر شو چه په مرکزي ایشیا کښې ئې خوراستره امپراتوري جوړه کړه چه ختیځې خواته د چین سرحدته ددهٔ د قلمرو سرحد ورسید او د غرب خواته د بغداد سرحدونوته دده د حکومت لمن رسیدلې وه.

او په داسې اندازه زور او اقتدار ورسره و چه د عباسیانو لوی حکومت هم ورڅخه په ویره کښې و لکه چه په (۶۱۵ هـ) کښې خوارزمشاه پر بغداد باندې د حملې په غرض خپلې قوي لښکرې هغې خواته مارش کړې او د فارس له لارې د عراق

---

(۱) د خوارزمشاهانو د نسب سلسله په دې ډول ده. د خوارزمشاهانو د کورنۍ ستر نیکه یو سړی و چه اصلاً د افغانستان د غرجستان (میمنې او د غرجه له طایفې څخه و) داسړی انوشتګین نومیده او د سلطان ملکشاه سلجوقي په دربار کښې مامور و نوموړی ملکشاه هغه د خوارزم والي مقرر کړ له انوشتګین څخه وروسته دده زوی د هغه ځای والي و له هغه وروسته د هغه زوی اتسز د پاچاهۍ او استقلال اعلان وکړ چه وروسته بیا د دغې کورنۍ پاچاهانو خورا لویه امپراتوري تشکیله کړه افغانستان ۴۵ مخ.

غرب خواته روان شو همدان ته ورسید خو د مغولو د هجوم په اثر بیرته راوګرزید(۱)

او د پښتونخوا د دغو ویشلو په اثر چه په عین حال کښې د دوی ترمنځ نفاق او مخالفت هم موجود ؤ، نو د پښتونخوا حکومتونه ډیر کمزوری وو، او په جلاجلا ډول سره د خوارزمشاه د مقتدر حکومت د مقابلې توان ورسره نه و لکه چه د سلطان شهاب الدین په عصر کښې شو نځه د خوارزم پاچا د پښتونخوا پر حکومت تعرض ونه کړی وو، خو بیرته پر شا وهل شول .

په دې وخت کښې چه د مولړی شهاب الدین له منځه تللی ؤ او پښتونخوا مغه خپله پخوانی قوه او قدرت له لاسه ورکړی ؤ .

نو خوارزمشا پښتونخوا ته متوجه شو او د پښتونخوا حکومتونه ئې یو په بل پسې له منځه یوړل .

په(٦١٢) هجری کال د سلطان محمد خوارزمشاه لښکرو د تخارستان او بامیانو له لیاری پر غزنی یرغل راووړ. دغزنی پاچا تاج الدین یلدوز هم د مغو د مدا فعې د پاره لښکرې تیارې کړې او د لوېې جګړې ترتیبات ئې نیولیوو د خوارزمشاه د لښکرو له رارسید وسره سم د دواړو لښکرو ترمنځ جګړه ونښته له خونړیو او زورو جګړو وروسته د تاج الدین یلدوز لښکری مغلوبه او ماتې یې وکړه دغزنی پاچا تاج الدین یلدوز چه نور د خوارزمشاه د زورو لښکرو دمقابلې توان په ځان کښې نه لید نو د(سوریه ډبرې) له لیارې د هندوستان خواته ولاړ او دغزنی او کابل او زابل وطنونه دا باسین ترغاړی پوری دخوارزمشاه په لاس کښې ولویدل او خپل مشر زوی جلال الدین «منکبرنی» ئې دغزنی داور، حروم او دغیات الدین او سلطان معزالدین ممالك ورکړل او حاکم یې مقرر کړ (۲) له دغه تاریخ څخه وروسته ټول افغانستان د خوارزمشاه په قلمرو کښې راغی .

له سلطان التمش سره د تاج الدین یلدوز شخړې :

سلطان تاج الدین یلدوز چه د خوارزمشاه له خوا په ماتې کرمان ته و رغی بیا ئې لښکرې تیارې کړې او په(٦١٣) هجری کال ئې د هندوستان د نیولو په قصد پر هندوستان باندې لښکر کښی وکړ . او په دغه وخت کښې د هندوستان پاچا سلطان شمس الدین التمش ؤ .

---

(۱) افغانستان ٤٥ مخ

(۲) طبقات ناصری ٣٦٥ مخ تاریخ فرشته اول ټول ٦٤ مخ

التمش هم دهندوستان لښکري دده مقابلې ته راوستې ، دادواړه قوې د(تراین ترائړی) په حدودو کښې سره مخامخ شوې او ددوی ترمنځ جګړه و نښته خو په دغه جګړه کښې دغزنی پاچا تاج الدین یلدوز مغلوب او سلطان شمس الدین التمش ورباندې بریالی شو . بخپله تاج الدین یلدوز هم دالتمش په لاس بندی ورغی او بندی ئې بدوان ته واستاوه ، او په بدوان کښې وفات شو او مزار یې هم په دغه ښار کښې جوړ شو .

وایی چه د مرحوم سلطان تاج الدین مزار د قولو خلکو په نزد یو متبرک مزار دی چه قول خلك هروخت د هغه مرحوم مزار ته ورځی او متبرك ئې بولی.

سلطان تاج الدین یلدوز په (۵۷۲ھ) تاریخ د کرمان نائب الحکومه شو او تر (۶۰۲ھ) پورې (۳۰) کاله د کرمان نائب الحکومه وّ او په (۶۰۲ھ) کښې په غزنی کښې پاچا شو او (۹) کاله ئې پاچاهی وکړه «۱»

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۸۶ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ۶۴ مخ .

قطب الدین ایبك:

د سلطان شهاب الدین غوري بل نامتو سپه‌سالار چه تاریخي شهرت لري قطب الدین ایبك (۱) ؤ وهٔ اندي له دې چه د هغه د عسکري قوماندانۍ دوره بیان کړو لومړی د دوی له ابتدائي ژوند څخه بحث کوو .

وایي: قطب الدین ایبك اصلاً د ترکستان ؤ او د کوچنیوالي په مهال کښې یو سوداګر له ترکستان څخه نیشاپور ته راوست او پر قاضي فخر الدین بن عبدالعزیز کوفي باندې چه د امام اعظم ابوحنیفه «رح» له اولادې څخه او د نیشاپور او د هغه د اطرافو حاکم ؤ وپلوره چه پاك خداي «ج» سعادت او نیك مرغي ده له برخه کړې وه نومړي قاضي له خپلو زامنو سره نوموړی ایبك په مدرسه کښې شامل کړ او په لږه زمانه کښې یې قرآن کریم اولیك زده کړل او د اسونو سپارلې او د غیشو وشتنه یې هم ورزده کړل، د دغه تعلیم اوښې تربیې په اثر قطب الدین د کمال او ښه خوي او لوړو اخلاقو خاوند شو .

کله چه نوموړی قاضي مړ شو نو د ده له زامنو څخه یو سوداګر رانیو دغه سوداګر ولید چه ایبك د کمال او ښه لیاقت خاوند دی نو یې غزني ته راوست او د تحفې په ډول یې سلطان شهاب الدین ته ور کړ . خو سلطان د هغه بیه ور کړه او ډېر زیاته بیه ور څخه واخیسته .

قطب الدین ایبك هوښیار او لایق شخص ؤ او په زیات صداقت او اخلاص یې د سلطان په حضور کښې خدمت کاؤ نو په لږه موده کښې یې د سلطان په دربار کښې قرب پیدا کړ او ژر یې ترقي حاصله کړه . (۲)

د قطب الدین ایبك لومړنۍ رتبه :

له څو مودې وروسته سلطان په خپل حضور کښې قطب الدین د تخت او حضور د عملې او خدمتګارانو مشر او آمر مقرر کړ .

---

(۱) په طبقات ناصري، کښې لیکي چه قطب الدین یې له دې امله ایبك باله چه ګامچه ګوته یې شله وه . طبقات ناصري د کابل چاپ (٤٨٨) مخ .

(۲) طبقات ناصري (٤٨٨) مخ

د میرا خوری رتبه :

قطب الدین ایبك چه په ورسپارل شوې وظیفه کښې خپل لیاقت وښود او سلطان بله لو یه د نده په غاړه ورواچوله د میراخوری په رتبه یې مقرر او د حیوانا تو روزنه یې ورته وسپارله وا یي کوم وخت چه سلطان په غزنی کښې ؤ د خوارزم پاچا د پښتونخوا پر حد و د و د خراسان پرسیمه تیری وکړ سلطان شهاب الدین د غزنی غور او بامیانو لښکرې راټولې کړې د خوارزم شاه د مدافعې د پاره د مرغاب د سند سیمو ته یې لښکرې ورو ستې . په دې وخت کښې به هر کله قطب الدین ایبك د اسونو د خرڅو او او شومی برابره ولو لپاره صحرا ته تلو یوه ورځ ناڅاپه د خوارزم شاه له لښکرو سره مخامخ شو قطب الدین په زیات جلادت او میړانه له هغو سره جګړه وکړه او پوره شجاعت او همت یې ښکاره کړ . (۱)

کوم وخت چه د خوارزم شاه په ماتې دا جګړه تمامه شوه خوارزم شاه بیر ته خپل هیواد ته ولاړ او سلطان شهاب الدین فا تح شو بېر ته غزنی ته را ستون شو سلطان چه د قطب الدین له شجاعت او میړانې څخه خبر شو نو یې هم د ده په د رنه سترګه وکتل او ښه په ګران شو .

دقطب الدین ایبك د عسکری منصب دوره :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین د هندوستان خواته د فتوحاتو او لښکر کشۍ عزم وکړ او د هندوستان پرخوا یې لښکرې روانې کړې نو یې قطب الدین ایبك چه د ښه لیاقت او شجاعت خاوند ؤ د یوې برخې لښکرو قوماندان وټاکه .

دقطب الدین ایبك دعسکری سپه سالارۍ او ملکی حکومت دوره:

په (۵۸۸) هجری کال کښې چه سلطان شهاب الدین په هند کښې د اجمیر او ډیلی له راجاګانو سره جګړې وکړې او په پای کښې سلطان فا تح شو او په دغو ټولو جګړو کښې قطب الدین خپل عسکری لیاقت وښود نو سلطان شهاب الدین قطب الدین ته سربیره په عسکری قوماندانۍ د (کهرام ـ او ـ سمانه) د سیمو ملکی حکومت هم ورکړ او زیاته اندازه لښکری یې هم په لاس ور کړې او (د هندوستان د لښکر و سپه

---

(۱) دا جګړه د سلطان شهاب الدین د پاچاهۍ په اوولسم کال کښې له خوارزمشاه سره شو یده .

سالاری) یی هم ده ته ورکده او نوموړی قطب الدین ورسپا رلی شوی دندې په ښه ډول که اجراء کړې (۱) .

دقطب الدین فتوحات په هند کښې :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غازی قطب الدین ایبك په هندوستان کښې پریښوداو په خپله بیرته پښتونخواته راستون شو، قطب الدین ایبك ته یی د نورو فتوحاتو امرهم کړی ؤ، نو قطب الدین د سلطان له او امرو سره سم په هند کښې نور فتوحات هم وکړل .

دمیرټ فتح :

قطب الدین اول په میرټ یرغل وروړ هغه ولایت یی فتح کړ .

دډیلی فتح :

د میرټ له فتح څخه وروسته سپه سالار قطب الدین پرډیلی یرغل وکړ او محاصره یی کړه . په دې وخت کښې له شاو خوا څخه دراجپوتانو لښکری راغلې د قطب الدین له پښتنی لښکرو سره یې شدیدې جګړې شروع کړې څو په پای کښې راجپوتانو ماتې وکړه پښتنی لښکری بریالی شوې قطب الدین ډیلی فتح کړه (۵۸۹ ه) (۲) .

دهانسی کلایی د «جیتوان» له یرغل څخه وساتله :

په (۵۸۹) هجری کښې دګجرات دراجا (بهیم دیو) عسکری سپه سالار (جیتوان) له ډیرولښکرو سره راغلی ؤ د (هانسی) په کلا باندی یې هجوم راووړی ؤ او سالار نصرالدین (۳) چه په دغه کلا کښې ؤ، له مهاجمو لښکرو سره یی مقابله شروع کړه څو په پای کښې یی ځان محاصره کړ او ډیلی ته یی خبرو استاوه له

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك (۶۱) مخ
(۲) تاریخ فرشته ۶۱ مخ طبقات ناصری ۴۷۱ مخ -
(۳) سالار نصر الدین یو پښتون سپه‌سالار ؤ د تاتیسوار د جګړو څخه وروسته چه سلطان دهانسی کلا فتح کړه نو یی سالار نصر الدین له نورو لښکرو سره په هغې کلا کې پریښوداو دهغه ځای اداره یی ده ته وسپارل له تاریخ فرشته ۵۸ مخ .

له قطب الدين څخه يي مرسته وغوښته . قطب الدين هم په زيات تعجيل ځان هانسي ته ورساوه . سپه سالار جيتوان چه د قطب الدين له راتلو څخه خبر شو چټکه يي بر پښو ده بيرته د ګجرات نهرواله ته ولاړ .

قطب الدين د هانسي کلا او نصرالدين له غلیم څخه وساتل .

د کول د کلا فتحه :

په (۵۹۰) هجري کال قطب الدين د (کول) پر کلا چه يوه خورا محکمه کلا وه حمله وکړه په خپل عسکري قدرت او شجاعت يي کلا فتحه کړه او يو زر اسونه او نور زيات غنيمتونه يي په لاس راوستل . (۱)

د کول نائب الحکومه او عسکري قوماندان :

په هغه کال چه سلطان شهاب الدين غازي د قنوج او بنارس له فتح څخه فارغ شو نو «کول» د کلا د لپاره چه قطب الدين فتح کړي وه او په هغه ځای کښې دا يوه ډيره محکمه او معروفه کلا وه ورغی ، هلته چه ورغی او هغه کلا يي وليده له دغه ځای عسکري قوماندان او نائب الحکومه يي (حسام الدين اوغلبك) مقرر کړ .

د قنوج او بنارس په جګړه او فتح کښې قطب الدين ګډون کړی و :

په (۵۹۰) هجري کال چه سلطان شهاب الدين غازي د قنوج او بنارس د فتح کولو په غرض هندوستان ته راغی سپه سالار قطب الدين ايبك د کول له کلا څخه د سلطان مخې ته ورغی او د سلطان په خدمت کښې يي ځان حاضر کړ سل تازي اسونه په طلا بار او يو زنجير پيل يي په سپينو زرو بار د سلطان حضور ته پيش کش کړل .

او پنځوس زره سپاره عسکر يي د جګړي لپاره چمتو ودرول .

او د سلطان غازي له خواهم دی ونازول شو او مقدمة الجيش يي مقرر کړ ، دده لښکري به د نورو لښکرو په مخ کښې وړاندې وړاندې روانې وې .

د بنارس د راى (جيچند) لښکري مقابلې ته راغلې او د دواړو او ترمنځ جګړې وشوې په پای کښې د بنارس د راجا له لښکر وماتې وکړه پښتني لښکري بريالۍ شوې د بنارس او قنوج ښارونه يي فتح کړل . (۲)

---

(۱) تاريخ فرشته ٦١ مخ طبقات ناصري ٤٧١ مخ

(۲) تاريخ فرشته اول ټوك (٦١) مخ .

قطب الدین ایبک د ټول هندوستان

نائب السلطنه شو:

په هغه (۵۹۰) هجری کال چه سلطان شهاب الدین د قنوج او بنارس له فتح څخه فارغ شو ډیلی ته راغی د ډیلی یې د ټول هندوستان دار السلطنه وټاکه او سپه سالار قطب الدین ایبک یې د ټول هندوستان (نائب السلطنه) مقرر کړ او د هندوستان ټولی نظامی او ملکی چاری یې نوموړی ایبک ته وسپارلی او په هندوستان کښې د نورو فتوحاتو امر او توصیه یې هم ورته وکړه بیا په خپله سلطان بیرته خپل هیواد پښتونخوا ته ستون شو (۱)

تاریخ فرشته لیکی:

هغه جنګی پیلان چه سلطان شهاب الدین ته د قنوج له فتح څخه په لاس ورغلی وو ټول یې د ډیلی نائب السلطنه قطب الدین ایبک ته وسپارل.

او چه د سلطان په عقیده سپه سالار قطب الدین د دغه ستر کار د انجام او سرته رسولو وړ او لایق ؤ نو یې نوموړی د هندوستان د چارو واګی اختیار مقرر کړ او زیاتې لښکرې او جنګی پیلان یې په لاس ورکړل. (۲)

دقطب الدین ایبک فتوحات د نیابت په وخت کښې:

د راجپوت همیراج سره دقطب الدین ایبک جګړه او د اجمیر تصرف:

تاریخ فرشته لیکی:

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غوری اجمیر فتح کړ د رای پتهورا زوی (کوله) ته یې اجمیر پرېښو د او نوموړی کوله د اجمیر راجا شو.

په دې وخت کښې چه د قنوج او بنارس فتوحات ختم شول او سلطان په ډیلی کښې قطب الدین مقرر کړ دی بیرته خپل هیواد غزنی ته ستون شو په دغه زمانه کښې قطب الدین ایبک ته داسی خبر راغی:

چه راجپوت (همیراج) د (الور) له غرو نو څخه راوتلی دی او د اجمیر پر راجا یا ندی یې حمله راوړې ده او له کمی جګړې څخه وروسته کوله مغلوب شو له اجمیر څخه وتښتید (رنتنبور) ته تللی دی او اجمیر همیراج نیولی دی پل داسی خبر قطب الدین ته راغی:

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ (۴۷۱) مخ تاریخ فرشته (۸۵) مخ تاریخ اکبری ۱۹ مخ تاریخ هند (۹۴) مخ.

(۲) تاریخ فرشته اول ټوک (۶۱) مخ.

چه (جهترای) هم زيات لښكري راغونډې كړيدې د ډيلى خواته را روان دى غوښتى چه پر ډيلى باندى حمله وكړى.

سپه سالار قطب الدين هم په بيړه د خپلو ښېښتنى لښكرو تعبيه وكړه اول يې د جهترای خواته مخه كړه د هغه مقابلې ته ووت ،
جهترای چه د قطب الدين د لښكرو د راتلو واورېدل له خپل عزم څخه واوښت اجمير ته لاړه.

قطب الدين اجمير ته ورپسې ورغى (او د واله غليمان ئې پر يو ه ځاى پيدا كړل) د اجمير نوى راجا همير اج له زياتو لښكرو سره د سپه سالار قطب الدين مقابلې ته راووت د دواړو لښكرو ترمنځ شديده محاربه ونښته ، همير اج چه په خپله د جګړې ډګر ته راغلى ؤ ووژل شو . او لښكرى چه ئې بې سره هم شوې ماتې يې وكړه وتښتېدې .

اجمير د قطب الدين په قبضه او تصرف كښې راغى او د اسلامى حكامو مركز شو .
قطب الدين بيرته ډيلى ته ستون شو (۵۹۰) (۱)

د ګجرات او نهرواله فتح :

په (۵۹۱) هجرى كښې د ډيلى نائب السلطنه قطب الدين ايبك بيا خپلې ښېښتني لښكرې تيارې كړې د ګجرات او نهرواله د فتح كولو په غرض هغې خواته ولاړه .
د نهرواله (۲) د (راى بهيم ديو) سپه سالار جيتوان له زياتو لښكرو سره د قطب الدين مقابلې ته راووت . د دواړه خواوو ترمنځ جګړه ونښته او نوموړي سپه سالار جيتوان د جګړې په ډګر كښې ووژل شو . راى بهيم ديو ، چه د هغه ځاى خوراغښتلى او زورور راجا ؤ ، وتښتېده ، د نهرواله ښار د قطب الدين په لاس كښې ولوېده . او زيات حربى سامانونه او نور غنائم په لاس ورغلل (۳) راى بهيم ديو ، هغه زورور ، راجاؤ ، چه په (۵۷۴) هجرى كال ئې د سلطان شهاب الدين افغانى لښكرو ته ماتې وركړې وه او سلطان ناكام بيرته خپل هيواد ته ولاړه .
خو بدې وار سپه سالار قطب الدين ايبك د سلطان غچ له هغه څخه واخيست او هغه ښار او مملكت د ښېښتنو په لاس كښې ولويد .

---

(۱) تاريخ فرشته اول ټوك ۶۲ مخ (۲) نهرواله، هغه وخت د ګجرات مركز او د راى بهيم ديو ، پايتخت ؤ . (۳) تاريخ فرشته ۷۲ مخ .

دهانسي دکوټ ودانول :

قطب الدين ايبك چه د نهرواله، له فتح څخه فارغ شو، له هغه ځايه د «هانسي» کلاته ولاړ، او دهانسي کلاې نوې ودانه کړه او يو عسکري محکم کوټ ئې هلته ودان کړ چه پښتانه عساکر به پکښې اوسيدل . او دغه کوټ له ودانو لو څخه وروسته قطب الدين بيرته ډيلي ته راستون شو . (۵۹۱ هـ) (۱)

دهانسي کلا يوه محکمه عسکري کلاوه په (۵۸۸) هجري کال سلطان شهاب الدين غازي اجمير او دهغه مربوطات او دهانسي کلا فتح کړه او په دغه عسکري کلا کښې يې سالار نصرالدين (يو پښتون عسکري صاحب منصب ؤ) پرېښود ، او دهغه ولايت والي يې مقرر کړ(۲) داکلا يوه عسکري کلاوه عسکري مرکز بڼه يې درلود هر وخت به په هغه ځای کښې پښتانه عساکر پراته وو، نو په دغه وخت کښې دهندوستان نائب السلطنه قطب الدين ورغی هغه عسکري کلا يې له سره نوې ودانه کړه .

قطب الدين ايبك له کوله سره مرسته وکړه :

قوام الملك رکن الدين حمزه (۳) چه سلطان شهاب الدين د « رنتنبهور » په سيمه کښې ځای گير او ځای پداد ، ورکړی و او هلته يې استوگنه کوله ، نو مو ړی قوام الملك د ډيلي والي قطب الدين ايبك ته داسي خبر واوراستاوه :

د پتهورا ، زوی « کوله » چه داسلامي حکومت تابع او باج گزاری دو رنتنبهور ، په سيمه کښې د هغه پر کلا باندې د هميراج ، ورور ، چه په غرونو کښې استوگنه لري ، يرغل راوړی دی او نوموړی کوله يې محاصره کړی دی) .

قطب الدين ته چه داخبر ورسيد سمدستي يې لښکر تيار کړ ، کوله کلاته يې ځان ورساوه ، دهميراج ورور ، چه دپښتني لښکرو دراتلو واورېدل کوچ يې وکړ بيرته دهغو غروته ولاړ ، د کوله کلا يې پرېښوده .

---

(۱) تاريخ فرشته ٦٢ مخ .

(۲) تاريخ فرشته اول ټوك ٦١ مخ .

(۳) قوام الملك حمزه هغه سړی دی چه سلطان شهاب الدين غازي رای پتهورا ، ته استولی ؤ او پيغام يې وروړی ؤ چه پتهورا د اسلام مقدس دين قبول کړي او د سلطان شهاب الدين اطاعت ومني فرشته ۵۸ مخ .

راجاکوله چه لهخپل غلیم څخه نجات ومو ند ، پښتانه سپه سالار قطب الدین ته راغی خپله شکریه یې ورته وړاندې کړه، او ډېرمال اودې دانې دزرو څخه کې یې دپیش کش اوسوغات په ډول قطب الدین ته ورکړل . (۱)

قطب الدین ایبك غزنی ته ولاړ :

په تاج المآ ثر کښې لیکي :

کله چه اجمیر دوهم ځل فتح شو او اسلامي حکومت پکښې جوړ شو او هم نهرواله قطب الدین فتح کړ او درنتنبهور ، سیمه هم پښتنو دنورو له تجاوز څخه و ژغورله نو دډیلی نائب السلطنه قطب الدین ایبك یوه مفصله عریضه چه د دغو فتوحاتو تفصیل پکښې درج و . دسلطان شهاب الدین غازی حضور ته غزنی ته واستوله .

سلطان ته چه داعریضه ورسیده ، نو یې دقطب الدین په نوم یوفرمان صادر کړ او غزنی ته یې راوغوښت .

قطب الدین هم په چټکی سره غزنی ته ولاړ ، اوسلطان زیات شفقت او نوازش ورسره وکړ .

له څه مودې وروسته یې بېرته هندوستان ته رخصت کړ ، قطب الدین له نویو هدایانوسره بېرته ډیلی ته روان شو .

دقطب الدین ایبك نكاح كول :

کله چه قطب الدین له غزنی څخه هندوستان ته روانیدو ، سلطان دکرمان پر والی تاج الدین یلدوز ، باندې یوفرمان وکړ ،(چه یلدوزدې خپله لوردډیلی والی سپه سالار قطب الدین ته په نکاح ورکړی قطب الدین چه کرمان ته و رسید تاج الدین یلدوز هم خپله لور قطب الدین ته په نکاح ورکړه . له نکاح کولو څخه وروسته قطب الدین ډیلی ته ولاړ ډیلی ته چه ورسید دواده جشن او میلې یې وکړې . (۲)

دتهنکر او گوالیار ، په فتح کښې هم قطب الدین اشتراك کړی دی :

په (۵۹۲) هجری کال چه سلطان شهاب الدین غازی د(تهنکر) او گوالیار دفتح کولو په غرض هندوستان ته راغی ، قطب الدین دهانسی سیمی ته دسلطان مخې ته راغی او خپلې لښکرې یې دسلطان خدمت ته چمتو او حاضرې کړې .

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۶۲مخ .

(۲) تاج المآ ثر .. مخ .

سلطان غازي چه د تهنکر کلا او هغه ولایت فتح کړل، د هغه ولایت حاکم یې بهاء الدین طغرل مقرر کړ .

له دغه ځای څخه سلطان شهاب الدین د ګوالیار، د ولایت خواته پسې روان شو د ګوالیار، راجا (سلکهن) یې له مقابلې څخه پښتانه امپراتور سلطان شهاب الدین ته تسلیم شو، او پرخپل ځان یې باج او خراج ومانه . سلطان هم ومنله او سلکهن یې د خپل هیواد حاکم پرېښود ،

او قطب الدین په دغو فتوحاتو کښې اشتراك وکړ . (۱)

د راجپوتانو ستر انقلاب :

په (۵۹۳) هجري کال کښې د راجپوتو راجاګانو او د نهروالې خواني راجا (بهیم دیو) بخپل منځ کښې سره اتفاق کړی ؤ، او زیاتی لښکري یې سره راغونډي کړي وي او عزم یې کړی ؤ، چه اجمیر د مسلمانانو له لاس څخه وکاږي . قطب الدین هم خپلې لښکري تیاري کړي د هغو مقابلې ته را ووت، او د دواړو خواوو ترمنځ کلکې جګړي شروع شوې او په دغو جګړو کښې سپه سالار قطب الدین زخمي شو .

په دغه اثر د مسلمانانو زړونه مات شول، نو بیرته پر شا اجمیر ته ولاړل د غلیم لښکري هم ورپسې راغلې د اجمیر په دړې کروهی کښې یې ورته واړول .

د قطب الدین د لښکرو او د غلیم د لښکرو ترمنځ بیا جګړي شروع شوې او پرله پسې جګړي جاری وې .

له پښتنو نخوا څخه د قطب الدین مرستې ته نور پښتانه راغلل :

سپه سالار قطب الدین د راجپوتانو د ستر انقلاب او جګړو اطلاع سلطان شهاب الدین ته غزنی ته واستوله (چه د راجپوتانو او نورو د عمومي او سخت پوړنی او انقلاب له امله زمونږ لښکري په مضیقه کښې او په اجمیر کښې محصوري دي .)

نو له دغه امله سلطان د پښتنو مشران را وغوښتل او ورته وې ویل : په هندوستان کښې زمونږ پر لښکرو باندې د غلیم له خوا زور راغلی دی او زمونږ لښکري د ضعف په حال کښې دي باید مرسته او قوت ورته ورسوی .

د سلطان له امر سره سم د پښتنو د غولاند ینیو اشخاصو (اسلام خان- اسد الدین ارسلان خلجی- نصر الدین حسین- اعز الدین مؤید ، او شرف الدین محمد) له خپلو

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوك ۶۲ مخ .

قومونو څخه زيات ملي لښکر راغونډ کړل، له پښتونخوا څخه يې په ډېر چټکۍ سره ځانونه د جګړې محاذ ته ورسول .

دا پښتانه چه هلته ورسېدل له غليم سره يې جګړه شروع کړه خو له ايې جنګ څخه وروسته د غليم لښکر وماتې وکړه ميدان يې پرېښود .

او د (۵۹۳ هـ) د صفرې د مياشتې په نيمايي کښې سپه‌سالار قطب الدين له اجمير څخه د ګجرات د شورشيانو او انقلاب کوونکو د ځوبولو په نيت په غرض د نهروا له خواته روان شو . په لياره کښې يې د (هوتلي، او بزولي) کلاګانې (۱) پخپله قبضه کښې راوستې .

په دې وخت کښې قطب الدين ته داسې خبر راغی چه د (دالن، اواريسی) (۲) راجپوتان هم پورته شوی دي او د نهرواله، له راجا سره متفق او يو ځای شوی دي او د (سروهی) (۳) د ښار په حدودو کښې يې د (آب ګړه) (۴) په کلاکې ځای نيولی دی او د پښتنې لښکرو مخه يې نيولې د دغو ځای ګجرات ته د پښتنو د تللو مانع شي .

نو قطب الدين د دغو خواته متوجه شو په دغو درو اړولو، زور وکښې يې ځان غليم ته ورساوه او رستمانه حمله يې وربانديې وکړه . او له شديدې جګړې څخه وروسته غليمان مات شول، او د دغوی ټولې وسلې او حربي سامانونه د پښتنو لاس ته ورغلل او له دې لياري د پښتنو عسکري قوت او قدرت يو په څلوره زيات شو . سپه سالار قطب الدين چه د انقلابيانو له شورش او شخړو څخه ځان بی غمه کړ . نو ګجرات ته ورغی، او له ځينو اجراآتو څخه وروسته بيرته ډيلي ته راغی او د پښتنو مشرانو ته يې زيات انعامونه ورکړل او د دغو رتبې يې ور جګې کړې او د دغې ستري او مهمې فتح زيری يې سلطان شهاب الدين غزني ته واستاوه او زيات جواهر او نوری قيمتی هديې يې هم سلطان ته واستولې (۵) .

د کالنجر فتح:

په (۵۹۹) هجری کال کښې سپه سالار قطب الدين د «کالنجر» (۶) د ولايت د فتح کولو په عزم خپلې لښکرې تياری کړې او د هغه ولايت خواته روان شو د قطب الدين لښکرې چه هغه ولايت ته ورسېدې د هغه ځای راجا هم له مخه د اسلام د لښکر ود مقابلې د پاره تياری کړې وه د اسلام د لښکرو مقابلې ته يې خپلې لښکرې

---

(۱) هوتلي ـ او بزولي ۰۰۰۰ (۲) دالن او اوار يسی . (۳) سروهی ۰۰

(۴) آب ګړه . (۵) تاريخ فرشته اول ټوك ۶۲ مخ ۰ . (۶) کالنجر ۰

راوستي خود اسلام د لښکرو له اولي حملې سره مقاومت ونکړ او کله چې بیرته پرښا ولاړې په ښار تنو تلې په ښار کښی یې ځان متحصن او محاصره کړ، په پای کښې د هغه ځای د راجا له خپلې اولې مقابلې څخه پښېمانې څرګنده کړه او سوله یې وغوښته د اسلامي حکومت تابعیت یې قبول کړ او پر ځان باندې یې باج او خراج ومانه پښتانه سپه سالار د هم دا سوله ور سره ومنله بیرته ور څخه راوګرځېد.

خو په همدغه موده کښې هغه راجا مړ شو پر ځای یې یو بل سړی چه (جده دیو) نومېد کښېناست د هغه ولایت راجا شو.

دغه نوی راجا د اوږدو خیالاتو او لوی غرور خاوند ؤ د پخوانی راجا په فیصله راضي نه شو او له اسلامي حکومت سره د سولې او معاهدې له مقرراتو سره یې مخالفت وکړ، او د اسلام د حکومت د مدافعې او مقابلې اعلان یې وکړ.

نو د اسلام سپه سالار قطب الدین مجبور شو، بیا یې پر هغه ولایت باندې یرغل ور ووړ هغه راجا هم مقابلې ته راووت جګړه ونښته، خو له لږې مقابلې څخه وروسته، نوی راجا مغلوب او تسلیم شو، کلا او ښار د مسلمانانو په لاس کښې ولوېدل.

په کالنجر کښې نوی مسلمانان:

وايي: کله چه د «کالنجر» ښار د پښتنو په لاس کښې ولوېد، نو د پښتنو نه سلطان شهاب الدین غازي له مقرراتو سره سم چه د هندوستان په ټولو ښارونو او هر ځای کښې به د اسلام عالمانو دیني تبلیغات کول او د اسلام د مقدس دین مزایا او فضائل به یې د هغو ځایو خلکو ته بیانول او د هغو مذهبي او د اسلامي مبلغینو د تبلیغ او د دیني دعوت په اثر به ډېر ډلی ډلی خلک د اسلام په دین کښې داخلېدل په دغه ځای کښې هم چه ښار فتح شو د اسلام علماؤ، په دیني تبلیغاتو شروع وکړه خلک یې د اسلام د دین له حکمت او فضایلو څخه خبر کړل او د اسلام مقدس دین ته یې دعوت کړل.

وايي: چه په همدغه اول وخت کښې په «کالنجر» کښې (پنځوس زره) نفره د هغه ځای له خلکو څخه په اسلام مشرف او د اسلام مقدس دین یې قبول کړ(۱).

دا مهم کار هم د پښتنو له مهمو اسلامي تاریخي خدمتونو څخه دی او د هند په خاوره کښې د اسلامي نړۍ له اساسو نو څخه دی چه افتخار یې پښتون قوم ته راجع او د غازي سلطان شهاب الدین غوري له تاریخي مفاخرو څخه ګڼل کېږي.

---

(۱) تاریخ فرشته اول ټوک ۶۳ مخ.

دکالپي دپایتخت (مهوبه) اود بداؤن فتح:

پښتون سپه سالار قطب الدین چه دکالنجر له مهمې فتحې څخه فارغ شو په همدغه وخت کښې د «کالپی» د ولایت پایتخت د «مهوبه» (۱) دښار فتح کولو په غرض یې هغې خواته لښکري رواني کړي هلته چه ورسید هغه ښار یې هم فتح کړ

له دې فتح څخه وروسته سمدستي د «بداؤن» (۲) خواته پسې ولاړ، د بداؤن ښار یې هم یې له کومې مهمې جګړې او دمقابل خوا دمقابلې څخه فتح کړ له دغو فتوحاتو څخه وروسته ښاغلي قطب الدین بیرته خپل مرکز ډیلي ته راستون شو او دغو مهمو فتوحاتو او دغو سترو کارو رپوټ او له خپل کامیابیو څخه مفصل معلومات یې پښتانه امپراتور سلطان شهاب الدین ته غزني ته واستول (۵۹۹ هـ) (۳)

دکهوکرانو په جګړو کښې هم قطب الدین ګډون کړی ؤ:

په (۶۰۲) هجری کال چه سلطان شهاب الدین غازی د «کهوکرانو» د بغاوت له امله پنجاب ته ولاړ قطب الدین ایبك هم له خپلو پښتني لښکرو سره چه سپه سالار شمس الدین التمش هم ورسره ؤ، په دغو جګړو کښې داشتراك دپاره د نوموړی سلطان په خدمت کښې ځان حاضر کړ.

او په دغو جګړو کښې چه د کهوکرانو دا پلولو دپاره پښتنو وکړې قطب الدین او التمش دواړه خپله توره او شجاعت ښکاره کړه په پای کښې پښتني لښکر و میدان وګاټه او غلیم یې مغلوب کړ او سلطان چه د شمس الدین توره او شجاعت په دغه جګړو کښې ولیدنو یې آزاد کړ او وی نازاوه چه جګړه ختمه شوه سلطان لاهور ته راغی قطب الدین یې بیرته ډیلي ته رخصت کړ او سلطان دغزني خواته روان شو (۱)

دقطب الدین ایبك دپاچاهۍ دوره:

په (۶۰۲) هجری کال چه د پښتنو امپراتور سلطان شهاب الدین غازی د اباسین په سیمه کښې شهید شو (رحمة الله علیه) نو په غور کښې د نوموړی شهید سلطان سکه وراره دسلطان غیاث الدین محمد سام غوري زوی سلطان غیاث الدین محمود پاچا شو.

---

(۱) کالپی اود مهوبه ښار . بداؤن .

(۲) تاریخ فرشته ۶۳ مخ ،

(۳) طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۷۴ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ۳۴ مخ .

نوموړی غوری پاچا چه د مرحوم شهاب الدین وارث ؤ، د هندوستان نائب السلطنه قطب الدین ایبك ته چه د سلطان غلام ؤ د آزادۍ خط راواستاوه او سربیره پر آزادۍ د هندوستان د پاچاهۍ فرمان او د سلطانۍ خطاب یې هم ورته راواستول وایي کله چه د دغو فرمانو خبر لهوری ډیلي ته راورسیده نو قطب الدین د دغو د استقبال دپاره لاهور ته ورغی.

او د دغو فرمانو په اثر چه سلطان غیاث الدین راستولي وو، قطب الدین زیاته خوشحالي او مباهات وکړه.

د (٦٠٢) هجری کال د ذیقعدې د میاشتې (١٨) د سه شنبې ورځ وه چه قطب الدین په لاهور کښې د پاچاهۍ پر تخت کښېناست او له څو ورځو تیرولو څخه وروسته بیرته ډیلي ته ولاړ. (١)

د سلطان تاج الدین یلدوز سره د سلطان قطب الدین شخړې:

په (٦٠٢) هجری کښې د غزنی پاچا سلطان تاج الدین یلدوز د پنجاب د نیولو له پاره لاهور ته راغی د پنجاب مرکز لاهور یې ونیو.

سلطان قطب الدین چه له دې پېښې څخه خبر شو خپلې لښکرې یې تیارې کړې لاهور ته راغی، د دواړو خواوو ترمنځ جګړه وشوه، خو له لږې جګړې څخه وروسته یلدوز مغلوب شو، لاهور بیرته د قطب الدین په لاس کښې ولوید سلطان قطب الدین غزنی ته په یلدوز پسې راغی غزنی یې هم ور څخه ونیو، او تاج الدین کرمان ته ولاړه په کرمان کښې یې بیا لښکرې تیارې کړې بیرته یې پر غزنی باندې حمله راوړه او غزنی یې له قطب الدین څخه ونیو قطب الدین د (سورۍ ډېرۍ) له لیارې بیرته لاهور ته ولاړ له دغه وروسته سلطان قطب الدین ډیلي پرېښود، لاهور یې د هغه د پاره پایتخت او مرکز وټاکه (٢) ځکه هغه د اعادۍ د سلطان تاج الدین یلدوز د مخې نیولو د پاره مناسب ؤ.

د سلطان قطب الدین مړینه:

په (٦٠٧) هجری کال سلطان قطب الدین په لاهور کښې د اسونو د سپارلۍ په میدان کښې د چوګان بازۍ په لوبه کښې له آس څخه ولوید او د زین کوبۍ یې په سینه برابر شو مړ شو (رحمة الله علیه).

---

(١) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤٩٠ مخ تاریخ اول ټوك فرشته ٦٣ مخ

(٢) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤٩٠ مخ فرشته ٦٣ مخ

د قطب الدین ایبك د حکومت دوره شل کاله او څو میاشتی وه، شپاړس کاله په ډیلی کښی نائب الحکومه یا د سلطان شهاب الدین غازی د هند نائب السلطنه ؤ او څلور کاله یې پاچاهی کړي ده (۱)

په طبقات اکبری کښې لیکي :

سلطان قطب الدین ایبك یی ځکه «ایبك» باله چه کامچه گوته یې ماته وه نوموړی د پرسخی شخص ؤ او ډیره اخلاص او وفا له امله او دده د زیات شجاعت او میړانی او تور یا لیتوب له امله د سلطان شهاب الدین غازی ډیر خوښ او پر گران وه او نوموړی قطب الدین ایبك د نائب السلطنگی او د پاچاهی په وخت کښی سخا او ښه بخښنو له کول بهاء الدین اوشی، چه د نوموړی قطب الدین د عصر له فضلا ؤ او د باؤ څخه ؤ.

دده په باب کښې داسې وایي :

ای که بخشش بسیار تو در جهان آورد — کمان را کف تو کان بجان آورد

از رشك کف تو خون گرفته دل کان — وز لعل بها نه در میان آورد

او وایي چه خلکو به دی قطب الدین لك بخش باله.

او تر اوسه پوری په هندوستان کښی چه څوك د چا د سخاوت ارښتنی ستاینه کوی نو ځکه (د کل قطب الدین) وایی.

کل، د کاف په فتحه او د لام په کسره، زمانی ته وایی یعنی د قطب الدین زمانه او په هند کښی (کل قطب الدین) یو ضرب المثل یا ته ری چه د سخی د پاره استعمالیږي (۲)

د سلطان قطب الدین مزار :

ډیلی د پښتنو په وخت کښی لیکی :

سلطان قطب الدین په (۱۲۱۰ ع، ۶۰۷ ه ق کال په لاهور کښی په داسی حال کښی چه په سانگه (پولو) لوبه بوخت ؤ مړ شو او په انارگلی کښی د اسپتال رود، نومی ځای تر څنگه په یوه تنگه کوڅه کښی ښخ دی،

کوم وخت په دغه ځای کښی یو یوه او د حس خاوند هندو ځان د پاره کور ودانا وه، څو چه ده ته معلومه شوه چه دا قبر د هندوستان د یو ننگیالی پاچا مزار دی نو بیا ځکه مزار سلامت پریښود او خپل د یوال یې ورڅخه کوږ کړی (۳)

---

(۱) طبقات ناصری ۴۹۰ مخ تاریخ فرشته ۶۳ مخ

(۲) طبقات اکبری ۲۱ مخ . (۳) ډیلی د پښتنو په وخت کښی ۱۰ مخ .

ناصرالدین قباچه

دسلطان شهاب الدین دسترو اشخاصو او نامتو سپه‌سالارانو له جملې څخه چه او له تاریخي شهرت لري ناصرالدین قباچه (۱) ؤ . نوموړی هم دسلطان شهاب الدین غوري له مریانو څخه ؤ .

وایي: ناصرالدین قباچه، ډېر ذکي او پوره هوښیار او په کار پوه سړی ؤ او په عسکریت کښې یې زیات مهارت او خورا ښه تربیه‌لرله ، او د سلطان غازي شهاب الدین تر او امرو ، او لارښوونې لاندې یې خورا مهم خدمتونه کړی دي ، له همدغه امله نوموړی دسلطنت او ملکدارۍ په چارو ښه پوهېدو، او په هر کار کښې سلطان پرده باندې اعتماد لاره .

دناصرالدین قباچه دنائب الحکومګۍ دوره :

په (۶۰۰) هجري کال چه سلطان شهاب الدین خوارزم ته لښکر کښې کړې وه او له خوارزمشاه سره له جګړو څخه وروسته بېرته اندخوی ته راغی او پهٔ دغه وخت کښې دخطائیانو لښکرې ، لکه چه وړاندې ولیکل شو ، دسلطان شهاب الدین د لښکرو مخې ته راغلې او په اندخوی کښې دخطائیانو او پښتنې لښکرو ترمنځ جګړه وشوه په دغو جګړو کښې د(ملتان او اوچه) والي ملك ناصرالدین (ایتم) (۲) هم ګډون کړی ؤ . او په دغو جګړو کښې نوموړی ایتم ، دسلطان غازي پرڅنګ په میدان کښې ولاړ ؤ . شدیده جګړه یې کوله په دې حال کښې کفارو پرایتم ، باندې حمله راوړه دی یې شهید کړ . کله چه دغه جګړه خلاصه شوه او سلطان بېرته غزني ته راستون شو . نو یې دمرحوم (ملك ناصر الدین ایتم) پرځای د ملتان او اچه

(۱) قباچه . .

(۲) په دې ځای کښې لیکلې دي چه دملتان او اوچه والي ملك ناصرالدین ایتم ، ؤ دطبقات ناصري په حواله وړاندې راغلي دي چه دملتان او اوچه والي سپه‌سالار علي کرماج ؤ . ځکه چه دعلي کرماچ په عوض په دغه وخت کښې ملك ناصرالدین مقرر شوی ؤ . او هغه وخت چه سلطان شهاب الدین پنجاب فتح کړ نو یې علي کرماچ له ملتان څخه تبدیل او د پنجاب نائب الحکومه یې مقرر کړ . دلاهور دفتح بیان وګورئ

نائب الحکومه ناصر الدین قباچه مقرر کړ له (۶۰۰ هـ) تاریخ څخه د هغه مملکت نائب الحکومه ؤ .

او د سیند سیمې هم ده په تصرف کښې وې (۱)

د ناصرالدین قباچه پاچاهي :

په تاریخ فرشته کښې داغلی دی :

سلطان شهاب الدین غوری چه وفات شو ، نو ناصر الدین قباچه ، د ملتان او سیند د مملکتو پاچا شو ، خطبه او سکه یې پر خپل نامه کړې .

او ترسرهند - اوکهرام - اوسرستی پورې سیمې هم د نوموړی قباچه په تصرف راغلې . خو چه د ډیلی پاچا سلطان شمس الدین التمش له خپلو لښکرو سره راغی د نیلاب (آباسین) پرغاړه د دوی ترمنځ جګړه و نښته ، ناصرالدین ماتې وکړه بیرته ملتان ته راغی (۲)

طبقات اکبری لیکي :

چه د ډیلی د پاچا سلطان قطب الدین له وفات څخه وروسته ، ترهند اوکهرام اوترسرستی پورې سیمې سلطان ناصرالدین قباچه ونیولې . (۳)

سلطان ناصرالدین قباچه ته د پښتونخوا او نور و خلکو پناه راوړه :

وایي : هغه وخت چه د مغول چنګیز حادثه پېښه شوه ، د خراسان اوغور اوغزنی زیات خلك ملتان ته راغلل او په دغه ځای کښې قباچه ډېك کړل او ځا یو نه یې ور کړل . (۴)

یعنې کله چه مغولی چنګیز له زیاتو اوزورورو لښکرو سره اول پر ماوراءالنهر بیا پر خراسان او پښتونخوا باندې هجوم راووړ ، او په هر ځای کښې د مغولو تجاوز قوی اومقابله یې چا ونشوای کولای ، او په هرځای اوهرښار کښې به یې عام

(۱) طبقات ناصری ۴۹۲ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوك ۳۱۴ مخ طبقات اکبری ۲۳ مخ .
(۲) تاریخ فرشته دوهم ټوك ۳۱۴ مخ (۳) طبقات اکبری ۲۲ مخ .
(۴) تاریخ فرشته ۳۱۵ مخ . طبقات اکبری ۲۲ مخ

قتل او وحشیانه ظلمونه کړل او حتی دا چه اوښځی به یې وژل ، ودانۍ یې تخریب او وسوځولې او د دغو وطنو ټول ښارونه یې تخریب او له خاورو سره برابر کړل .

نو په دغه وختو کښې د خراسان او غور او غزنی د سیمو خلک ، حتی د بخارا دخوا او څخه هم زیات خلك ملتان ته راغلل سلطان ناصرالدین قباچه ته یې پناه راوړه

نوموړی پښتانه پاچا هم له دغو خلکو سره احسانونه وکړل د کفارو له ظلم او تباه کارۍ څخه یې وساتل ځایونه یې ورکړل او له هغه وخت څخه د دغو خلکو ځوځات او اولادونه په دغو سیمو کښې پسی پاته شوی او د هغه ځای شوی دی .

پر ملتان باندې د مغولو یرغل او د ملتان محاصره :

په (٦۲۱) هجری کال د مغولو لښکري د «تولی نوین» (۱) په قوماندانی په جلال الدین خوارزمشاه پسې د پاسین غاړې ته راغلې جلال الدین ورځخه ترسیند پورې ووت .

د مغولو لښکري ملتان ته راغلې ملتان یې محاصره کړ ، څلویښت ورځی یې ملتان محاصره کړی ؤ . وایی په دغه وخت کښې ناصرالدین قباچه د خزانو دروازې پرانیستلې انعامونه یې خلکو ته ورکړل او له مغولو سره یې محاربه وکړه او په خورا شجاعت او میړانه یې مغولو ته ماتې ورکړه . (۲)

هو ! سلطان ناصرالدین قباچه ، په ماوراءالنهر) خراسان او پښتونخوا کښې د مغولو وحشیانه کارونه او مظالم او بی نظیره تباه کارۍ او ناحقه وینې تویول او عام قتلونه او د ښارونو تخریب اوریدلی وو . او په هم دغو وختو کښې د دغو تاراج او لوټ شوو سیمو پاته خلك د ځان ژغورنې او نجات په غرض د لته ملتان ته راغلی وو ، او د مغولو د وحشت او تباه کارۍ ټکلونه یې قباچه ته کړی وو .

نو بنا پر دې چه سلطان ناصرالدین قباچه ډیر زیات خطا او مرعوب شوی وای ځکه د مغولو دا ډول هجوم او زور ؤ . چه خوارزمشاه سره له ډیر زیات قدرت او زور ، ونشو کولای چه د مغولو د هجوم مخه ونیسی .

---

(۱) په جامع التواریخ کښې لیکلی دی چه د دغو لښکرو قائد یې پاره چنګیز خان و . جامع التواریخ ۲۰۹ مخ .

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤۹۳ مخ ، طبقات اکبری ۲۲ مخ ، تاریخ فرشته دوهم ټوك ۳۱٦ مخ .

دمغولو داسې زور ؤ، چه حتی تر ایران اوتر اروپا پورې قول اقوام ددغه سیل په مقابل کښې عاجز شول .

خو ناصر الدين قباچه ، چه د پښتنو امپراتور سلطان شهاب الدين غازي له خوا تربیه شوی ؤ او ددغه سلطان قوي ایمان او شجاعت یې لیدلی وو په اصطلاح (د نوموړي سلطان د خولې او به یې څښلې وې) نو دغه دا عالی صفتونه یې دځان دپاره خط مشی وګرزول . خپل همت یې له لاسه ورنکړ .

نو په دغه حال کښې چه دمغولو خطر راورسید ، قباچه لومړی دحکومتي خزانو دروازې خلاصې کړې او خلکو سره یې عام احسانونه وکړل او بخښنونه یې ورکړل .

بیا یې داسلامي جهاد داعلان وکړ، او دمړانې او جلادت خطابې یې ورکړې هرڅوك چه مړانه او همت څرګند کړی هروخت به د تاریخ په پاڼو کښې ثبت او یادګار پاته وی . دمغولو مقابلې اومدافعې ته چه عام خلك ووتل داسې جګړې یې له مغولو سره وکړې چه مغولان یې تېښتې ته مجبور کړل .

وایي : چه ددغو مغولو شمیر له څلویښتو زرو څخه زیات وو، په داسې حال کښې چه پرجلال الدین خوارزمشاه غالب شوي او په مکمله وسله سامبال وو .

او دقباچه دپری اوفتح علت داهم شو چه سربېره دملتان اودغو سیمو پرخلکو هغه پښتانه چه له مغولو څخه راتښتېدلي اوملتان ته راغلي وو، دقباچه تر بیرغ لاندې یې ددوی پر وطن متجاوز دښمن سره کلکه جګړه وکړه .

په دې ځای کښې باید وویل شي چه سلطان ناصرالدين قباچه سربېره پر دې چه ملتان یې مغولو دسلطه او تباه کارۍ څخه وژغورو ، ځان او دغه ځای خلکو ته یې د مغولو له تباه کارۍ څخه نجات ورکړ .

دانتیجه یې هم ورکړه چه نور هند یې هم د چنګیز او تباه کارو او خونړیزو مغولو له تباهۍ او تخریب او تاراج څخه خلاص کړ د مغولو مخه یې بېرته پرشا وګرزوله اود خپل بادارغازي سلطان شهاب الدین نقشه یې هم امانتداو محفوظه وساتله !!!

منهاج سراج جوزجاني پخپل کتاب طبقات ناصری کښې لیکي :

ملتان ته دمغولو دلښکرو له راتلو او بېرته ماتې څخه دې کاله وروسته ، د(٦٢٤) هجری کال د جمادی الاولی په شپږویشتمه دسه شنبې ورځ وه چه زه له غور څخه دغزنی له لیاری (اچه) ته راغلم .

په دغه ځای کښې په همدغه کال د «اچه» (مدرسه فیروزي)(۱) سلطان ناصرالدین قباچه ، ماته وسپارله . اوسربیره پردې دخپل زوی علاءالدین بهرامشاه د لښکرو عسکری قضاه بې هم ماته وسپارله .

او وايي : په همدغه (٦٢٤) کال سلطان شمس الدین التمش د ډیلی پاچا له زیاتو لښکرو سره پر سلطان ناصر الدین قباچه باندې حمله راوړه . «اچه» ته چه د التمش لښکرې راورسېدې ، قباچه په تېښته د «بهکر» خواته ولاړ ، داچه ښار دالتمش په لاس کښې ولوېد دالتمش لښکرې بهکرته په قباچه پسې و رغلې ، هغه ځای يې هم ورخخه ونيو .

په دغه اثر چه سلطان ناصر الدین قباچه ، خپل ځان مغلوب و لید په سیند کښې سپور شو او دطوفان په اثر په او بو کښې غرق شو . رحمة الله عليه په همدغه (٦٢٤ هـ) کال ددغه لايق پاچا پاچاهي پای ته ورسیده (۲) ناصرالدین قبا چه په (٦٠٠) هجری کښې د ملتان او اچه والي ؤ

او په (٦٠٢هـ) کښې پاچاشو ، دوه کاله نائب الحکومه او ۲۲ کاله ئې پاچاهي کړې ده .

---

(۱) مدرسه فیروزی چه په اچه کښې جوړه شوې وه دامدرسه البته په هغه وخت کښې تاسیس شوې وه چه سلطان شهاب الدین داښار فتح کړ (٥٧١ ، هـ ق) او د «فیروزی» له نامه څخه هم ځرگندیږي چه دمسلمانانو د بریالیتوب او فاتح کیدو په وخت کښې يې جوړه کړې ده .

(۲) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤٩٤ مخ .

محمد بختیار خلجی

د سلطان شهاب الدین غوری د سترو او فاتحو سپه سالارانو له جملې څخه یو محمد بختیار خلجی دی.

د طبقات ناصری مؤلف منهاج سراج جوزجانی چه اصلاً د افغانستان د غرجستان (میمنې) .ی او د غور په سیمو کښې لوی شوی او د سلطان غیاث الدین محمد سام غوری په عصر کښې بلکه د دوی په دربار کښې د دوی کورنۍ ته نیژدې یې ژوند کړی دی او د سلطان شهاب الدین غوری د دورې سړی دی. نو د هغه د عصر پېښې او د هغه عصر اشخاص ټول دوی ته معلوم او دوی پېژاندل.

د محمد بختیار خلجی پېژندنه:

نوموړی جوزجانی د سپه سالار محمد بختیار خلجی (۱) په باب کښې داسې لیکي

---

(۱) د خلجی کلمه چه اول توری یې (خ) ده د پښتنو د یو ټبر د پاره استعمال شوې او د هغه قوم نوم ؤ. چه د سلطان شهاب الدین غوری په لښکرو کښې هندوستان ته تللي ؤ او د هند ختیځې سیمې هم هغو پښتنو فتح کړې او بیل وخت یې په ډیلی کښې پر ټول هندوستان حکومت کړی دی او د خلجی نوم په هند کښې د د غو پښتنو د پاره استعمال شوی دی.

د پېښور په (جمهوریت) نومې مجله کښې د ا پښتانه چه په هند کښې یې حکومتونه کړي. او د (خلجیو) په نامه بلل کیدل د (غلجیو) په نوم ذکر اولیکلي دی او لیکي چه د اطایفه د پښتنو خورا لویه طایفه ده جمهوریت مجله. کښه. یعنې وایي چه هغه پښتانه چه په هند کښې د خلجیو په نامه یاد شوي دی هم دا غلجي پښتانه دي چه په افغانستان کښې یې د غلجیو په نامه د (غ) په حرف بولي

او په پښتنو کښې هم دا د غلجیو طایفه ډېره لویه طایفه ده. بل دا چه له غلجیو څخه پرته د خلجیو په نامه. هېڅ یو شوك نشته چه څوك ووایي چه خلجیان دا دي.

او ځینې مستشرقین لکه تو ما شك، وایي (غر) پخوانۍ اریائی کلمه ده. چه د غرج – خرج او غرش کلمې له د غو کلمې څخه ماخوذې دي چه وروسته خلج شوې او په ځینو ځایو کښې یې غلج وایې او د غلزي غرزي او غلجي په نامه مشهورې شوي دي.

(پاتې په ۳۰ مخ کښې)

محمد بختیار خلجي اصلاً دغور او ګرم سیر دخلجیو څخه و. او نوموړی دشجاعت او دلیري خاوند او پیاوړی او فرزانه او په کار پوه سړی و.

او وایي: هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غوري په غزني کښې پاچا و، محمد بختیار له خپل ځای څخه غزني ته راغی، په (دیوان عرض) کښې یې دخپلې مقرري او وظیفې اجرا کولو غوښتنه وکړه خو د دیوان عرض د آمر له خوا دده دا غوښتنه ونه منله شوه نو دی دغزني څخه هندوستان ولاړه. (۲).

دطبقات اکبري مؤلف چه اصلاً دافغانستان دهرات دسیمو دی او که څه هم پخپله دی په هند کښې زیږیدلی او په هند کښې لوی شوی دی، خو د (حب الوطن من الایمان) له مخې حتماً نوموړی له خپل اصل وطن سره مینه او دزړه علاقه لري، نو د خپلو پخوانو او اسلافو له خولې څخه به هرو مرو، ده دپیښو او اشخاصو حکایات اونقلونه صحیح اوریدلي وي، ځکه نوموړی مؤرخ په خپل کتاب کښې د هندوستان د پښتنو باچهانو او نامتو اشخاصو په باره کښې خورا ښه تحقیقات او ښې څیړنې لري نوموړی مولف، دمحمد بختیار خلجي په باب کښې داسې لیکي.

محمد بختیار خلجي (دغور او ګرم سیر دخلجیو له اکابرو او مشرانو څخه و)

(د ۱۲۹ مخ پاتې)

بارتولد وایي: میرویس (دخلجیانو مشر) په (۱۷۰۹ ع) کال کښې پر کندهار برشو او خبره یې دې حدته ورسوله چه دده زوی محمودشاه په ۱۷۲۲ کښې ایران ونیو او دایران ټولواک هم شو کابل مجله (۱۳۳۸-۳ ګڼه.

یعنې بیناغلی تو ماشك، واضح کړې ده چه دغرج - خلج او غلج کلمې سره یودی او مصداق ئې هم یو دی چه کله غرج کله خلج او کله غلج ویل شوی دی او ښاغلی بارتولد، هم دمیرویس طایفه غلجیان د (خلجیانو) په نامه یاد کړې دي ګواکې خلجي او غلجي یې سره یو بللي دي.

دتاریخ فرشته مؤلف هم دجلال الدین خوارزمشاه او ناصرالدین قباچه او شمس الدین التمش داحوالو دیادوني په ترځ کښې دوه، دري ځایه دغزني غلجي پښتانه د (خلجیانو) په نوم یاد او لیکلي دي د (غ) په عوض یې د (خ) توری لیکلی دی نو څرګندیږي چه هغه پښتانه چه په پښتو نخوا کښې دغلجیو په نوم یادیږي په هغه عصر کښې په هند کښې د (خلجیو) په نامه یادیدل - (ثابت).

(۲) طبقات ناصري دکابل چاپ ۴۹۷ مخ ۲۹۲ مخ.

اولیکی: محمد بختیار خلجی ډیر شجاع، تور یالی، سخی اوډیر هوښیار او د تدبیر اوصائب فکر خاوندؤ.

او وایی، چه محمد بختیار خلجی د سلطان شهاب الدین په وخت کښې غزنی ته راغی بیا له هغه ځایه هندوستان ته ولاړ. (۱)

دمحمد بختیار خلجی سپه سالاري:

د تاریخ هند مؤلف لیکی:

په ۱۱۹٤ میلادی کال غوری سلطان شهاب الدین له نویو قوا او سره هند ته راغی او د «قنوج» پر ولایت یې حمله وکړه، دقنوج باچا (جیچندرای) په جنګ کښې مړشو او مملکت یې د سلطان شهاب الدین په لاس کښې ولوید.

محمد بختیار خلجی چه د سلطان شهاب الدین نامتو او غښتلی سپه سالارؤ دقنوج حاکم یې مقرر کړ او دهغه ځای د انتظام او اداری دپاره یې (سا خلو یو اندازه عساکر) پریښودل او پخپله سلطان شهاب الدین بیرته افغانستان ته ستون شو (۲)

په تاریخ فرشته کښې لیکی:

په دغه کال چه سلطان شهاب الدین غوری دقنوج او بنارس ښارونه فتح کړل نوموړی سلطان زیاتی لښکري دهندوستان ختیځو سیمو ته واستولی او د بنګال تر اخری برخی پوری قول وطنونه دغو لښکرو فتح کړل. (۳)

او دهندی نو اریخومورخین چه دمسلمانانو له خوا دهند فتوحات یې لیکلی دی قول متفق دی چه دشرقی هند او بنګال فاتح محمد بختیار خلجیؤ او د اسلام د فاتحو لښکرو قوماندان چه شرقی هند یې فتح کړی دی همدا محمد بختیار خلجیؤ

نو عسکری قوماندان او د اسلامی لښکرو سپه سالار چه له قنوج څخه دهند ختیځو سیمو او بنګال ته سلطان شهاب الدین واستولی نوموړی محمد بختیار ؤ چه په دغه وخت کښې د نوموړی سلطان له خوا دهغو لښکرو سپه سالار مقرر او دهغو سیمو دفتح کولو امر ورته شوی ؤ

محمد بختیار اوده ته ورسید:

محمد بختیار خجلی له قنوج څخه د شرق خواته روان شو (اوده) ته ورسید په اوده

---

(۱) طبقات اکبری ۲۳ مخ (۲) تاریخ هند ۹٤ مخ.

(۳) تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ.

کښې «ملك حسام الدین اغلبك» والي ؤ په دغوسیمو کښې محمد بختیار خو ځله د جنګ محاذ ته ولاړ او په محاربو کښې بې ګټه ون وګړ .

محمد بختیار ښه سپور او د وسلې استعمال یې هم ښه زده ؤ او په حربي فنونو کښې خوراماهر وا و سر بیره پر دې د فوق العاده شجاعت خاوند او د برزه ورسره ؤ .

داود. نائب الحکومه حسام الدین ، اغلبك ته چه د محمد بختیار شجاعت او توره او پوه او تدبیر معلوم شول ، نو بې د (سلهتر ـ او سهولي) سیمې د ته وسپارلې او په طبقات اکبري کښې لیکلي دي :

چه د (کنپله ـ او پټیالي سیمې اغلبك ده ته وسپارلې . (۱)

محمد بختیار ته چه د هند شرقي محاذ او د هند د شرقي سیمو فتوحات سپارل شوي وو نو ده ته په کاروو ، چه په کوم ځای کښې د خپلو عسا کرو او خپلو لښکرو او د هغو د لوازمو د تهیه کولو د پاره توقف ګاه او مرکز و لري او له هغه ځایه څخه خپل فعالیت ته دوام ور کړي نو د اسیمې چه بختیار ته وسپارلې شوې له هند غو ځا یو څخه د . خپل فعالیتونه شروع کړل د شرق خوا ته متوجه او خپلو مهمو فتوحاتو ته یې دوام ور کړی دی.

وایې : محمد بختیار له دغه ځایه څخه د (منیر ـ او بهار) خوا او ته مخه کړه او پر دغو سیمو یې یرغلو نه شروع کړل ځو په دغه وخت کښې ډیر اسونه او وسلې محمد بختیار ته په لاس ور غلې او پوره قوت ور ته حاصل شو ، او په لږ موده کښې د لوی قدرت خاوند شو . (۲)

محمد بختیار ته نور خلك راغلل :

د محمد بختیار د پیاوړي توب او توریالیتوب او شجاعت او فتوحاتو اواز په هند کښې خپور شو ، او هری خوا ته دا انګازې ورسیدې چه محمد بختیار خلجي د هندوستان شرقي خوا ته مخه کړې ده او په ټو او جګړو کښې بریالی دی .

نو په هندوستان کښې د خراسان ، غور او غزني خلك مخصوصاً د ده قوم خلجیان چه د ده له بهادریه څخه خبر شول نو د غزا په نیت یې د ده خوا ته مخه راو نیوله ډیر زیات توریالي او جګړن محمد بختیار ته راغلل او د ده په لښکرو کښې شامل شول .

له دې لیاري محمد بختیار ته خورا زیاته قوه په لاس ورغله او قدرت یې نور هم زیات شو .

---

(۱) تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۲ مخ طبقات اکبري ۲۳ مخ .

(۲) تاریخ فرشته دوهم ۲۹۲ مخ .

دډیلی والي سپه سالار قطب الدین ایبک محمد بختیار ته انعام او تحسین نامه واستوله :

کله چه دسپه سالار محمد بختیار دبریا لیتوب خبر دډیلی والي قطب الدین ایبک ته ورسید نوقطب الدین ، محمد بختیار ته ددهٔ د دلاورۍ او عالي همت له امله انعام او تحسین نامه واستوله

محمد بختیار ته د نورو مجاهدینو را تللو او ددهٔ په لښکر کښې دهغو ګډون او دډیلی دوالي قطب الدین انعامونو او تحسین نامې ، دمحمد بختیار د زړهٔ قوت نور هم زیات کړ او دغزا او فتوحاتو هوس ددهٔ په دماغ کښې ښهٔ ځای ونیو ، نو یې د بهار خواته نوره هم توجه زیاته او خپل یرغلونه یې قوي کړل او تقریباً تر دوو کالو پورې محمد بختیار یرغلونو د بهار پر ولایت باندې دوام وکړ . (۱)

د بهار فتح :

کله چه د بهار (۱) پر ښار باندې دسپه سالار محمد بختیار یرغلونه ډیر او ددهٔ شول خو ددهٔ په عزم او اراده کښې سستي رانغله ، هر وخت به یې خپلی لښکرې چمتو ساتلې او به جګړو بوخت ؤ چه څو یې بیا کښې د بهار ښار محاصره او فتح کړ (۵۹۹ هـ ق)

د طبقات ناصري مؤلف منهاج سراج جوزجاني وایي ،

په (٦٤۱) هجري قمري کال زهٔ په هند کښې د ګرز یدو (سیاحت) په ضمن کښې (لکهنوتی) ته ورغلم ، هلته مې له «صمصام الدین» فرغانوی سره ملاقات راغی ، نوموړی یو عالم او پوه سړی ؤ . زه یې خپل ځای ته بوتلم . له هوسایني او آرامۍ څخه وروسته ده ماته دسپه سالار محمد بختیار غازي د جهاد او ماجراګانو نقل او قصه وکړه په دې ډول :

دوه ویل مونږ دوه وروڼه وو ، یو نظام الدین او بل صمصام الدین نومید اصلاً موږ د ماوراءالنهر د فرغانې یو موږ دواړه د سلطان شهاب الدین غازي په مجاهدینو کښې د اسلام له لښکر و سره هندوستان ته راغلو .

د لته دواړه وروڼه د محمد بختیار په خدمت کښې ودریدو ، او د هغو مجاهدینو په

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۲۹۷ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۲ مخ .

(۱) بهار په هندی بنګالي ژبه مدرسې ته وایي ـ دهغه ښار اساس په اول کښې مدرسه ؤ . او هغه ځای دعلم معدن ؤ نو یې بهار نوم پرایښی دی طبقات ناصري ٤۹۷ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۲ مخ .

جمله کښې موږ دواړه ورو نه په جنګ کښې ښه لایق او پوره سرباز ان وو، کوم وخت چه د اسلام لښکر و د بهار حصار کلابند کړ، محمد بختیار غازي چه دېر زړه ور او د فوق العاده شجاعت خاوند ؤ . بخپله يې د دغه حصار پر دروازه حمله وروړه او دغه ځای د شديدې جګړې او ډېرې ټکان وغورځاو . له زياتو خونړيو او شديدو جګړو وروسته مسلمانانو بريالي شول دغه حصار فتح شو (۵۹۹هـ) .

له دغه ښار څخه سپه سالار محمد بختيار خلجي زيات غنيمتونه او زيات حربي لوازم په لاس راوړل او خپلي لښکري يې نوري هم تقويه او د نورو فتوحاتو دپاره يې مستعدې کړې لې . (۱)»

دمحمد بختيار ډيلي ته ولاړ :

له زياتو جګړو او زياتو جانبازيو څخه وروسته چه محمد بختيار دا مهمه فتح وکړه چه د بهار ولايت او ښار يې فتح کړل ، نو بيو بلا (د سلطان شهاب الدين غازي د هند لوئنانب السلطنه) قطب الدين ايبك سره د ليدلو په غرض ډيلي ته وخوځيد دا هغه کال او هغه تاريخ و (۵۹۹هـ) چه سپه سالار قطب الدين ايبك د «ګجرات ، او کالنجر او کالپي او بداون) له فتوحاتو څخه فارغ شوی ، او ډيلي ته د رسيدو په حال کښې ؤ .

محمد بختيار خلجي او قطب الدين ايبك چه سره ملاقات وکړ، محمد بختيار دخپلو فتوحاتو مفصل بيان ورته وکړ «۲» له دغه تاريخ څخه څرګنديږي چه بهار په (۵۹۹) هجري قمري کښې د پښتنو په لاس فتح شوی دی ـ له دغه تاريخ څخه وروسته چه سپه سالار محمد بختيار بيرته بهار ته ولاړ، او بيې نور شرقي هندوستان او بنګال فتح کړل .

سپه سالار محمد بختيار چه ملتان ورسيد د قطب الدين ايبك له خوايې خورا ښه هرکلی وشو ، او زيات اکرام او اعزاز يې د بختيار و کړ (۳) .

دمحمد بختيار خلجي پهلواني او دلاوري

وايي چه په ډيلي کښې د محمد بختيار د دلاورۍ او شجاعت او پهلوانۍ خبرې کيدې او د قطب الدين له خوا د هغه اعزاز او فوق العاده نمانځنې پر نورو امراوو، بانډې

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۹۷ مخ تاريخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۲ مخ طبقات اکبري ۲۳ مخ .

(۲) تاريخ فرشته اول ټوك (۶۲) مخ ـ

(۳) طبقات اکبري ۲۳ مخ طبقات ناصري ۴۹۸ مخ تاريخ فرشته ۲ ج ۲۹۳ مخ .

تاثیر وکړ ، چه پر هغو باندې دمحمد بختار تفوق څرګند یدو، او دهغوی په زړونو کښې له ده سره رخه پیدا شوه .

په دې وخت کښې د قطب الدین په دربار کښې د یو مست پیل یادونه وشوه چه هیڅ پیل دهغه دمقابلې تاب او طاقت نلری .

محمد بختیار وویل : دا پیل زه مه توم، نو یې خپل ګرز را واخیست هغه پیل ته ورغی مست پیل هم ور باندې راغی، خو محمد بختیار چه یو ګرز دهغه پر خرطم ورکړ، خرطم یې ورته په یوه ګذار دوه شقه کړ ، پیل په بغارو وتښتید .

دمحمد بختیار ، دقوت او زړور توب دا منظره چه ولیده شوه قطب الدین او ټول خلك ورته حیران پاته شو ل ، او دده پر شجاعت او دلاوری یې آفرینونه وویل او قطب الدین ته یې زیات انعامونه ورکړل . (۱)

دمحمد بختیار دا پهلوانی او دلاوری او د پیل ماتول هم په هغه ډول وو لکه چه د بهرامشاه غزنوی او دسلطان علاء الدین حسین غوری ترمنځ جګړه وکښې چه د نوموړی سلطان حسین غوری «خرمیل» نومی پهلوان ، بهرامشاه جنګی پیل وواژه او ځلیم یې مات کړ . (۲)»

محمد بختیار بیرته له ډیلی څخه راوګرزید بهار ته راغی .

وایی چه دبهار په سیمو او د «لکهنوتی» او بنګك او کامرود په وطنو کښې دمحمد بختیار ، نوم خپور شو ، اودده دتوری او شجاعت انګازې په دغو سیمو کښې شایع شوی او ددغو سیمو داوسیدونکو په زړونو کښې د نوموړی بختیار د شجاعت او توریالیتوب زیات رعب او ویره پیدا کړه .

دنودیه دښار فتح :

په دابل کال (۶۰۰) هجری کښې محمد بختیار خپلې لښکرې تهیه کړې او پر لکهنوتی باندی د یرغل په عزم د(نودیه - یانودیار) دښار(۳) خواته وخوځید .

وایی : کله چه ښار ته نیژدې شول ، نو محمد بختیار له څو محدودو سپرو سره له خپلو لښکرو څخه جلاشو ، او په عادی ډول ښار ته ورغلل ، خلکو ګمان کاوه چه

«۱» طبقات اکبری ۲۳مخ طبقات ناصری دکابل چاپ ۴۹۸ مخ، تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۳مخ «۲» ۲۵مخ دې وکتل شی .

(۳) دنودیه - یانودیارښار . .

دا به دا سونو سودا گران وی ، او په چټکۍ سره نوري لښکري هم پسی ورغلې پر ښار یې حمله وکړه ، ښار یې ونیو . او د هغه ځای راجا (رای لکهمینه) وتښتید ، او په آسانی سره دا ښار د مسلمانانو په لاس کښې ولوید . له دغې فتح څخه ډیره هستی او خزانې او ډیر پیلان د محمد بختیار په لاس ورغلل ، چه له دغې لیارې د ده اقتصادی وضعیت ډیر ښه او عسکری قدرت یې ډیر زیات شو (۱)

لکهنوتی :

د لکهنوتی ولایت چه د هندوستان په ختیځو سیمو کښې پروت دی ځینی مورخین یې په دې ډول وایی :

لکهنوتی د (کور) او «بنګاله» له سیمو څخه د لوی سیند ترغاړې پوری سیمو څخه عبارت دی .

او ځینی وایی : چه له کور څخه د بهار ترسرحد پوری لکهنوتی دی ، او له کور څخه تر بنارس او د لوی سیند ترغاړې پوری بنګاله ده او هغې ته بنګ هم وایی .

او وایی : چه محمد بختیار د لکهنوتی او بنګاله د نیولو د پاره ډیر کوششونه وکړل (۱)

د محمد بختیار خلجی پادشاهی او د ده د پادشاهی مرکز:

په تاریخ اکبری کښې لیکی .

هغه وخت چه د سپهسالار محمد بختیار خلجی د توری او فوق العاده شجاعت او د ده فتوحاتو خبر ډیلی ته ورسید ، نو قطب الدین ایبك محمد بختیار ته تحسین نامه او د (پاچاهی تشریف او د سلطنت لوا) وا ستول . او له هغه وروسته محمد بختیار پر لکهنوتی حمله وکړه او د هغه ولایت ښار یې چه (نو دیار - یا نو دیه) نومیدو نیو .

او په لکهنوتی کښې یې نوی ښار ودان کړ او دا نوی ښار د «کور» په نامه مشهور دی ، او دا نوی ښار یې د خپل ځان د پاره پایتخت وټاکه او دا ښار اوس خراب شوی دی . او په لکهنوتی کښی محمد بختیار خلجی پاچا شو او خطبه یې پر خپل نامه وویله او سکه یې هم پر خپل نامه وا یسته . او په دغو سیمو کښې یې مساجد او خانقاگانې او مدرسې تاسیس او ودانې کړې ، (۱)

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ٤۹۹ مخ ، تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۳ مخ .

(۲) تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۳ مخ

(۳) طبقات اکبری ۲۳ مخ

په تاریخ فرشته کښې لیکي :

محمد بختیار چه د لکهنوتي دولایت پایتخت د (نودیه) ښار ونیو او د لکهنوتي دولایت نوري سیمې او د بنګاله اکثره برخه یې ونیوله، نو د هغه ولایت د پخواني پایتخت د (نودیه) د ښار په عوض یې د بنګاله په سرحد کښې د (رنګپور) (۱) په نامه بل ښار بناء او ودان کړ او دا نوی ښار یې د خپل دارالملك وټاکه او په دغه ښار او نورو ولایاتو کښې نوموړي محمد بختیار مساجد او خانقاګاني او مدرسې جوړې کړې او خطبه او سکه یې پر خپل نامه جاري کړل . (۱)

پر لکهنوتي باندې د محمد بختیار حمله او د نودیه د ښار نیول په (۶۰۰) هجري قمري کال کښې عملي شوي دي ، نو له همدغه تاریخ څخه د محمد بختیار خلجي د پاچاهۍ تاریخ تعین کیږي .

د تبت خواته د محمد بختیار خلجي لښکر کشي :

کله چه پښتانه امپراتور سلطان شهاب الدین غازي داسې ستر او مهم فتوحات وکړل او د هندوستان پراخ او ډیر لوی او زیات نفوس لرونکی هیواد یې فتح کړ او د پښتني لښکرو د متې په زور دا مهم کارونه انجام شول .

او محمد بختیار خلجي چه له هغو بهادرو پښتنو سپه سالارانو څخه ؤ، چه په هر میدان کښې به بریالی او فاتح ؤ، او د هندوستان ټولې ختیځې سیمې د هندوستان تر اخرني کرښې پورې یې واحې د فتح کړلې او پښتني اسلامي حکومت یې په هغو وطنو کښې تاسیس کړ او داډول اسلامي اساسونه یې هلته وضع کړل چه تر ننه ورځې پورې باقي پاته دي .

او سربیره پر هغه محمد بختیار خلجي ډیر زړور، توریالی، پهلوان او د بې نظیره او فوق العاده همت او شجاعت خاوند ؤ .

نو د دغو عواملو له مخې د نوموړي محمد بختیار په دماغ کښې زیات غرور او ډېر لوړ خیالات پیدا شوي وو .

(سړي وېلای شي چه په دغه وخت کښې محمد بختیار د شجاعت له درجې څخه اوښتی ؤ، د تهور مقام ته رسیدلی ؤ ،)

په داسې حال کښې چه محمد بختیار د بهار، لکهنوتي او بنګال او نورو خپلو متصرفاتو اداره سمه کړه، په هره برخه کښې یې حاکمان مقرر کړل لکه چه محمد شیران

---

(۱) د رنګپور ښار هم د پښتنو د حکومت له یادګارو څخه دی

(۲) تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹۳ مخ ـ طبقات ناصري د کابل چاپ ۵۰۰ مخ .

خلجي يې چه دده يو پياوړی سپه سالار ؤ، د جاجنګر او لکهنوتی د ولاياتو نائب الحکومه مقرر کړ ـ

او علي مردان خلجي يې چه هغه هم دده يو لايق عسکري افسر ؤ د «ديو کوټ» او بار سلو، والي مقرر کړ ۰

د خپل پايتخت او نورو ولاياتو له انتظام برابرولو څخه چه خلاص شو. نو يې (د طبقات ناصري په قول لس زره او د تاريخ فرشته په قول دوه لس زره انتخابي پياوړي سپاره) تيار کړل د تبت خواته وخوځيد . (۱)

د محمد بختيار لياره ښوونکی:

تاريخ فرشته ليکي:

د هماليې د غره په جنوبي خوا کښې په دغو سيمو کښې چه کوم خلک استوګنه لرله د دې لاندينۍ طايفې وې: (يوه يې منج بله يې کونج او دريمه يې تهارو نوميدله) د منج د طايفې مشر چا ـ هندوستان سرحد ته نيژدې وو، محمد بختيار ته راغی او د اسلام دين يې قبول کړ . او د دغه سړي نوی اسلامي نوم يې (علي منج) کيښوداو په همدغه نامه مشهور شو. محمد بختيار چه د تبت خواته لښکري رواني کړې همدغه علي منج نومی شخص په هغو غرو کښې د دوی لياره ښوونکی ؤ . (۲)

د محمد بختيار لښکري د دغه سړي پلياره ښودنه د هندوستان او تبت تر منځ غرو کښې ننوتلې او په دغو غرو او درو کښې يو لوی سيند ته ورسيدل ۰

په طبقات ناصري کښې د دغه سيند نوم (بنګمتي) ليکلی دی او تاريخ فرشته د دغه سيند نوم (تيمګري) ليکلی دی او طبقات اکبري د هغه نوم (بتکمندی) وايي.

او . غه سيند لوی والی او سورا وژوروالی د هندوستان د مشور سيند (ګنګ) څخه درې چنده زيات وو، او د لمر خاته خواته بهيږي . (۳)

محمد بختيار د نوموړي علي منج پ رهنمايي د دغه سيند پر غاړه غاړه پورته روان وو لس ورځې يې په دغو غرو کښې مزل وکړ څو يو ځای ته ورسيدل چه پر دغه سيند باندې له تراشلو ډبرو څخه يو پوخ او محکم پول جوړ شوی ؤ ۰

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۰ ۵ مخ تاريخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۴ مخ

(۲) تاريخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۴ مخ

(۳) طبقات ناصري ۲ ۰ ۵ مخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۴ مخ طبقات اکبري ۲۴ مخ

او داسې مشهوره وه چه دا پول به پخوا زمانو کښې «گرشاسپ» نومی پادشاه جوړ کړی دی .

محمد بختیار د دغه پول د محافظت دپاره دوه نفره عسکری افسران چه یو ترک او بل یی خلجی وو ، له یوې اندازې عساکرو سره پریښودل چه څو دوی بیرته د تبت له سفره راگرځي او ځنوی دا پول ساتي او محمد بختیار له خپلو لښکرو سره له دغه پول څخه تیر شول

محمد بختیار ته د کامرود، د پاچا پیغام :

داسیمی د کامرود وې او د دغو سیمو رای «پاچا» (۱) چه د محمد بختیار نوم اروېدلی ؤ او دده له شجاعت او او فتوحاتو څخه خبر وه او دده له دغه عزم څخه خبر شو ، نو یی محمد بختیار ته استازی ور او استاوه او دا ډول پیغام یی ورته راواستاوه :

داعزم چه تاکړی دی او غواړې چه د تبت مملکت فتح کړې ، دا کار ستا په موجوده عساکرو نه انجامیږی او دغه ځای د سرحد کلاگانی ډیری محکمی دی .

ښه دا ده چه اوس بیرته وگرځی او پوره قوه برابره کړې او زه چه د کامرود پاچا یم زه هم قبلوم چه بل کال به زه هم خپلی لښکری تیاری کړم او ستا له لښکرو سره به یو ځای او ملگری شم ، او په دغه ډول سره به هغه وطنونه په لاس راولوه خو محمد بختیار د کامرود ، د دای پیغام ونه مانه ، د تبت خواته پسی روان شو . (۲)

منهاج سراج جوزجانی لیکی :

په (٦٤١) هجری کال زه بنگال ته ولاړم ، په لکهنوتی کښې د محمد بختیار خلجی د هر کاب (مقبل معتمد الدوله) ځای ته ورغلم یو شپه د هغه کره میلمه شوم ، نوموړی مقبل داسی نقل راته وکړ :

(محمد بختیارغازی چه د دغه لوی سیند څخه تیر شو زه ورسره وم پنځلس ورځې مو د جگو جگو غرو په منځ کښې مزل ونه وکړل ، په لوړو او ژورو به خاتو لو یدو شپاړسمه ورځ یوې هواری سیمی ته ورسیدو او دا محکه خورا ودانه او معمور ه وه ، ښه آباد کلی او کلاگانی یی درلې ، لومړی چه یوې کلاته ورسیدو ، په هغه ځای کښې زموږ

---

(۱) طبقات اکبری د کامرود د پاچا نوم (بتمکدې) لیکلی دی طبقات اکبری ۲۴ مخ د کامرود سیمی به د دا او سنی نیپال سیمی وی چه د تبت او شرقی هند ترمنځ دی .

(۲) طبقات ناصری ۵۰۲ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوك ۲۹٤ مخ طبقات اکبری ۲٤ مخ

او دغه ځای د خلکو ترمنځ جګړه ونښته او دغې کلا او خوا او شا خلک په ډیره چټکۍ سره مقابلې او جګړې ته راووتل او د جنګ شروع شو، له ګهیځ څخه ترماښکره پورې جګړه جاري وه. او زموږ له لښکرو څخه ډیر نفر مړه او ټپیان شول او نور ډیر ستومانه او ذیله شول. او د دغه ځای خلک ټول په جګړن او توریالي وو، او د جنګ د پاره بې خورابې وسلې درلودلې.

چه شپه شوه زموږ لښکرې خپلو ځایو ته راغلې. او کوم اشخاص چه زموږ لاس ته بندیان راغلي وو، محمد بختیار خپل حضور ته وروغوښتل پوښتنې یې ور څخه وکړې هغو کسانو داسې بیان وکړ:

(له دې ځای څخه پنځه فرسنګه لیرې زموږ ښار دی چه هغه ته «کرمپتن» (۱) وایی او په دغه ښار کښې هر وخت پنځویس زره جګړن موجود دي. او په دغه مملکت کښې په زرهاوو، بلکه په لکونو جګې ماران او توریالي اوسیږي، کوم وخت چه ستاسې لښکرې دلته راورسېدې په فریاد او په ډیره چټکۍ هغه ښار ته سړی ولاړ چه هغوی خبر کړي او ګهیځ به هغوی سپاره دلته ځانونه راورسوي)

محمد بختیار چه د دغه ځای د خلکو او له جګړه ولیده او نوره پوښتنه یې وکړه او په دومبي ورځ دده له لښکرو څخه ډیر نفر شهیدان او زخمیان شول او نور عساکر هم ډیر ذیله او خسته شوي وو.

نو یې له خپلو افسرانو سره مشوره وکړه او داسې پریکړه یې وکړه: (موږ باید اوس بیرته وګرزو او هلته پوره او مکمله او له هر حیثه کافي قوه برابره کړو بیا نو دې هیواد ته راشو.)

نو محمد بختیار بیرته راکوچ شو. له تبت څخه د کامرو د تر هیواد پورې پنځه ډیرش غاښي (کوتلونه) او ډیری ژوری او دري وې، په لیاره او دغو لوړو ژورو کښې چه زموږ لښکرې راتللي د دغو ټولو لیارو واښه، پروړه او نور شیان چه زموږ او زموږ د حیوانانو د پاره په کاریدل، ټول تلف او سوځول شوي وو، او د دغو لیارو او درو اوسېدونکي هم ټول لیږدیدلي او له لیاري څخه وتلي وو

او په دغو پنځلسو ورځو کښې د اسونو او غاټرو د پاره، یو من خوراکه پیدا نه شوه او د خپل خوراك د پاره به مو اسونه حلالول خوړل به مو، چه څو په ډېر زیات مشقت د کامرود سیمې ته راورسېد و او هغه پول ته راغلو.)

---

(۱) کرمپتن ..

ناوړه پېښه :

په دې وخت کښې چه هغه لوی سیند ته راورسېدو ، د هغه پول د دې موري ته نړولي شوي او خرابې شوي وې او هغه دوه نفره افسران چه د هغه پول د ساتنې د پاره محمد بختیار پرې ایښې وو ، پخپل منځ کښې سره وران او خپه شوي وو ، پول یې پرې ایښې ؤ د وی تللي وو .

(او د خورا لوېي گناه او ستر خیانت مرتکب شوي وو) دا دوه نفره افسران او عسکران چه تللي دي د هغه ځای (کامرود) خلك راغلي دي دا پول یې خراب او نړولی دي .

محمد بختیار چه دغه ځای ته راغی گوري چه پول خراب شوی دی او کومه بېړۍ وله او بو څخه د پورې تلو وسیله هم نشته . نو هك پك پاته شو .

محمد بختیار ویل یو ځای به میشت شو او د کومې کښتۍ او یا جالې تدبیر به وکړو . په دغه حد کښې نژدې یو معبد ؤ . چه یو لوی په کلا یې لرله ، د محمد بختیار لښکري دغې کلا ته ورغلي په هغې کلا ننوتلې . په دې وخت کښې د کامرود ، رای خبر شوی دی چه د اسلام لښکرې ډېرې عاجزه او ستومانه او زېله شوې دي ، نو یې د هغه ځای ټولو بت پرستانو ته امر کړی دی چه د اسلام لښکري عاجزې شوي دي ورشئ مقابله او مقاتله ورسره وکړئ
نو د هغه ځای خلك ډله ډله راتلل په دغه معبد باندې را وگرځېدل او دا کلا یې محاصره کړه .

خو د محمد بختیار لښکري په یوه وار را ووتل سخته حمله یې پر هغو باندې وکړه د کفارو محاصره یې ماته کړه ، او ټول له هغه ځایه بېرته را ووتل د سیند غاړې ته راغلل د سیند پر غاړه یې واړول . ـ دا چه له او بو څخه د پورې تلو د وسائلو په باب کښې وو ، چه نا څاپه یو عسکر پر آس سپور شو په او بو کښې یې آس کښه کړ او دغیشي دالمناو په اندازه د سیند منځ ته ورسېد . یوه پلا په لښکرو کښې ناري شوې چه او به لږې دي آس نه ډوبوي . نو ټول عساکر پر آسانو سپاره شول اسان یې په سیند کښه کړل . په دې حال کښې د کامرو د کافران د سیند غاړې ته راغلل دا او بو غاړه یې ونیوله .

زموږ عساکر چه دا او بو منځ ته ورسېدل دا لته گوډ ډاهی (غرقاب) ؤ ، ټول ډوب او غرق شول .

بخپله محمد بختیار او نور لږ نفر په ډیر زحمت ووتل نور ټول هلاک کې
او دغه سیند شومه شول .

محمد بختیار له خپلو پاتې ملګرو سره د(دیوکوټ) ښار ته راغی په دغه ځای
کښې له زیات غم او خپګان څخه سخت مریض شو .

او په دغه ځای کښې چه د نورو مسلمانانو کورونه وو ، او د هغو عسکرو چه
په دغه لیار کې تلف شوي وو ، ښځې او اولادونه دالته وو ، محمد بختیار ته
به یې ښرا او ښکنځلې کولې او د هغو د ښرا او ، او ښکنځلو له امله محمد بختیار
د باندې نه شو راوتلای دننه به په بستر کښې پروت ؤ .

او په دغو وختو کښې به محمد بختیار مکرر ویل :
(لکه چه سلطان غازي معزالدین محمد سام ته کومه پېښه رسیدلې ده چه زما بخت وګرزید)

په طبقات اکبري کښې لیکلي دي :
او همدغه زمانه وه چه سلطان معزالدین غازي په شهادت رسیدلی ؤ او محمد بختیار
سي ناجوړه او په بستر کښې ولوید او وفات شو رحمة الله علیه)(۱)

تاریخ فرشته لیکي :
محمد بختیار خلجي چه وفات شو د ده جنازه یې له دیوکوټ څخه بهار ته نقل
کې ، او هلته یې مزار جوړ شو .(۲)

ځول مورخین وایي چه محمد بختیار له څو محدودو نفرو سره د (بتکمندی)
له سیند څخه نجات ومونده ، نو دیوکوټ ته ولاړه ، هلته له زیات غم او غصې
څخه مریض شو .

او ده به ویل : (لکه چه سلطان غازي معزالدین ته کومه پېښه رسیدلې ده چه
زما طالع وګرزیدې)

او معزالدین غازي ریښتیا هم په دغو ورځو کښې شهید شوی ؤ(۶۰۲ هـ)او محمد
بختیار هم په دغو ورځو کې د هغې مریضۍ په اثر په بستر کې وفات شو (۶۰۲ هـ)(۳)
که څه هم د اپښتون پهلوان او د سلطان شهاب الدین غازي پیاوړی او نامتو
سپه سالار محمد بختیار په وروستیو وختونو کښې ناکام او نیمه خواشو ، خو د د

---

(۱) طبقات ناصري دکابل چاپ ٤ـ٥ـ٥ـ٥ـ ٥٠٦ مخونه
(۲) تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۵ مخ .
۳ طبقات اکبري ۲٤ مخ .

نوري کارنامې د پښتنانه ځبر د پاره خورا لوی افتخار ګڼل کېږي او د پښتنو په تاریخ کښې یو غوره او د ویاړنې وړ باب دی .

د محمد بختیار ځینې خلقتي او نور خواص :

وایي : د محمد بختیار خلجي لاسونه ډیر اوږده وو ، چه خپل لاسونه به یې کښته و غزول له ځنګنو څخه به یې کښته تیریدل .

او نوموړی ډیر سخي او جواد سړی ؤ . او هم د فوق العاده شجاعت او دلاورۍ خاوند او ډیر توریالی ؤ .

محمد بختیار په دغو وختو کښې خپله نیکه خوبي او حسن اعتقاد ټولو خلکو ته ښکاره او عملي کړل . (۱)

تاریخ فرشته لیکي .

محمد بختیار خلجي لومړی اسلامي پادشاه ؤ ، چه په ختیځ هندوستان کښې یې اسلامي شعائر جاري کړل . (۲)

---

(۱) طبقات ناصری د هند چاپ ۱٤٦ مخ تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۳ مخ .

(۲) تاریخ فرشته دوهم ټوک ۲۹۲ مخ .

نور هغه خلجي پښتانه چه ن سلطان

شهاب الدين غوري عسكري افسران وو ، او وروسته بيا سلطنت ته رسيد لي دي :

اود محمد شيران خلجي ـ دوهم عليمردان خلجي ـ دريم حسام الدين عوض خلجي دي .

محمد شيران خلجي :

محمد شيران خلجي دسلطان شهاب الدين په هغو لښكرو كښي چه دختيځ هندوستان دفتح كولو دپاره يې استولي وې د محمد بختيار خلجي ملگري او دده له سترو امراؤو څخه و .

محمد شيران ډير دلاور اود لوړ همت او شجاعت خاوند او څه پهلوان سړی و ،

وايي هغه وخت چه محمد بختيار د (نوديه) ښار فتح كړ اودهغه ځای خلك تيت وپرك شول ، محمد شيران په يو ځنگله كښې په يو ځای سر (۱۸) جنگي پيلان له پيلوانانو سره نيولي او راپي وستل .

دمحمد شيران دحكومت دوره :

لكه چه وړاندې وليكل شول ، هغه وخت چه محمد بختيار دتبت پرخوا لښكر كښي وكړه ، محمد شيران يې د جاجنگر ـ او لكهنوتي دولاياتو حاكم مقرر كړ كله چه محمد بختيار له تبت څخه راوگرزيد او په ديوكوټ كښې وفات شو ، محمد شيران ديوكوټ ته ورغی هلته يې دمحمد بختيار مرحوم فاتحه واخيسته . بيا له هغه ځايه (بارسول) ته ولاړ په هغه ځای كښې يې عليمردان بندي كړ ، دی بيرته د يوكوټ ته راغی.

دمحمد شيران خلجي پاچاهي :

محمد شيران دمحمد بختيار له مړينې څخه وروسته دخلجيو مشرانو او نورو امراؤ په ديوكوټ كښې دمحمد بختيار پرځای دپاچاهي پرتخت كښيناوه (۶۰۲هـ)

په دغو ورځو كښې عليمردان خلجي چه محمد شيران بندي كړی و ، له بنده څخه خلاص شو ، قطب الدين ايبك ته پيلي ته ورغی ، او له قطب الدين ايبك څخه يې وغوښتل

چه(قیماررومی) چه د قطب الدین له امراؤو څخه ؤ ، لکهنوتی واستوی ، او په هغو ولایاتو کښې د خلجیو امراؤ هر یو پر خپل مناسب ځای او مناسبه رتبه مقرر کړی ی قطب الدین هم نوموړی قیماررومی لکهنوتی ته واستاوه ، قیماررومی چه لکهنوتی ته ورغی ، حسام الدین عوض خلجی دده ښه استقبال وکړ ، قیماررومی چه دیوکوټ ته ورغی په دیوکوټ کښې یې د محمد شیران په عوض ، نوموړی حسام الدین عوض مقرر کړ .

او محمد شیران بیرته جاجنګر ته ولاړ کله چه قیماررومی بیرته ډیلی ته ولاړ نو محمد شیران د نورو خلجیو امراؤ ، په اتفاق د یو کوټ ته راغی بیرته یې دیوکوټ تصرف کړ .

قیماررومی ته چه د محمد شیران د دغه اقدام خبر ورغی ، نو له خپلو لښکرو سره بیرته راوګرزیده په دیوکوټ کښې ددوی ترمنځ جګړه پیښه شوه په دې وخت کښې محینی خلجیان د حسام الدین عوض په طرف وو ، او د خلجیو اتحاد او اتفاق له منځه ولاړ ؛ نو محمد شیران دده له نورو طرف دارانو سره «طوس» ته ولاړ او په دغه طوس نومی ځای کښې وفات شو او په دغه ځای کښې د محمد شیران مزار جوړ شو .(۱)

(۱) طبقات ناصری دهند چاپ ۱۵۷ مخ طبقات اکبری ۲۵ مخ .

علیمردان خلجی :

علیمردان خلجی هم دسلطان شهاب الدین په هغو لښکرو کښې چه ختیځ هندوستان ته یې استولی وې ، یوافسرؤ ، اودی خورا دلاور او توریالی اوعالی همت شخص ؤ اود محمد بختیار په لښکرو کښې په شجاعت معروف ؤ .

دعلیمردان خلجی د نائب الحکومګۍ دوره :

هغه وخت چه محمد بختیار د تبت خواته روانیدو ، علیمردان خلجی یې د دیوکوټ او بارسلو نائب الحکومه مقرر کړ .

اوچه محمد بختیار وفات شو ، او محمد شیران دهغه پر ځای کښینو ست نو محمد شیران علیمردان بندی کړ .

علیمردان له بندی خانې ځان خلاص کړه یلی ته ولاړ ، له قطب الدین ایبك سره ملګری شو . قطب الدین ایبك چه په غزنی حمله وکړه اوغزنی یې ونیو په دغو شخړو کښې علیمردان هم ورسره ؤ ، او په هغو شخړو کښې یې دقطب الدین په طرفداری خپل شجاعت څرګند کړ .

قطب الدین چه له غزنی څخه بیرته هندوستان راغی علیمردان هم ورسره راغی قطب الدین چه د غزنی په سفر کښې دعلیمردان مړانه او شجاعت لید لی ؤ نو یې علیمردان ښه ونازاوه د لکهنوتی والی یې مقرر کړ .

کله چه علیمردان لکهنوتی ته ورسید ، دهغه ځای حاکم حسام الدین عوض خلجی دده ښه استقبال وکړ . او علیمردان د لکهنوتی د امارت پر مسند کښېنو ست او د لکهنوتی ټولی سیمې یې بخپل تصرف کښې روا ستې .

دعلیمردان خلجی پادشاهي :

په (۶۰۷) هجری کال چه سلطان قطب الدین ایبك وفات شو ، نوعلیمردان خلجی په لکهنوتی کښې پاچاشو ، خطبه اوسکه یې هم پر خپل نامه کړ لې .

او په سلطان علاءالدین ملقب شو .

نوموړی سلطان علاءالدین خلجی ډېر بلند خیال او مغرور سړی ؤ
له دوو کالو پاچاهۍ څخه وروسته په (۶۰۹) هجری کال وفات شو . (۱)

حسام الدین عوض خلجی :

د سلطان شهاب الدین غوری د پیاوړو عسکری افسرانو له جملې څخه یو شخص چه د سلطان له وفات څخه وروسته د پاچاهۍ مقام ته رسیدلی دی ، حسام الدین عوض خلجی دی .

د حسام الدین عوض لنډه سوانح :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غازی په هند کښې فتوحات کول او پاڅه برخه کښې د دوی فاتحې لښکرې پرمخ روانې وې . نوموړی حسام الدین عوض خلجی له پښتونخوا څخه هندوستان ته راغی او محمد بختیار خلجی ته ورغی .

حسام الدین عوض چه یو معروف غښتلی او توریالی شخص و ، نو محمد بختیار د ده له تقاضا او غیرتمنی سره سم په لښکرو کښې سرافسر مقرر کړ (۲) حسام الدین په دغو وختو کښې چه (پښتنو فتوحات کول) خپل شجاعت او مړانه ښکاره کړل او ښه خدمتونه یې وکړل .

---

(۱) طبقات اکبری ۲۶ مخ طبقات ناصری د هند چاپ ۱۵۸ مخ .

(۲) څرګند یږی چه محمد بختیار به عوض پیژاند چه دده په خوښه یې عسکری منصب ورکړ .

د حسام الدین عوض خلجي حکومت :

وروسته محمد بختیار بیا عوض خلجي د (کلوای) (۱) د سیمې حاکم مقرر کړ .
د محمد بختیار له وفات څخه وروسته چه قیمار رومي لکهنو ی ته راغی نو موړی عوض یې د دیو کوټ حاکم مقرر کړ .

او هغه وخت چه علیمردان خلجي د سلطان قطب الدین ایبک له خوا د لکهنو تي والي مقرر شو ، او بیا پاچا شو ، نو موړی حسام الدین عوض د هغه په نـدیمانـو او امراو کښې ؤ .

د حسام الدین عوض خلجي پاچاهي :

په (۶۰۹) هجري قمري کال چه علیمر دان وفات شو ، نو د امرا و ؤ په اتفاق حسام الدین عوض خلجي د پاچاهي پر تخت کښېنوست د لکهنوتي او بنګال د مملکت پاچا شو ، او په سلطان غیاث الدین ملقب شو .

په (۶۲۲) هجري کال د ډیلي پاچا سلطان شمس الدین التمش پر بنګال باندی یرغل راووړ ، نو موړی سلطان غیاث الدین عوض خلجي ورسره مقابله وکړه له یوی اندازی جګړی څخه وروسته د دوی ترمنځ سوله وشوه .

سلطان شمس الدین التمش بیرته ډیلي ته ولاړ او نوموړی التمش د (بهار) ولایت «ملک علاء الدین خاني» ته ورکړ د هغه ولایت والي یې مقرر کړ . (۲)

خو چه بهار له اول څخه حتی د محمد بختیار خلجي په وخت کښې د خلجیو ځای ؤ نو سلطان غیاث الدین عوض خلجي په بهار حمله وکړه بیرته یې له علاء الدین خاني څخه واخیست . د بهار والي علاء الدین خاني ، له دغه ځایه «اودد» ته د سلطان التمش زوی ناصر الدین محمود ته چه داوده والي ؤ . ورغی او هغه ته یې شکایت وکړ .

په (۶۲۴) هجري کښې د سلطان التمش زوی نوموړی ناصر الدین محمود له زیات لښکر و سره راغی پر لکهنوتي یې حمله وکړه .

---

(۱) کلوای ...

(۲) د دی ترمنځ سوله په هم په دغه ترتیب وه چه د بهار ولایت به په التمش پوری مربوط وی خو وروسته بیا سلطان غیاث الدین خلجي بیرته د بهار ولایت واخیست .

په دغه وخت کښې سلطان غیاث الدین عوض خلجي د ګامرود پر ولایت باندې لښکرکشي کړې وه او ټول قوه یې هغې خواته بیولې وه، غیاث الدین چه د ناصرالدین محمود له یرغل څخه خبرشو بیرته لکهنوتي ته راغی. او د دوی دواړو تر منځ شدیده جګړه وشوه او په دغه جګړه کښې سلطان غیاث الدین عوض خلجي ووژل شو (۶۲۵ھ) د سلطان عوض خلجي له مړینې سره په بنګال کښې د خلجي پښتنو کورنۍ پاچاهي پای ته ورسیده. سلطان غیاث الدین عوض خلجي ډېر عادل پاچا او د انصاف خاوند ؤ. وایي چه د سلطان عوض خلجي په عصر کښې سپاه او رعایا ډېر آسوده او په رفاهیت کښې وو. او له نوموړي پاچا څخه زیات حسنه آثار یادګار پاته شول. (۱)

د پښتنو د خلجي کورنۍ څخه ځینو پاچهانو په ډیلي کښې هم په ټول هندوستان باندې پاچاهي کړې ده چه له هغو څخه سلطان جلال الدین، فیروزشاه خلجي او سلطان علاءالدین خلجي ډېر نامداره او د لوړ شوکت خاوندان تیر شوي دي.

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۷۸ مخ ـ طبقات اکبري ۲۶ مخ تاریخ پښتنه دوهم ټوک ۶۴ مخ.

شمس الدين التمش معزی

شمس الدین التمش هم د بښتنانه امپراتور سلطان شهاب الدین غوری له مریانو څخه ؤ. نوموړی التمش په ځ یلی کښې له قطب الدین ایبك سره ؤ. او دغه په دربار کښې یې زیات قرب درلود.

او دده د پوره لیاقت په اثر ؤ. چه قطب الدین دی په زویوالی نیولی او د زوی مقام یې ور کړی ؤ.

د شمس الدین التمش د حکومت دوره :-

هغه وخت چه قطب الدین ایبك د «کالیور» کلا فتح کړه، شمس الدین التمش یې د کالیور، دولایت حاکم مقرر کړ.

د بداون حکومت :-

په (۵۹۹) هجری کښې چه قطب الدین ایبك بداون فتح کړ نوموړی التمش یې د بداون دولایت والی مقرر کړ.

د کهوکرانو په جګړو کښې التمش ګهون کړی او ښه توره یې وکړه:

په (۶۰۲) هجری کال چه سلطان شهاب الدین غازی د کهوکرانو د بغاوت کولو په اثر لسه هغو سره جګړه کوله، او د نوموړی سلطان د فرمان لسه امله د ځ یلی نائب الحکومه، سپه سالار قطب الدین هم له خپلو لښکرو سره د سلطان حضور ته پنجاب ته ورغی.

التمش هم د بداون، له لښکرو سره د قطب الدین په ملتیا د سلطان په حضور کښې حاضر شو.

کوم وخت چه د پښتنی لښکرو او د کهو کرانو د متمردینو تر منځ جګړې شروع شوې او دا جګړې خورا شدیدې وې، په دغو خونړیو جګړو کښې نوموړي التمش په ډیر شجاعت خپله میړانه ښکاره کړه او ښه توره یې وکړه غلیم ته یې ماتې ورکړه سلطان شهاب الدین چه د التمش دا توره او فوق العاده سربازي ولیدله، نو یې خسروانه نوازش ورکړ او وړه انعامونه یې ورکړل.

د شمس الدین التمش آزادي:

التمش اصلاً غلام ؤ، خو چه سلطان شهاب الدین غوری خپل مریان، د مریانو په څیر نه ګڼل او نه یې له هغو سره د غلامیت معامله کوله بلکه د اصیلو او خپلو خپلوانو معامله به یې له هغو سره کوله او خپل نسب بلکه خپل اولاد او زامن یې ګڼل.

حکومتي چارې یې ورته وسپارلې او په نظامي چارو کښې یې عسکري افسران مقرر کړل: لکه چه د اقول امور د هغه عصر مؤرخینو ضبط کړي دي.

د کهوکرانو په شخړو کښې چه سلطان شهاب الدین د التمش عسکري لیاقت او په جګړو کښې د هغه توره یا لیتوب او شجاعت ملاحظه ولید، نو سربیره په خسروانه نوازش، (دده د آزادۍ فرمان یې هم صادر کړ او د آزادۍ خط یې ورکړ.) او قطب الدین ته یې سپارښت وکړ چه د التمش رتبه هم لوړه کړي.

د شمس الدین التمش امیرالامرائی رتبه:

کله چه د کهوکرانو د بغاوت شخړه پای ته ورسیده او سلطان شهاب الدین د پښتونخوا پر لوري روان شو. او د ډیلی والی قطب الدین ایبك بیرته ډیلی ته راستون شو. نو قطب الدین، شمس الدین التمش ته (د امیر الامرا رتبه) ورکړه. (۱)

د شمس الدین التمش ازدواج:

شمس الدین التمش چه یو لایق او په کار پوه سړی او د ښو اجراآتو خاوند ؤ، او د قطب الدین په نظر کښې یې لوړ مقام درلود، نو قطب الدین ایبك خپله لور نوموړي التمش ته په نکاح ورکړه او نور یې هم خپل کړ. (۲)

---

(۱) ښایی د هغه عصر د امیر الامراء رتبه د اوسني عصر د صدراعظم رتبه وي.

(۲) تاریخ فرشته اول ټوك ۶۵ مخ.

دشمس الدين التمش پاچاهي :

هغه وخت چه سلطان قطب الدين ایبك وفات شو ، نـو دهغه زوی آرامشاه په دډيلي کښي د پاچاهي پر تخت کښېنوست .

خو دهغه د نالايقۍ لـه امله دډيلي امراؤو ، لکه سپه سالار امير اسمعيل او امير داؤد ، ديلمي او دحکومت نورو امراؤ ، او اعيانو اتفاق وکړ ، شمس الدين التمش ته يې چه دسلطان قطب الدين زوم او په زويوالي يې هم نيولی ؤ ، اوچه لايق او په کار بوه شخص ؤ ، او په بداون کښي حاکم ؤ ، خبر واستاوه چه ډيلي ته راشي او دسلطنت پرتخت کښېني .

شمس الدين التمش هم دهغو امراوو له مشورې سره سم له خپلو لښکرو سره له بداون ، څخه ډيلي ته راغی ، له لږې جګړې څخه وروسته ارام شاه ماتې وکړه التمش ډيلي ونيو او دډيلي پر تخت کښېنوست (۶۰۷ هـ ق) .

د سلطان تاج الدين يلدوز سره دسلطان التمش جګړه !

هغه وخت (۶۱۲هـ) چه دخو ارزم شاه لښکر چې پرغزني راغلې اوغزني يې لـه تاج الدين يلدوز څخه ونيو ، او تاج الدين يلدوز کرمان ته راغی . تاج الدين يلدوز خپلې لښکرې تیارې کړې او د هندوستان د نيولو په غرض پنجاب ته راغی او پنجاب يې قبضه کړ ، او دتهانيسر ترحدودو پورې سيمې يې ونيولې (۶۱۳هـ) .

پدې وخت کښي سلطان تاج الدين يلدوز ، سلطان شمس الدين التمش ته پيغام واستاوه اوخپل اطاعت ته يې التمش دعوت کړ .

خو سلطان شمس الدين د يلدوز پيغام ونه مانه ، او دهغه دمقابلې دپاره يې خپلې لښکرې تیارې کړې ، د يلدوز دمقابلې دپاره دتراين حدودو ته ورغی . پدغو حدو دو کښي ددواړو لښکرو ترمنځ جګړه ونښته . لږې اندازې جګړې څخه وروسته د يلدوز لښکرو ماتې وکړه او پخپله تاج الدين يلدوز له خپلو افسرانو سره دسلطان التمش په لاس ورغلل تاج الدين يلدوز يې بندي کړ ډيلي ته يې راووست ، او له هغه ځای څخه يې بداون ته بندي واستاوه ، په بداون کښي يې بندي کړ . خو په بندي خانه کښي وفات شو . (۱)

---

(۱) تاريخ فرشته اول ټوک ۶۵ مخ

له سلطان ناصر الدین قباچه سره د سلطان شمس الدین التمش جگړه:

په (٦١٤) هجري کال دسیند او ملتان پاچا، ناصر الدین قباچه د پنجاب د نیو لو په غرض لاهور ته لښکرې راوستې. د ډیلي پاچا شمس الدین التمش هم خپلې لښکرې تیارې کړې د قباچه مقابلې ته ورغی. او د (چناب) دسیند پرغاړه د (منصوریه) په حدودو کښې د دغو دواړو پاچهانو د لښکرو ترمنځ جگړه پېښه شوه او په دغه جگړه کښې هم د ډیلي پاچا التمش فاتح شو او قباچه بیرته خپل مرکز ته ولاړ.

او په (٦١٥) هجري کال د غزنی د سیمو د خلجي پښتنو ځینې اولسونه چه له غزنی څخه د سیند سیمو ته راغلي وو، او د سیند ځینې سیمې یې نیولې وې. او سلطان ناصر الدین قباچه پر دغو خلجیو پښتنو باندې لښکر کشي وکړه او هغوی یې مات کړل د خلجیانو مشران ډیلي ته ولاړل سلطان شمس الدین التمش ته یې پناه وروړه.

سلطان التمش د هغو په مرسته د ملتان پر پاچا ناصر الدین قباچه باندې لښکر کشي وکړه د دواړو خواوو ترمنځ له لږو جگړو څخه وروسته ناصر الدین قباچه ماتې وکړه او چه ښار سلطان التمش قبضه کړ. قباچه خپل زوی علاء الدین دالتمش حضور ته واستاوه سوله یې وغوښته. وایي چه پخپله قباچه په دریاب کښې په بېړیه کښې سپور شو او کومې خواته روان ؤ، چه بېړیه یې په اوبو کښې ډوبه شوه او غرقه شوه او د قباچه مملکت او پاچاهي دالتمش لاس ته ورغلل (١)

له دغه وروسته د سلطان شمس الدین التمش قوت او قدرت ورځ په ورځ زیاتیدو په پای کښې د ټول هندوستان پاچاهي د ده شوه او په ټول هند کښې سکه او خطبه د ده پر نامه شوې.

په (٦٣٣) هجري کال د شعبان په ٢٠ نیټه سلطان شمس الدین التمش په ډیلي کښې وفات شو او د قوت الاسلام د مسجد په دائره کښې دفن شو. (٢)

دالتمش په ځوځات کښې دهندوستان پاچاهي:

له سلطان شمس الدین التمش څخه وروسته دهندوستان پاچاهي دنو موړي التمش ځوځات ته ورسیده، او تر (٦٦٤) هجري پورې دټول هندوستان پاچاهي دده په ځوځات کښې پاته شوه.

---

(١) تاریخ فرشته اول ټوک ٦٥ مخ

(٢) ډیلي د پښتنو په وختو کښې ١٠ مخ

او دا لتمش زوی سلطان ناصرا لدین پههندو ستان کښی یـو مشهور باچا تیر شوی دی . (۱)

زموږ فاضل مورخ علامه منهاجا لسراج جوز جانیٔ د طبقا ت ناصر ی کتا ب دمحمدغه باچا پهعصر کښی اودده په نامه لیکلی دی .

وایی دا باچهان چه دسلطان شهاب الدین لهامراوو څخه وو ، او له ده څخه وروستهیی باچاهی کړیدی هریوه بهخطبه کښی دمرحوم سلطان شهاب الدین غازی نوم یاداوه . (۲)

---

(۱) تـاریخ فـرشته اول ټـوک ۷٤ مـخ
(۲) طبقات اکبری .. مخ

بهاءالدین طغرل :

تردې ځایه پورې مود سلطان شهابالدین غوری دهغو افسرانو او امراو بیان وکې چه له دوی څخه و رو سته سلطنت ته هم ر سیدلی دی .

او بهاءالدین طغرل چه د نوموړی سلطان په امراوو ، کښې ډیرمهم شخص ؤ ، او په هندوستان کښې یی ښه نوم پری ایښی دی ، تاریخی آثار ور څخه پاته دی او د هند تاریخونو ور څخه بحث کړی دی .

او سربیره پردې د پښتنو دهغه عصر یو مهم تاریخی شخص ؤ .
نو په مختصر ډول دهغه داحوالو څخه هم بحث کوو .

بهاءالدین طغرل د سلطان شهاب الدین له امراو و څخه ؤ ، او نوموړی د ښه استعداد او پوره لیاقت خاوندؤ .
هغه وخت چه سلطان دهندوستان په فتوحاتو مصروف ؤ ،

نوموړی بهاءالدین دسلطان غازی په لښکرو کښې یو لایق عسکری افسرؤ .
سلطان چه د (بهیانه = بیانه) (۱) و لایت او د (تهنګر) کلا فتح کړل .
سلطان شهاب الدین ، بهاء الدین طغرل د هغه و لایت حاکم مقرر کړ ، او یوه اندازه عساکر یی هم ده ته ورکړل .

نوموړی بهاء الدین زیات پوه او لایق شخص ؤ ، سمد ستی یی د هغو سمو په و دانولو او اعمار پیل وکړ ، هغه سیمې یی ښې آبادې کړې .

او د هغو سیمو زراعت او اقتصادی اموریی ښه سم کړل او د هغه ځای د تجارت په باب کښې یی ښه کوښښ وکړ . او د خلکو دارامی او اسوده ګۍ دپاره یی پوره توجه وکړه .

د نوموړی بهاء الدین د دغو ښو اقدامونو اوازه په هندوستان

---

(۱) په طبقات ناصری کښې د دغه ولایت نوم بهیانه لیکلی دی او په تاریخ فرشته کښې د هغه نوم (بیانه) لیکلی دی .

او په خراسان کښې خپره شوه نو له دغه امله دهندوستان له اطرافو او دخراسان اوغزنی له خواوو څخه تجار او نور زيات خلک د بهيانه ولايت ته راغلل . وائی بهاءالدين طغرل دغو خلکو ته چه دده ولايت ته راغلل ډولو ته کورونه او محلی ورکړې او د هغو دژوندانه دتامين وسائل ئی برابر کړل. له همدغه امله دغه ولايت ته ډير خلك ورغلل او دده زور او قوت هم ډېر زيات شو .

دسلطان کوټ ودانول :

چه د تهنکر د کلا آب وهوا ددوی دعسا کرو دپاره مساعده اوموافقه نه وه نو بهاءالدين طغرل د بهيانه په ولايت کښې د (سلطان کوټ) په نامه نوی ښار ودان کړ . دحکومت دعسا کرو ، د اوسيد نې دپاره يی په هغه ښارکښې مرکز او مستحکمې کلا گانې جوړې کړې (۱) سلطان شهاب الدين چه هندوستان فتح کړ اوځای پرځای يی مهمې ودانې وکړې ، دسلطان کوټ نوی ښار چه نوموړی طغرل ودان کړ داهم دسلطان شهاب الدين غوری اود پښتنو له يادگارونو څخه دی چه د نوموړی سلطان په عصر کښې په هند کښې جوړ شوی دی .

د کاليور د کلا دفتح کولو دپاره د بهاءالدين طغرل کوششونه :

سلطان شهاب الدين چه بهاءالدين طغرل د بهيانه دولايت والی مقرر کړ او دده ته يی امرو کړ چه د کاليور کلا فتح کړه .

په دغه وخت کښې چه نوموړی سلطان په هند کښې ؤ ، د کاليور د کلا په باب کښې يی معلومات وکړل او ورته څرگنده شوه چه هغه يوه زياته مستحکمه جنگی کلاده او دهغه فتح کول زيات کوښښ او ډېر گالل غواړی . نوئې بهاءالدين طغرل ته امرو کړ چه په هرقيمت وی دا کلا بايد فتح کړې .

د سلطان دامرېې په اثر طغرل هم خپل فوځ تيار کړ او پر کاليور باندې ئی يرغلونه شروع کړل . طغرل ته چه ددغې کلا استحکام او کلکوالی معلوم شو پوهيد چه دا کلا يوازې د عسکری يرغلونو له لياری نشی فتح کيدای نوئی دا سې تد بير وکړ هغې کلاته يو فرسخ نيژدې ئی دخپلو عساکرو او داوسيدنې دپاره يو مستحکم کوټ ودان اوجوړ کړ او د عساکرو داوسيدنې دپاره يی پکښې ترتيبات و نيول .

(۱) طبقات ناصری دکابل چاپ ٤٩٤ مخ

له هغه وروسته نو طغرل پرهغې کلا باندې پر له پسې پرغلونه شروع کړل د شېې له مخې به خپل کوټ ته راتلل او دورځې به يې د کا ليور پر کلا باندې حملې کولې خود کاليور جنګي حصار د ومره محکم ؤ، چه پرهغه باندې د بهاءالدين طغرل حملو پوره يو کال دوام وکړ اونه شو فتح .

څو په نيتيجه کښ د هغه ځای خلك لهوږی اوږدې محاصرې څخه په تنګ شول او له بهاءالدين سره د زياتې کينې له مخې اويا له هغه څخه د ډار او ترس له امله نو مومړی طغرل ته تسليم نه شول. د ډيلی نايب قطب الدين ايبك ته يې استازی واستول چه موږ به تا ته تسليم شو.

قطب الدين هم د هغوی د اخبره ومنله او له يو کال جګړو او محاصرې څخه وروسته د کاليور کلا د ډيلی د آمر قطب الدين په لاس کښ ولويده (۰۰۰ هـ).
وائی چه په دغه اثر د قطب الدين ايبك او بهاءالدين طغرل ترمنځ خپګان او دښمنې پيدا شو.

او وائي چه بهاءالدين طغرل خورا لايق او پوه سړی ؤ، او له ده څخه په بهيانه کښ ډېر آثار پاته شوی دی.
بهاءالدين طغرل په همدغه ځای کښ وفات شو. (۱)

---

(۱) طبقات ناصری د کابل چاپ ۴۹۵ مخ تاريخ فرشته اول ټوك ٦٤ مخ طبقات اکبری ۳۲ مخ

په هندوستان کښې د سلطان

شهاب الدین غوري د عصر تاریخي یادګارونه :

سلطان شهاب الدین غوري چه هندوستان فتح کړ، ځني بناګاني یې هلته کړي دي چه له دوي څخه ورو سته د یادګار په ډول پاته دي.

که څه هم په هر وخت کښې چه د نوموړي سلطان لخوا ټول هندوستان فتح شو په هغه برخه او په هر ځای کښې مهمې و داني او مهم اسلامي اساسونه وضع شول چه ټولو مورخینو له هغو څخه بحث کړي دي. خو دلته د نمونې په ډول د هغو له جملې څخه د ځینو مهمو آثارو یادونه کوو.

اول : فیروزي مدرسه :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غازي، د (اچه) ښار او هغه ولایت فتح کړ نو د دغې فتح او یریا لیتوب په مناسبت یې په دغه ښار کښې د (مدرسه فیروزي) په نامه یوه لویه علمي اسلامي مدرسه جوړه کړه او علما یې پکښې مقرر کړل چه اسلامي او نور علوم به پکښې تدریس کیدل.

لکه چه منهاج سراج جوز جاني لیکي :

هغه وخت چه د ملتان او اچه د پاچا سلطان ناصرالدین قبا چه په دوره کښې زه ملتان او اچه ته ورغلم. نوموړي سلطان قبا چه « مدرسه فیروزي » ما ته وسپارله. (۱)

دوهم : د سیالکوټ کلا :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین د پنجاب د فتح کولو په عزم هغې خوا ته لښکر کښې وکړه او د پنجاب ځینې برخې یې فتح کړې لې نو د «راوي» او «چناب» د سیندونو تر منځ

---

(۱) طبقات ناصري د کابل چاپ ۴۹۴ مخ.

یوه محکمه عسکری کلا جوړه کړه چه ددوی دعساکرو دپاره مستحکم کوټ ؤ. او د (سیال کوټ) په نامه‌یی ونوموله او زیات عساکر په هغې کښې ځاییدل . او سپه سالار حسین خرمیل، یی له زیاتوعساکرو سره په هغې کلاکښې واچول . (۱) اوداً دسیال کوټ نوم ډیری پېړی وروسته پاته‌شو چه تراوسه لاهم دانوم شته او هغه سیمه په دغه نامه موسومه شوې ده .

دریم : دقوت الاسلام مسجد :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین ډیلی فتح کړ. نو دډیلی په مهرولی نومی ځای کښې یی دمسلمانانو دفتح اوظفر په یادگار د(قوة الاسلام) په نامه یومسجد ودان کړ. او دامسجد تر اوسه پوری لاودان پاته دی او په هر عصرکښې اسلامی پاچهانو په تیره پښتنو پاچهانو هغه مسجد چه داسلامی دوری ډومبنی یادگارؤ. محفوظ اوپسی ودان کړی دی . (۲)

وایی چه سلطان شمس الدین التمش چه له سلطان شهاب الدین غازی اوسلطان قطب الدین ایبك څخه وروسته دریم پښتون پاچا ؤ، ددغه قوة الاسلام، دمسجد په دائره اوصحن کښې مدفون دی . (۳)

څلورم : مدرسهٔ معزی :

هغه وخت چه سلطان شهاب الدین غازی ډیلی فتح کړ. نو موږی سلطان دنورو اسلامی شعائرو په جمله‌کښې د(مدرسهٔ معزی) په‌نامه یوه لویه اسلامی علمی مدرسه جوړه اوتاسیس کړه . او دسلطان رضیه تروخته پوری او له هغه وروسته هم دا مدرسه چه دنوموړی سلطان یادگار اوداسلامی ترقی نخښه وه ودانه وه . (٤)

---

(۱) طبقات ناصری ٤٦٧ مخ تاریخ فرشته اول ټوك ٥٦ مخ .

(۲) طبقات ناصری ٥٣٩ مخ .

(۳) ډیلی دپښتنو په وختو کښې ۹ ــ ۱۰ مخونه .

(٤) تاریخ فرشته ..... مخ .



دقطب مینار   په هندکی د سلطان شهاب الدین غوری د عصر تاریخی یادګار

پنځم : د قطب مینار :

دقطب مینار د سلطان شهاب الدین غوری دقول هندوستان دفتح یادګار دی -
او ددغه مینار بنسټ د نــوموړی سلطان دسپه سالار قطب الدین ایبك پــه لاس چه
په ډیلی کښی دده نائب ؤ. ایښود شوی دی . او په (قطب مینار) یی موسوم کړی دی .
دقطب مینار جهانی شهرت لری او دنړی داوو تاریخی اعجوبو له جملی څخه
یی ګڼی. دنړی اوه اعجوبی دادی :

دقطب مینار، په ډیلی کښی، دآیا صوفیه مسجد په اسکندریه کښی دالحمرای
ماڼی په اسپانیا کښی، دالطارق دعصر. دمصر اهرامونه، دایفل برج، په پاریس
کښی، دعراق معلقی باغیچی، تاج محل، په اګره کښی . دقطب مینار په هند کښی
دسلطان شهاب الدین غازی په عصر کښی دپښتنو دبرم تاریخی یادګار دی .
په مجله عرفان کښی لیکی :

په ۵۹۰ هجری کــال هغه وخت چه دالښار دسلطان معزالدین غوری دلښکرو
له خوا فتح شو، نوقطب الدین معزی پــه اول کښی دلمانځه دآذان کولو دپاره
(دقوة الاسلام دمسجد دآذان کولوځای) دامینار جوړ کړ. او د۱۳ کیلو مترو په
واټن دډیلی جنوبی خواتــه دی . او ددغه مینار جګوالی (۳۳۸) پوټــه دی . او
دهغه ګومبزه پــه ۱۸۰۳ ع کښی دانــګلیسانو دراتلو پــه وخت کښی خرابه او
ونړیده، اوځینی روایات داسی دی چه په ۱۳۷۸ ع کښی دمینار یوه برخه دصاعقی
په اثر ونړیده . (۱)
په تاریخ هند کښی لیکی :

دقطب مینار ډیر مجلل برج دی. چه ډیلی ته نیژدی قطب الدین ایبك جوړ
کــړی دی . دا مینار استوانیلی شکل لــری . لــه رملی قرمز ډبرو څخه جوړ
شوی دی . او پــر هغه باندی ځای پر ځای لیکنی او دقرآن کریم آیاتونــه
لیکلی دی . (۲)
په ډیلی دپښتنو په وختو کښی لیکلی دی :
دقطب مینار دغوری پښتنو یو دا ډول یادګار دی چه په نړیه کښی زیات شهرت
لری. دامینار دمغولی او پرنګی دډیلی ګانو څخه (۱۱) میله لیری پروت دی .

---

(۱) مجله عرفان ٦ ګڼه ۱۳۳٦ ش .
(۲) تاریخ هند ۹٦ مخ .

وایی : دامینار اوه طبقی جګ ؤ. اوس له هغوڅخه یواځی پنځه طبقی پاته دی.
او په اوسنی حال کښی دا مینار (۲۳۸) پوڅه جګوالی لری. او کښتنی خوابی (٤۷) پوڅه او پورتنی خوابی (۹) پوڅه پلنوالی (قطر) لری. لومړی دغه په ودانولو قطب الدین ایبك پیل کړی دی . او له قطب الدین ایبك څخه وروسته دده زوم سلطان شمس الدین التمش ددغه مینار نور پاته پړونه تکمیل کړل .
او په ۱۳۵۱ ع کښی سلطان فیروز شاه تغلق او په ۱۳۸۸ کښی سلطان بهلول لودی دا مینار ترمیم کړ .

او ددغه مینار په هر پوړ کی ډول ډول نقشونه شوی دی، او په لومړی طبقه کښی یی د قرآن کریم آیاتونه کښل شوی دی .
او ددغه مینار لومړی طبقه (۱۵٦) زینی او دوهمه طبقه یی (۷۸) زینی او دریمه طبقه یی (٦۲) زینی او څلورمه او پنځمی طبقی یی هره یوه پنځوس پنځوس زینی لری .

او ددغه مینار په دوهمه طبقه کښی د سلطان شمس الدین التمش د نامه کتیبی هم په عربی حروفو په دې ډول کیندلی دی :
(امر باتمام هذه العمارة الملك المؤید من السماء شمس الحق والدین ایلتمش الناصر، او په بل ځای کښی لیکلی دی :

السلطان الاعظم .... ابوالمظفر... ایلتمش سلطانی... (۱)
د مجلهٔ مارچ آف انډیا ۱۹٦۰ ع کال ٦ ګڼه کښی لیکی :
د قطب مینار په جوړولو قطب الدین ایبك شروع کړې ده، ځکه چه دده بادار معزالدین محمد سام چه ډیلی و نیوه نو دوی ددغی خوشالی په ویاړ دغه کارته اقدام وکړ .

---

(۱) ډیلی د پښتنو په وخت کښی ۱۱ ـ ٥٦ مخونه .

دقوة الاسلام مسجد او دقطب منار په ډیلي کښې لومړني اسلامي تعمیرونه دي. دقطب منار له ودانولو څخه لوی مقصد او غایه داوه چه دآذان کولو دپاره ډیر اوږد ځای جوړ کړی چه له دغه ځای څخه دآذان غږ لیری ورسیږی او مسلمانان دلمانځه لپاره خبر شي.

دقطب منار، دقوة الاسلام دمسجد یوه الحاقیه ده.

ابن بطوطه دغه مسجد او منار هغه وخت لیدلي ؤ، چه هندته یې سفر وکړ او یادی باره کښې یې لیکلي دي:

دقوة الاسلام مسجد او دقطب منار، په ۱۱۹۳ ع کښې دمحمد سام دعالي رتبه قوماندان قطب الدین ایبك په ذریعه ودان شوي دي. او په هند کښې دمحمد یانو دلمانځه لومړنی ودانی دی، او په ۱۱۹۷ کښې تکمیلي شوی دی. (۱) پای

ثابت ۱۳٤۲

---

(۱) مارچ آف انډیا ٦ گڼه ۱۹٦۰ ع.

ددې کتاب فهرست :

165

مضمون	مخ

مضمون	مخ

مضمون	مخ

ددې کتاب ماخذونه:

په دې کتاب کښې چه هره موضوع او هر مطلب بیان شوی دی په هغه مخ کښې د هغه ماخذ ته اشاره شوې ده او د هغه ماخذ صفحه هم تعین او نمره یې لیکلې شوې ده.

او کوم ماخذونه چه د دې کتاب په لیکلو کښې ورځنه استفاده شوې ده دا دی:

۱: آریانا دائرة المعارف.

۲: آئینهٔ عرفان.

۳: دائرة المعارف فرید وجدی.

٤: طبقات ناصری.

٥: تاریخ فرشته.

٦: طبقات اکبری.

۷: المنجد.

۸: برهان قاطع.

۹: فرهنگ نظام.

۱۰: پټه خزانه.

۱۱: رهنمای بامیان.

۱۲: قاموس جغرافیائی افغانستان.

۱۳: تاریخ کامل.

۱٤: روضة الصفاء.

۱٥: خورشید جهان.

۱٦: جامع التواریخ.

۱۷: حیات افغانی.

۱۸: خلاصة التواریخ.

۱۹: افغانستان.

۲۰: تعلیقات طبقات ناصری.

سهون پاڼه

مخ	کرښه	ناسم	سم
۳-	۱۸	دده کورنی	دده د کورنی
۶-	۱۲	دری سر	دری سری
۱۳-	۱۰	بیوراسپ	بیور اسپ
۱۴-	۱۸	با حتری	با ختری
۲۳-	۱۴	خرسانی	خراسانی
۲۵-	۷	نه نمانه	نه مانه
۲۷-	۱۰	گز بو	گز یو
۲۹-	۲۶	زړو	زړور
۳۰-	۲۵	جودښت	جوړښت
۳۱-	۱	کړوړ	کروړ
۳۶-	۱۱	ساخی	سخی
۳۸-	۷	ورم	ورته
۳۸-	۲۰	ډیره	ډبره
۳۹-	۲۰	لیای	لیاری د
۴۲-	۷	انگشتوانه	انگشتوانه را
.۲-	۹	کیشد	کشید
۴۲-	۱۵	مخ	منغ
۴۴-	۵	از دبن	ازدین
۴۷-	۱۱	ار دغوری	او د غوری
۵۱-	۱۸	کنبیودل	کیښودل
۵۳-	۱۶	نیو لیو	نیو لو
۵۶-	۸	راسید لو	رسید لو

مخ	کرښه	ناسم	سم
-۸۸	۲٤	(۱)	(۳)
-۹۰	۵	په بڼه	په بقه
-۹۰	۱۳	بحر و پر	بحر و بر
-۹۱	۲	هدیره که	هدیره کی
-۹۲	۲۱	عزاراً	اعزازاً
-۹٤	۹	هندوستان	دهندوستان
-۹۷	۱۵	مؤبدالملك	مؤیدالملك
-۹۸	٤	څاو دده	چه دده
-۹۹	۱٤	منشورونه	منشورونه
-۹۹	۱٤	دوې سره یی	دوی یی
-۹۹	۲٤	پری	پر دی
-۱۰۰	۱۷	په او هغه	او په هغه
-۱۰۱	۳	غیرو	غرو
-۱۰۱	۱۳	داورقی	راورقی
-۱۰۱	۲٤	د شلوزان	دشلوزان دره
-۱۰۲	۱۲	کوری	کرمې
-۱۰۳	۱	شنوان	شنوران
-۱۰۳	۵	تاج الدین	دتاج الدین
-۱۰٤	۸	(۳)	(۲)
-۱۰٤	۱٦	حکومت	حکومتو
-۱۰۵	۲۳	فلمرو	قلمرو
-۱۰٦	۲۰	(۱)	(۲)
-۱۰۸	۱۵	زورو	زورورو
-۱۱۰	۸	له برخه	په برخه
-۱۲۱	۳	کابی	کالپی

دمطبوعاتو وزارت

دآثار اوهنر دتشویق عمومی مدیریت

دولتی مطبعه